

# په افغانستان کې له بندیانو سره چلند

## د بشري حقونو درناوی: د باور یو فکتور

د ۲۰۲۳ کال سپتمبر

ملګري ملتونه

# په افغانستان کې له بندیانو سره چلند

## د بشري حقونو درناوی: د باور یو فکتور

د یوناما د بشري حقونو څانګه، ۲۰۲۳

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ځانګړي توګه د ملګرو ملتونو
د امنیت شورا د ۲۰۲۳ کال د مارچ ۱۶مې نیټې، ۲۶۷۸ پریکړه لیک پر بنسټ، د یوناما
د بشري حقونو څانګه، چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنرۍ
استازیتوب هم کوي، مأمور شوی چې په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د څارنې،
راپور ورکولو او مدافعې په برخو کې د مأموریت چارې سرته رسوي.

© یوناما
کابل، ۲۰۲۳

ملګري
ملتونه

# د مطالبو فهرست


**د راپور لنډیز........................................................................ ۳**

**د دې راپور په اړه........................................................................ ۱۰**

**میتودولوژي........................................................................ ۱۱**

**په بند کې ناوړه چلند او شکنجه........................................................................ ۱۲**

د تطبیق وړ چوکات........................................................................ ۱۲

د نیولو پر مهال شکنجه او د قوې ناقانونه کارونه........................................................................ ۱۵

په بند کې شکنجه او ناوړه چلند نور شکلونه........................................................................ ۱۸

په بند کې مړینې........................................................................ ۲۴

د انفرادي حبس کارونه........................................................................ ۲۶

**د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي اجرايي تضمینونه........................................................................ ۲۸**

د تطبیق وړ چوکات........................................................................ ۲۸

د نیونې لاملونو په اړه معلومات........................................................................ ۲۹

د حقونو په اړه معلومات........................................................................ ۳۱

مدافع وکیلانو ته لاس رسی........................................................................ ۳۲

د کورنۍ خبرول او له هغې سره اړیکه........................................................................ ۳۵

ډاکتر ته لاس رسي او پر وخت طبي معاینات........................................................................ ۳۸

د بې طرفه قاضي په وړاندې په چټک ډول د حاضرولو او د بند د قانونیت د ننګولو حق........................................................................ ۴۱

د سکوت حق – له قضايي اجراآتو څخه د جبري شواهدو حذفول........................................................................ ۴۴

**شکایتونه، د څارنې میکانیزمونه، تحقیقات او حساب ورکونه........................................................................ ۴۹**

خپلواک بهرني میکانیزمونه........................................................................ ۴۹

داخلي میکانیزمونه........................................................................ ۵۱

تحقیقات او حساب ورکونه........................................................................ ۵۲

**کلیدي موندنې او ملاحظات........................................................................ ۵۶**

**د افغانستان *برحاله* چارواکو لپاره سپارښتنې........................................................................ ۵۹**

**لومړۍ ضمیمه- حوالې........................................................................ ۶۳**

**دویمه ضمیمه- په افغانستان کې له بندیانو سره د چلند په اړه د یوناما دفتر د بشري حقونو د څانګې د راپور مسودې ته د ا.ا.ا د *برحاله* بهرنیو چارو وزارت ځواب........................................................................ ۷۰**

# د راپور لنډيز

**دغه راپور هغه مونډنې وړاندې کوي چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) له خوا د هغو سرغړونو په اړه مستند شوې چې د ۲۰۲۲ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۳۱ نېټې پورې په ۱۹مياشتنۍ موده کې د *برحاله* کورنيو چارو وزارت (د *برحاله* پوليسو په نظارت خونو) او *برحاله* د استخباراتو لوی رياست په توقيف ځايونو، او دغه راز د *برحاله* زندانونو د چارو د سمون اداري په ولايتي محبسونو کې رامنځ ته شوي.**

په دغې موده کې، يوناما د *برحاله* چارواکو له خوا د خلکو د نيونې او تر هغې وروسته د توقيف په تړاو له بشري حقونو څخه ۱۶۰۰ **نه زياتې سرغړونې مستند کړې** چې ۱۱ سلنه يې د ښځو اړوند دي. **۵۰ سلنې څخه کم يې يوازې د شکنجې او نورو ظالمانه، غير انساني يا سپکاوی څخه ډک چلند** يا سزا (له دی وروسته ناوړه چلند) اړوند اعمال تشکيلوي. دا د افغانستان د ۳۴ ولايتونو له جملې په ۲۹ هغو کې پېښې شوي.

د يادونې وړ ده چې **يوناما د نيونې او توقيف ځای ته د لېږدونې پرمهال د سرغړونو ۳۵۶ باوري مورده مستند کړي** چې زياتره هغه يې د نيول شويو کسانو له فزيکي ډبولو او سترګو تړلو سره مل شکنجه او نور ناوړه چلند تشکيلوي. له دغو مواردو ۱۷۷ هغه *برحاله* پوليسو او ۱۷۹ هغه *برحاله* د استخباراتو لوی رياست ته د منسوبونې وړ دي. دا د تيريو، وهلو ټکولو او تهديدونو د نږدې ۲۰۰ هغو موردو څخه جلا دي چې يوناما مستند کړي او د *برحاله* امنيتي چارواکو لخوا د توقيف ځايونو څخه د باندې رامنځ ته شوي، د مثال په ډول د عملياتي فعاليتونو پرمهال لکه په چيک پاينټونو کې، د ګزمې کولو پرمهال، يا د اخلاقي معيارونو د غير مجاز ځانګړي تطبيق له لارې.

د هغه اشخاصو په اړه چې د *برحاله* امنيتي چارواکو او *برحاله* محبس چارواکو په توقيف کې وو، يوناما **د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو شکلونو ۴۶۶ باوري موارد** مستند کړي. د دغو مواردو له جملې ۱۷۰ هغه يې *برحاله* پوليسو، ۲۹۱ هغه يې *برحاله* د استخباراتو لوی رياست، او پنځه هغه يې *برحاله* محابسوچارواکو ته منسوب شوي. ياد شوي موارد له راتلونکو هغو تشکيل شوي:

- ۲۵۹ مورده هغه اعمالو ته مشمول دي **چې د فيزيکي کړاو سبب ګرځيدلي**، چې په منظم ډول د اجباري اعترافونو يا نورو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره کارول شوي. په دغو کړنو کې وهل ډبول، همدارنګه د ساه بندولو موارد، له چت څخه راځوړندول او برېښنايي ټکانونه شامل دي. د دغو له جملې، د شکنجې ۹۵ مورده *برحاله* پوليسو، د شکنجې ۱۶۲ مورده *برحاله* د استخباراتو لوی رياست، او دوه هغه يې *برحاله* محابسو چارواکو ته منسوب شوي[1]؛ او
- **د ذهني کړوا اړنګو اعمالو** ۲۰۷ مورده چې د توقيف او اجباري تحقيق په شرايطو کې شکنجه ګڼل کيدای شي. په دې کې مرکه ورکوونکو يا د هغوی د کورنيو غړو ته د وژنې ګواښونه او د توقيف پر مهال يا د اجباري تحقيق په اوږدو کې د اوږدو مودو لپاره د توقيفيانو د سترګو يا د هغوی د بدن د تړلو په څېر کړنې شاملې دي. ۷۵ مورده يې *برحاله* پوليسو، ۱۲۹ *برحاله* د استخباراتو لوی رياست ته، او درې مورده يې د *برحاله* محابسو چارواکو ته منسوبيږي.[2]

---

[1] يوناما دغه راز ۳۴ نور موارد مستند کړي چېرې چې مرکه ورکوونکي د ښکيل مشخص لوري په معلومولو نه وو توانيدلي.

[2] يوناما ۵۳ نور موارد مستند کړي، چېرې چې مرکه ورکوونکي نه دي توانيدلي چې مسؤول چارواکي معلوم کړي.

یوناما همدرانګه **په توقیف کې د افرادو د مړینې** ۱۸[۳] مورده مستند کړي، چې له دې جملې پنځه یې د *برحاله* پولیسو په توقیف، ۱۱ یې *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست په توقیف، دوه یې د محبس په توقیف کې رامنځ ته شوي (دوه وروستني موارد ناوړه چلند او شکنجې ته شامل نه دي).[٤] دا د *برحاله* امنیتي مسؤولینو په ګډون د *برحاله* چارواکو له خوا د ترسره شویو ګڼ شمېر هغو صحرایي وژنو څخه جلا دي کوم چې د نظارتي بند له سیاق څخه بهر رامنځ ته کېږي. په ۱۸ قربانیانو کې، شپږ د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي، شپږ د نورو مخالفو وسله والو ډلو واقعي یا مشکوک غړي (چې ځان د ملي مقاومت جبهې یا د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله بولي)، او شپږ کسان چې د پام وړ ډلو سره نه وو تړلي، شامل دي.

د انفرادي حبس په تړاو، یوناما په انفرادي حبس کې د افرادو د ساتلو ۱۹ مورده مستند کړي (درې هغه یې د *برحاله* پولیسو، او ۱۶ هغه یې د *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست له خوا) چې یو هغه یې د *برحاله* استخباراتو په لوي ریاست کې تر ۵۰ ورځو پورې رسیږي، چې جدي اندېښنې را ولاړې کړي **او منع شوی اوږد مهاله انفرادي حبس او شکنجه تشکیلوي.**

د اجراآتي تضمینونو په تړاو، یوناما په توقیف کې **د مرکه ورکوونکو له قضایي بنسټیزو حقونو څخه پراخې سرغړونې** مستندې کړي. له قضایي حقونو څخه هره سرغړونه د نا مستند شوې شکنجې او تیریو د خطر له زیاتېدو سره مرسته کوي او د *برحاله* اداري په محکمو کې د عادلانه محاکمې حق په منفي ډول متاثر کولی شي. په دې کې راتلونکي موارد شامل دي:

- د نیونې پر مهال **د نیونې د لامل پر پوهېدو** له حق څخه د سرغړونې ۱۴۰ مورده (۷۳ *برحاله* پولیس/ ۶۷ *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته منسوب شوي)؛
- داسې هیڅ مورد نه و چېرې چې مرکه ورکوونکی توقیف ته د داخلیدو پرمهال **په توقیف کې له خپلو بنسټیزو حقونو خبر شوی وي؛**
- ۲۷۱ موردو کې مرکه ورکوونکي ته د خپل د خوښې د **مدافع وکیل ته د لاسرسي حق** په اړه خبر نه وو ورکړل شوی **او مدافع وکیل یا حقوقي مرسته یې** د نیونې له پیل څخه نه وه ترلاسه کړې. (۱۲۸ *برحاله* پولیس، ۱۴۲ *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست او یو مورد د *برحاله* محابسو چارواکو ته منسوب شوي)؛
- د *برحاله* پولیسو یا *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست په توقیف کې هیڅ داسې مورد نه و چېرې چې د **تحقیقاتو پرمهال یو مدافع وکیل حاضر وي؛**
- **کورنیو ته د خبر ورکولو یا له هغوی سره د اړیکې** له حق څخه د سرغړونې ۲۵۶ موارد (۸۳ *برحاله* پولیس / ۱۷۳ *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته منسوب شوي)؛
- داسې کوم مورد نه و چېرې چې مرکه ورکوونکو منلې وي چې د *برحاله* پولیسو یا *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست په توقیف کې محبس ته د داخلولو یا د تحقیق پرمهال دې د بدني معاینې په ګډون **د هغوی طبي معاینه** ترسره شوې وي؛
- د توقیف پرمهال خپلواک طبي پرسونل ته د لاس رسي او **د کافي روغتیا پالنې د تر لاسه کولو** له حق څخه د سرغړونې ۸۳ مورده (۴۱ *برحاله* پولیس، ۴۰ *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست او دوه مورده د زندانونو د چارو د سمون *برحاله* اداري ته منسوب شوي)؛
- یوازې یو مورد چېرې چې یو مرکه ورکوونکی تر نیونې وروسته **سملاسي قاضي ته حاضر شوی.** په هیڅ بل مورد کې د *برحاله* پولیسو یا د استخباراتو لوی ریاست په توقیف کې یو مرکه ورکوونکی په

[۳] دا هغه غیر قضایي وژنې نه منعکس کوي چې د توقیف دورې څخه بهر ترسره کېږي.
[٤] یوناما درې نور موارد مستند کړي چېرې چې مرکه ورکوونکي نه دي توانیدلي چې مسؤول چارواکي معلوم کړي.

سملاسي ډول *برحاله* محکمې یا قاضي ته نه دی حاضر کړای شوی څو د خپل توقیف قانونیت ونګوي؛

- **اجباري اعتراف ته د نه اړ کولو له حق** څخه د سرغړونې ۸۲ مورده، چېرې چې مرکه ورکوونکو له تحقیق وروسته تر فشار لاندې اسناد لاسلیک کړي، پرته له دې چې د اسنادو له محتوا څخه خبر وي یا ورته خبر ورکړل شوی وي (۳۱ *برحاله* پولیس، ۵۱ *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته منسوب شوي). د دغو له جملې لږ تر لږه ۴۰ موردو کې، اسناد وروسته له هغې لاسلیک شوي چې مرکه ورکوونکي د تحقیق پرمهال له شکنجې سره مخ شوي. یوناما دغه ډول هیڅ مورد د شخص د توقیف پرمهال د محبس په توقیف کې نه دی مستند کړی.

د سرغړونو د پورته مستند شوي مجموعې سره سره، یوناما داسې انګیرې چې په توقیف کې د تجربه شوې شکنجې یا د ناوړه چلند نور ډولونو اندازه په پراخه کچه نه ده راپور شوې ځکه دغه راپور کې وړاندې شوي ارقام د افغانستان په هر ځای کې د هغو اشخاصو چې په توقیف کې دي د بشري حقونو څخه د سرغړونو د بشپړې اندازې یوازې یو کوچنی انځور وړاندې کوي. د ټولنې د ټولو برخو ترمنځ د تعقیب، ځورونې او تهدید د ویرې خپرې فضا، د افرادو تهدید چې په توقیف کې د خپلو تجربو په اړه څه و نه وایي، او له بند څخه د خوشې کېدو لپاره د کورنۍ غړو او دریمګړو له خوا د تضمینونو د برابرولو دپاره فشار واردول، د شکایت کولو یا په آزاد ډول له یوناما سره د اړیکې نیولو په پار د دوی یا د هغوی له کورنۍ څخه د غچ اخیستنې د وېرې له امله د زیات شمېر افرادو قصد له خنډ سره مخ کړي. د یوناما سره د روانو خبرو سره سره، توقیف ځایونو ته د غیر محدود لاسرسي نشتوالی له امله د سرغړونو د بشپړې کچې مستند کول له خنډ سره مخ کړي، په ځانګړې توګه هغه چې د *برحاله* کورنیو چارو وزارت او *برحاله* استخباراتو لوي ریاست چوکاټ کې دي.




لومړی تصویر: د اداراتو له خوا د تاوتریخوالي بیلګې

په ټوله کې، یوناما *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست (۹۵۵ مورده یا ۵۷ سلنه) او *برحاله* د کورنیو چارو وزارت ته (۷۰۸ مورده یا ټولټال څخه ۴۲ سلنه) د منسوبوني وړ لوړ شمېر سرغړونې مستندې کړي. په داسې حال کې چې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت په عام ډول د قانون د تطبیق او عامه امنیت اړوند موضوعاتو په تړاو صلاحیت لري او *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست، د افغانستان د استخباراتي اداري په توګه، پر هغو قضیو صلاحیت لري چې داخلي او بهرني امنیت اغیزمنوي، چې خیانت، جاسوسي، تروریزم او دولت ضد تبلیغ رانغاړي.

د دې په پایله کې، د هغو کسانو د ځانګړنو په پرتله کولو سره چې د *برحاله* پولیسو او *برحاله* د استخباراتو په لوي ریاست کې بندي شوي او یوناما ورسره مرکې ترسره کړې، دا څرګندوي او د هغو افرادو لوړ تناسب په ډاګه کوي څوک چې د افغانستان اسلامي جمهوریت له تېر حکومت سره کارکوونکي وو[5] یا د تړاو شک پرې شوی، که په ملکي یا نظامي برخو کې وي، یا ځانونه د اسلامي دولت – د خراسان ولایت ډلې او د ملي مقاومت

[5] له دې وروسته، د "پخواني دولتي چارواکو" اصطلاح د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پخواني حکومت چارواکو او کارکوونکو ته کارول کیږي.

جبهې غړي بولي، او دغه راز هغه کسان چې رسنيو سره کار کوي، د *برحاله* پوليسو د توقيف په تناسب د *برحاله* استخباراتو لوی رياست په توقيف کې زيات دي.

سره له دې چې يوناما ملاحظه کړې د دواړو *برحاله* پوليسو او د استخباراتو د لوي رياست په بندي خانو کې هغه چې مرکه شوي او ادعا يې کړې چې له خپلې آزادۍ څخه د محروميت پرمهال له شکنجې يا د ناوړه چلند له نورو شکلونو سره مخ شوي، ۴۴ سلنه يې هغه مرکه ورکوونکي وو چا چې له کوم لوري سره يې مشخص تړاو نه درلود؛ ۲۴ سلنه يې له ژورنالستانو او د مدني ټولنې له فعالينو څخه جوړه وه؛ ۲۱ سلنه يې د تېر حکومت کارمندان (اوه سلنه ملکي، ۱۴ سلنه امنيتي او دفاعي پرسونل) او نهه سلنه يې له وسله والو ډلو (چې ځان د ملي مقاومت جبهه/ يا د اسلامي دولت خراسان ولايت ډله بولي) سره تړاو درلود(په حقيقت کې يا دا چې داسې انګيرل شوي). دوه سلنه نور ټول د *برحاله* د استخباراتو د لوي رياست له لورى، د ذيعلاقه اشخاصو د کورنيو غړي وو چې د معلوماتو د ترلاسه کولو دپاره بنديان شوي وو.




**دويم تصوير: د هغو قربانيانو د راپورونو پر بنسټ ويشل شوی چې د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي**

په ۲۰۲۲ کال د جنوري مياشت کې د طالبانو د مشر له خوا د بنديانو د نظام د سمون طرز العمل له صادرولو او *برحاله* امنيتي ځواکونو ته د ورته ځانګړو لارښوونو سره، د بنديانو د شکنجې په اړه اندېښنو ته د رسيدګۍ دپاره په افغانستان کې *برحاله* چارواکو ژمنتيا ښرګندوي.

د ۲۰۲۲ کال له جنوري راهيسې، *برحاله* د کورنيو چارو وزارت، *برحاله* د استخباراتو لوي رياست او زندانونو د چارو د سمون *برحاله* اداره په کابل کې د بشري حقونو پر هغو ادعا شوو تيريو چې له دوې سره د يوناما له خوا شريک شوي، او د توقيف او شکنجې د مختيوې د موضوعاتو په شمول له يوناما سره تعامل کې دي. په ولايتونو کې د *برحاله* پوليسو، استخباراتو او محبسونو چارواکي په ورته ډول له يوناما د پرانستې په مختلفو درجو سره تعامل کوي. په تير کال کې يوناما د توقيف ځايونو *برحاله* رئيسانو او ساتونکو ته د نړيوالو ستندردونو په اړه يو شمير د پوهاوي د لوړولو روزنيزې غونډې د بنديانو د شکنجې او ناوړه چلند د ممنوعيت او د زور د استعمال په اړه ترسره کړې. *برحاله* امنيه قوماندانانو او *برحاله* زندانونو چارو د سمون اداري يې هرکلى وکړ او د دغو غونډو ته ارتيا او ګټې يې تائيد کړې.

سریېره پر دې، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د بندي خانو د څارنې او تیرېدو د څېړنې لپاره د بشري حقونو ریاستونه ساتلي دي، سره له دې چې تر دې دمه یې په بندي خانو کې اغیز محدود ښکاري.

د څارنې دغو داخلي میکانیزمونو ته باید کافي خپلواکي او صلاحیت ورکړل شي تر څو موثر واقع شي. په داسې حال کې چې ځینې وختونه د څېړنو اعلان کېږي، خو یوناما د داسې څېړنو د پایلو او داسې اقدام نه چې د بندیانو له حقونو د سرغړونو له امله د *برحاله* مسؤول پرسونل سره د احتساب یا له دندې څخه د هغوی د ګوښه کېدو او د عدلي تعقیب یا د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران لامل شي، معلومات نه لري.

د ناوړه چلند په وړاندې د توقیفیانو د خوندي کولو له دغو ابتدايي ګامونو سره سره، تر دې دمه یوازې یوې ادارې چې د زندانونو د چارو د سمون *برحاله* اداره ده، په افغانستان کې یو شمېر محبسونو ته د یوناما لپاره لاس رسی برابر کړی او ولایتونو کې د یوناما سره د *برحاله* زندانانو د چارواکو د تعامل زمینه تسهیلوي.

د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې د فرمان د مخې د پخوانۍ څارنوالۍ بدلول د "فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست" ته د نورو کارونو ترڅنګ *برحاله* د کورنیو چارو د وزارت او *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست په ځېر د ادارو پر څېړنیزو چارو د څار پر ډاډمنولو متمرکز ښکاري. په بدل شوی ماموریت کې د اشخاصو د احضارولو او بیا وروسته یې د توقیف د قانونیت څارنه شامله ده، *برحاله* ریاست له شبه قضايي واکونو سره د پورتنیو مواردو په اړه پریکړې ته د رسیدو صلاحیت لري، او *برحاله* ارګانونو ته د بندیانو د خوشې کولو په اړه حکمونه صادروي. دوی ته په ورته ډول دنده سپارل شوې چې د شکنجې یا ناوړه چلند مخه ونیسي او د شکایتونو د راپورته کېدو په صورت کې یې وڅېړي، "ذیصلاح سرچینو ته" حکمونه وسپاري او نورو څېړونکو ته دوسیې ولیږدوي. په داسې حال کې چې *برحاله* ریاست د پراخې کچې ماموریت ټولې "امارتي ادارې"، نظامي ارګانونه او خصوصي سکتور (د نادولتي ادارو په ګډون) رانغاړي، دا خورا مهمه ده چې *برحاله* ریاست د *برحاله* کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست څارنې ته لومړیتوب ورکړي او په توقیف کې د اشخاصو سره د شکنجې او ناوړه چلند معمول او دوامداره عمل ته د رسیدنې د یوې وسیلې په څېر په دغه راپور کې په وړاندې شویو بې شمېره سرغړونو ته رسیدګي وکړي.

د *برحاله* سترې محکمې د پوځي محکمو نقش چې د *برحاله* امنیتي چارواکو په وړاندې د شکایتونو د څېړلو واک لري، د معافیت سره د مبارزې او د هغو چارواکو د حساب ورکونې په یقیني کولو کې هم مهم دی چې د شکنجې او یا د افرادو سره د ناوړه چلند لپاره مسؤل دي.

یوناما د فرامینو او حکمونو د تعقیب او نظارت له *برحاله* لوي ریاست، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، *برحاله* د استخباراتو له لوي ریاست، د زندانونو د چارو د سمون له ادارې او همدارنګه د *برحاله* سترې محکمې سره د پورته یادو موضوعاتو په اړه د لا نور تعامل هرکلی کوي.

د دی سریېره د *برحاله* امنیتي مسؤلینو له خوا په توقیف کې د اشخاصو د بشري حقونو نه دوامداره سرغړونې د نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه او د خلکو په سترګو کې د ټولو *برحاله* چارواکو/ادارو اعتبار اغیزمنوي، بې باوري او ویره رامنځ ته کوي او *برحاله* جنايي طرزالعملونو سره مخ شوو خلکو وقار اغیزمنوي.

په راپور کې مطرح شوو موضوعاتو ته د رسیدګۍ دپاره د امنیتي ادارو د *برحاله* مشرانو په ګډون، *برحاله* د طالبانو مشرتابه باید زر تر زره د دغه راپور په پایله کې وړاندې شوې سپارښتنې په پام کې ونیسي او د بشري حقونو په نظر کې نیولو سره د قانون پلي کولو په لور ټول ضروري ګامونه پورته کړي

# د بند په جریان کی اساسي حقونو څخه مستند شوو سرغړونو ته کتنه

## د اداري پر بنسټ ویش




## د جندر پر بنسټ ویش



## د نیولو او توقیف په جریان کې د بنسټیزو حقونو څخه د سرغړونو تسلسل




* لکه مدافع وکیل ته لاسرسی، کورنۍ ته خبرتیا، د توقیف ننکونه، او چپ پاتې کیدل

# د دې راپور په اړه

دغه راپور د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه لیک په چوکاټ کې کوم چې د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) شمېره پرېکړه لیک پر بنسټ تمدید شوې، د اوسنیو موضوعاتو په اړه د افغانستان د خلکو د اندېښنې وړ بشري حقونو د موضوعي مطالعاتو د لړۍ یوه برخه ده، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا ترتیب شوې. ۲۶۲۶ شمېره پرېکړه لیک یوناما ته دنده سپارلې چې "په ملي او ځايي کچو له ټولو شریکباڼو، مدني ټولنې او نړیوالو نادولتي سازمانونو سره د ټولو افغانانو د بشري حقونو په ساتنې او ودې کې په ښکیل کیدو سره د ولسي وګړو د وضعیت، د شکنجې د مخنیوي، د توقیف ځایونو د څارنې او د بندیانو د حقونو وده وڅاري، په اړه یې راپور ورکړي او د هغوی ملاتړ او مدافعه وکړي"، او دغه راز "د بشري حقونو او بنسټیزو آزادي ګانو په تړاو د افغانستان له خوا د هغو اسنادو د احکامو تطبیق ته وده ورکړي، حمایت یې کړي او په اړه یې سلا مشوره ورکړي، چې افغانستان یې غړي هیواد دی او پر رعایتولو یې مکلف دی".[6] د دغه تعامل د یوې برخې په څېر، د افغانستان *برحاله* چارواکو ته د راپور د محتوا په اړه د واقعي تبصرو ورکولو بلنه ورکړل شوې وه او د هغوی ځواب له راپور سره ضمیمه شوی.

له هغه وخت راهیسې کله چې د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵ نېټه طالبانو واک تر لاسه کړ، یوناما خپلسرې نیونې او توقیفونه مستندوي.[7] د ۲۰۲۲ کال له جنوري راهیسې یوناما دغه راز د هغو کسانو چې د *برحاله* چارواکو په بند کې دي د شکنجې ممنوعیت او د قضا اړوند حقوقو او د بشري حقونو په نړیوال قانون کې تصریح شویو اړوندو اجراآتي تضمینونو ته د درناوی څارل او مستندول پیل کړل. د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره د دغو تضمینونو بشپړتوب ته درناوی او همدارنګه بیا وروسته د *برحاله* محکمو په وړاندې د عادلانه محاکمې د حقونو درناوی او ملاتړ ډاډمنول خورا مهم ګڼل کېږي.

دغه راپور د *برحاله* چارواکو په بندي خانو کې د اشخاصو د بشري حقونو نه سرغړونو په اړه د یوناما موندنې وړاندې کوي چې ۱۹میاشتنۍ موده کې د ۲۰۲۲ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۳۱ پورې رامنځ ته شوې. دغه راپور په ځانګړې ډول د *برحاله* پولیسو چې د *برحاله* د کورنیو چارو د وزارت تر امر لاندې دي، *برحاله* د استخباراتو د لوې ریاست چې له دی وروسته په ټولیز ډول (د *برحاله* امنیتي مسؤولینو) په نامه یادیږي او دغه راز چیرې چې د تطبیق وړ وي د زندانونو د چارو د سمون اداري د بند پرمهال له بندیانو سره پر چلند تمرکز کوي. چېرې چې شونې ده د هغو مستند شویو سرغړونو یادونه هم شوې کومې چې *برحاله* مشخصو ادارو ته د منسوبوونې وړ نه وې.

دا په افغانستان کې له آزادۍ څخه له محروم شویو کسانو د چلند په اړه د یوناما له خوا خپور شوی اووم راپور دی.[8] په داسې حال کې چې زیاتره پخواني راپورونه پر هغو بندیانو متمرکز وو چې د امنیت-او ترورېزم اړوند جرمونو په تړاو بندیان وو او دوه کلنه موده یې تر پوښښ لاندې نیوله، دغه راپور ټول بندیان پرته له دې چې د بند لامل یې په پام کې ونیول شي، تر پوښښ لاندې نیسي. له دې سره سره، د سیاق په پار، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت عامو جنایي قضیو ته رسیدګي کوي، په داسې حال کې چې *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست د افغانستان د استخباراتي اداري په توګه، پر هغو قضیو صلاحیت لري چې داخلي او بهرنۍ امنیت اغیزمنوي. په دې کې خیانت، جاسوسي، ترورېزم او دولت ضد تبلیغ شامل دي.

---

[6] د امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه لیک، عملیاتي پاراګراف ۵ (هـ)، د امنیت شورا د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) شمېره پرېکړه پر بنسټ تمدید شوی.

[7] نیونې او توقیفونه هغه مهال خپلسري ګڼل کېږي کله چې: له داخلي قوانینو سره په تطابق کې نه وي، ځکه چې په سم ډول د هغو دلایلو پر بنسټ بناء نه دي چې د قانون له خوا رامنځ ته شوي یا له هغو اجراآتو سره په تطابق کې نه دي چې د قانون له خوا رامنځ ته شوي؛ یا خپلسري په دې مانا چې په شرایطو کې دغه کړنې نامناسبې، نا عادلانه، نا معقولې، یا غیر ضروري دي. د یوې نیونې یا توقیف خپلسرتوب د شرایطو د انفرادي ارزونې پر بنسټ ولاړ دی. څرنګه چې د خپلسرتوب د معیارونو په اړه کوم جامع لیست نشته، د خپلسري توقیف په اړه د کاري ګروپ په آند، "خپلسرتوب باید د یوه توقیف د ټولو اړوندو شرایطو په رڼا کې و ارزول شي." د مثال په ډول، که چېرې یو شخص له بشري حقونو د هغوی د محرومولو په موخه توقیف شوی وي (لکه د سیاسي نظریو څرګندول یا سوله ییز لاریون) یا دغه کار پر تبعیض آمیزه دلایلو مبنی دی. د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کمیسیون، د خپلسري توقیف په اړه کاري ګروپ، ۷ شمېره مباحثه، ۱ ډسمبر ۲۰۰۴، E/CN.4/2005/6، ۵۴ (ب) پاراګراف.

[8] ټول پخواني راپورونه پر دغې انټرنېټ پاڼې د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody

# میتودولوژي

د ۲۰۲۱ د اګست په ۱۵مه افغانستان کی د طالبانو واک ترلاسه کولو سره، له یوناما غوښتنه وشوه چې له *برحاله* چارواکو سره نوي اړیکې رامنځ ته کړي. هغه [یوناما] نور د توقیف ځایونو ته غیر محدود لاسرسی نه درلود لکه څنګه یې چې د جمهوریت حکومت په وخت کی درلود. په ټولو توقیف ځایونو کې د *برحاله* چارواکو لخوا توقیفیانو ته د یوناما د نا محدوده لاسرسي په اړه بحثونه روان دي. تر دی مهاله، یوازې د زندانونو د سمون د چارو *برحاله* اداري یوناما ته په افغانستان کې یو شمېر زندانونو ته لاس رسی ورکړی.

نو په دې اساس، یوناما لاندې راپور شوې سرغړونې له هغو افرادو سره چې د امنیت او/یا د زندان د *برحاله* مسؤولینو په بند کې وو، او له اړوندو چارواکو سره د خپلو مباحثو په وسیله له ۸۰۰ څخه د زیاتو قضیو د تاییدونو له لارې مستندې کړي ، له ۱۳۰ څخه زیاتو ژورو مرکو (چې ۲۴ هغه یې ښځې وې) د ارزونو په ګډون.

په کومو قضیو کې چې معلومات په کافي اندازه کره او باوري نه دي ګڼل شوي، د دغه راپور په ارقامو کې نه دي شامل شوي.[9]

مرکه شوي اشخاص یا خو یوازې په یوه ځای کې بندي شوي، تحقیق ور څخه شوي او خوشې شوي؛ یا وروسته نورو ادارو ته لیږدول شوي یا د نورو تحقیقاتو یا له محاکمې مخکې توقیف په پار ترڅو یې دوسیه د یوې محکمې له خوا وڅیړل شي او واورېدل شي. په دې اساس، ډیری هغو کسانو چې یوناما ورسره مرکه کړې له ګڼ شمیر *برحاله* چارواکو سره په بند کې پاتې کیدل تجربه کړي، او سرغړونې په ورته ډول د بند د ګڼ شمېر دورو په اوږدو کې مستند شوي چیرې چې یې راپور ورکړل شوی چې هغه په هر یوه توقیف کې پیښې شوي. تکراري سرغړونې چې یوازې د یوې اداري په بند کې پېښې شوي، پرته له دې چې د بند مودې په پام کې ونیول شي، د سرغړونې د یوه مورد په توګه ثبت شوي، د مثال په ډول، شکنجه یا نور ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا (له دې وروسته ناوړه چلند ګڼل کېږي).

په بند کې د یوه مرکه ورکوونکي د ساتنې په پار ټولې حوالې، ځایونه او د پېژندګلوي نور فکتورونه حذف شوي، سره له دې که چېرې مرکه ورکوونکو یوناما ته په عام راپورونو کې د هغوی د بیانونو په ګډون د پېژندګلوی معلوماتو د شریکولو رضایت هم په ډاګه کړی وي.

یوناما د نړیوالو حقوقو سره سم سرغړونې مستندې کړې. د تطبیق وړ حقوقي چوکاټ په ټاکلو کې، یوناما همدارنګه د افغان قوانینو، چې د *برحاله* چارواکو تر دوامدارې بیاکتنې لاندې دي او وضعیت یې لا اوس هم روښانه نه دی ، او د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې را وروسته د *برحاله* مشرتابه له خوا د صادر شویو لارښوونو یادونه هم شامله کړې ده.[10]

---

۹ دغه کار د شکنجې او توقیف په اړه په پخوانیو دوه کلنو راپورونو کې د یوناما له میتودولوژۍ سره په مطابقت کې دی.
۱۰ دا د دغه ډول اصداراتو د قانونیت د منلو په مانا نه ده بلکې مقصد یې د حوالې یو چوکاټ دی چې له لارې یې ثبت شوې سرغړونې تحلیل شي.



# په بند کې ناوړه چلند او شکنجه

## د تطبیق وړ چوکات

د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا مطلق ممنوعیت د نړیوال قانون یو آمره نورم (jus cogens) ګڼل کېږي، چې د یوه غړي هیواد د تعاهدي مکلفیتونو په پام کې نیولو پرته د تطبیق وړ دي. سربېره پر دې، ګڼ شمېر نړیوال تړونونه چې افغانستان یې غړی دولت او مرعي الاجراء ګڼل کېږي شکنجه او نور ظالمانه او نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا منع کوي.[11] د دغه ډول کړنو د ممنوعیت د درناوي مکلفیت قاطع او نه کمېدونکی دی، په دې مانا چې د شکنجې کارونې ته ګرځېدل یا د هغې د ممنوعیت په رعایتولو کې پاتې راتلل په هیڅ وجه د توجیه وړ نه دي، آن په اضطراري حالاتو کې هم.[12]

شکنجه له څلورو عنصرونو څخه جوړه شوې. دا هر هغه عملونه رانغاړي کومې چې: د سخت درد یا کړاو لامل کېږي، که هغه جسمي وي یا رواني؛ کوم چې په عمدي ډول اړول شوې وي؛ د یوه مشخص هدف په پار ترسره شوې وي، لکه د اعترف کول، د معلوماتو تر لاسه کول، سزا، تهدید، سپکاوی، اکراه یا بل کوم دلیل چې د توپیر پر بنسټ وي؛ او یو دولتي چارواکی په کې ښکېل وي، که په مستقیم یا غیر مستقیم ډول وي.[13]

په هغو فیزیکي کړنو کې چې د سخت درد یا کړاو لامل کېږي او مشخصه شوې وي چې شکنجه تشکیلوي سخت وهل ډبول، سوکونه او لغتې[14] او بربښنایي ټکانونه شامل دي، خو په دغو مواردو پورې محدود نه دي.[15] رواني شکنجه باید داسې تعبیر شي چې ټولې هغه طریقې، تخنیکونه او شرایط راونغاړي چې مقصد یې یا د دې په پار طرح شوي وي چې په قصدي ډول د کیبل/پایپ یا د سخت جسمي درد یا کړاو پرته سخت رواني

---

[11] د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون (د شکنجې د منع کنوانسیون)، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، د ماشوم د حقونو کنوانسیون، د ۱۹۴۹ کال د جنیوا کنوانسیونونه، او نړیوالې جنايي محکمې د روم اساسنامه. همدارنګه وګورئ، د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه ۶ (هـ) پاراګراف، د افغانستان له خوا د بشري حقونو او بنسټیزو آزادي ګانو په اړه د هغو اسنادو تطبیق چې افغانستان یې غړي دولت دی او په رعایتولو یې مکلف دی. دا همدارنګه د قانون نافذوونکو چارواکو د چلند قواعدو په ۵ ماده کې رانغاړل شوي. همدارنګه د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه د عمومي اسامبلې د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر د ۱۵ نېټې A/Res/77/209 شمېره پرېکړه لیک وګورئ.

[12] د شکنجې د منع کنوانسیون، ۲ (۲) ماده؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۴ (۲) ماده؛ د قانون نافذوونکو چارواکو د چلند قواعد، ۵ ماده.

[13] د شکنجې د منع کنوانسیون، ۱ ماده؛ همدارنګه د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، منفرید نواک، د ۲۰۱۰ کال د فبروري د ۹ راپور A/HRC/13/39/Add.5 ۳۹-۳۰ پاراګرافونه وګورئ. د بشري حقونو کمېټې پرېکړه کړې چې دولتونه باید " د هغو اعمالو په وړاندې چې د ۷ مادې له خوا منع شوي د هر چا ساتنه وکړي ...، که هغه د هغو خلکو له خوا چې د دوی په رسمي ظرفیت ، یا له خپل رسمي ظرفیت څخه بهر یا په شخصي ظرفیت کې عمل کوي، اړول شوي وي." او د شکنجې او ناوړه چلند ممنوعیت تعزیري سزا ته هم تمدیدیږي؛ ۲۰، ۱۰ شمېره عمومي تبصره، مارچ ۱۹۹۲، ۲ او ۵ پاراګرافونه وګورئ.

[14] د مثال په ډول وګورئ، د شکنجې د منع کمېټه، ډیمیټرجویک د سربیا او مونتینیګرو په مقابل کې، ۱۷۲/۲۰۰۰ شمېره ابلاغ، ۱۶ نومبر ۲۰۰۵، ۲.۱، ۷.۱ پاراګرافونه؛ د شکنجې د منع کمېټه، علي د تونس په وړاندې، ۲۹۱/۲۰۰۶ شمېره ابلاغ، ۲۱ نومبر ۲۰۰۸، ۲.۲، ۲.۴، ۶، ۱۵.۴ پاراګرافونه.

[15] د بشري حقونو کمېټه، مطیبه د زائر په وړاندې، ۱۲۴/۱۹۸۴ شمېره ابلاغ، ۲۴ جولای ۱۹۸۴، ۲.۱۰ او ۱۲ پاراګرافونه؛ همدارنګه وګورئ، د شکنجې د منع کمېټه، نهايي ملاحظات: د روآندا راپور، ۳۱ می ۲۰۱۲، CAT/C/RWA/CO/1 ۱۰ پارګراف. همدارنګه وګورئ د اجباري یا نا داوطلبانه ورک کېدنو په اړه کاري ګروپ، د زین العابدین محمد حسین (ابو زبیده) په تړاو ۶۶/۲۰۲۲ شمېره نظریه (د امریکا متحده ایالات، پاکستان، تایلند، پولنډ، مراکس، لیتوانیا، افغانستان، او د انګلستان شمالي ایرلنډ متحده شاهي)، ۶ اپریل ۲۰۲۳، A/HRC/WGAD/2022/66، د پوښتنو ګروپړنو تقویه شوي تخنیکونه شکنجه جوړوي، په اړه ۱۱-۱۰ او ۱۰۲ پاراګرافونه.

درد یا کړاو واړوي.[۱۶] د مثال په ډول، د دولتي چارواکو یا نورو هغو له خوا چې د هغوي په امر عمل کوي یا د هغوي په موافقه د تاوتریخوالي یا مرګ کواښونه، د کورنۍ یا ملګرو په ضد د ګواښونو په شمول، هم کولی شي د سخت رواني کړاو حد پوره کړي.[۱۷] د شکنجې په اړولو کې همدارنګه په دې کې پاتې راتلل شامل دي چې د شکنجې د ودریدو یا د مخنیوي لپاره کوم اقدام ترسره کړي.[۱۸]

د شکنجې د منع کمېټه دا مني چې د شکنجې او ناوړه چلند ترمنځ حد زیاتره په عمل کې ناروښانه دی.[۱۹] د شکنجې او نورو ظالمانه یا نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ترمنځ د تفکیک په عناصرو کې راتلونکي هغه شامل دي: لومړی) د عمل شدت/سختوالی او موده؛ دویم) د قرباني زیانمنتوب او بې وسي؛ او دریېیم) د عمل د ترسره کولو موخه او هدف. [۲۰]

د بشري حقونو نور نورمونه د قانون نافذوونکو چارواکو له خوا د قوې کارونه تنظیموي. د قانون د تطبیق ټول اقدامات باید د قانونیت، اړتیا، نه توپیر، تناسب او بشریت اصولو ته درناوی وکړي.[۲۱] دغه چاره د دې غوښتنه کوي چې د قانون نافذوونکي چارواکي په مناسب ډول روزل شوي وي څو د تصمیم نیونې د قوت درجه اعمال کړي او معلومه کړي چې د قوې کومه درجه اړینه او له یوه اړوند حالت سره متناسبه ده.

د افغانستان د قوانینو له مخې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون صراحت لري چې "هېڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر وکړي" (۲۹ ماده)، او د هغو کسانو لپاره د تاوان د اخیستلو وړاندوینه شوې څوک چې یې موجبه زیانمن شوي وي (۵۱ ماده).

د ۲۰۱۸ کال د جزا قانون د شکنجې کړنه جرم ګڼي، د شکنجې له داسې یوه تعریف سره چې په پراخ ډول له هغو عنصرونو سره په تطابق کې دی چې د شکنجې د منع کنوانسیون کې یې تصریح شوې (۴۵۰ ماده)، همدارنګه د ۲۰۱۸ کال نوموړی قانون د شکنجې د منع په اړه صراحت لري چې د دغه ممنوعیت په اړه کومه استثناء نشته (۷ ماده). پر دې سربیره د جزا کوډ د دولتي مامور له خوا د هر شخص په وړاندې د خشونت آمیزه، ناوړه یا له سپکاوي ډک چلند په ګډون د "تاوتریخوالي" کارول جرم ګڼي (۴۴۸ ماده).

څرنګه چې *برحاله* چارواکو د ۲۰۲۲ کال په نیمايي کې له شریعت سره د تطابق په پار د ټولو هغو قوانینو بیا کتنه پیل کړې کوم چې په تېر جمهوریت کې تصویب شوي، دغه بیا کتنه لا اوس هم روانه ده او د دغو متنونو او د هغوی د انفرادي حمایتونو حقوقي وضعیت روښانه نه دي. په داسې حال کې چې د راپورونو له مخې د جزا د قانون ځینې برخې له شریعت سره په مغایرت کې ګڼل شوې، خو لا تر اوسه روښانه نه ده چې کومې برخې.

---

[۱۶] د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، ۲۰ مارچ ۲۰۲۰، A/HRS/43/49، ۱۹ پاراګراف.

[۱۷] وګورئ، د بشري حقونو کمېټه، استریلا د یوروګویا په مقابل کې، ۷۴/۱۹۸۰ شمېره ابلاغ، ۱. ۶، ۱۰ پاراګرافونه؛ همدارنګه د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، نیګل اس رودلی، راپورA/56/156 ، ۸ پاراګراف وګورئ.

[۱۸] د شکنجې د منع کمېټه، ۳ شمېره عمومي تبصره، ۱۳ ډسمبر ۲۰۱۲، CAT/C/GC/3 ، ۳، ۲۳ او ۳۷ پاراګرفونه.

[۱۹] د شکنجې د منع کمېټه، ۲ شمېره عمومي تبصره، ۲۴ جنوري ۲۰۰۸، CAT/C/GC/2، ۳ پاراګراف.

[۲۰] د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، منفرید نواک، د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر د ۲۳ ، E/CN.4/2006/6، ۳۹ پارګراف، ("د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع د کنوانسیون د ۱ او ۱۶ مادې د مقدماتي چارو بشپړ تحلیل او دغه راز د شکنجې د منع کمېټې د کړنو په رڼا کې د دواړو احکامو سیستماتیک تفسیر یو شخص دې پایلې ته رسوي، چې له ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند څخه د شکنجې د تفکیک او تشخیص تعیین کوونکي معیارونه کیدای شي په غور ډول د عمل د ترسره کولو له هدف او د قرباني له بې وسۍ څخه درک شي نه د اړول شوي درد یا کړاو له شدت څخه.") د شکنجې په اړه ځانګړي راپور ورکوونکي په دې اړه تشریح ورکړې چې ولې دې شکنجه له ناوړه چلند څخه یوازې د کړاو د شدت له مخې جلا نه شي؛ د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، منفرید نواک، د ۲۰۱۰ کال د فبروري د ۹ راپور A/HRC/13/39/Add.5 ۱۸۷-۱۸۸ پاراګرافونه؛ او له حبس څخه بهر د قوې د کارونې او شکنجې د ممنوعیت په اړه د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي نیلس میلزر د ۲۰۱۷ کال د جولای د ۲۰ نېټې راپور، A/72/178، ۳۰ پاراګراف وګورئ.

[۲۱] د قانون نافذوونکو چارواکو د چلند قواعد، ۲، ۳، ۵، ۷ او ۸ ماده؛ د قانون نافذوونکو چارواکو له خوا د قوې او وسلو د کارونې اصول، ۲، ۴، ۵، ۹، ۱۱، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۲۴، ۲۵ او ۲۶ سریزه او اصول.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۲ کال په جنوري کې، د بندیانو د نظام د سمون په اړه د طالبانو د مشر طرز العمل د ګڼو مادو سره تائید کړ کوم چې د آزادی څخه د محرومو افرادو شکنجه او ناوړه چلند منع کوي.[۲۲] د بندیانو د نظام د سمون طرز العمل په دې اړه روښانه دی چې امنیتي مسؤولین، د بندیانو محافظین او د محبسونو کارمندان د بندیانو د شکنجې، تعذیب او تعزیر حق نه لري (۳۳ ماده). په ځانګړي ډول، نوموړی طرز العمل *برحاله* امنیتي مسؤولینو ته لارښوونه کوي چې د نیونې له پیل څخه د انتقال په اوږدو کې د شکمنو اشخاصو یا مجرمینو له شکنجې او ناوړه چلند څخه ډډه وکړي کوم چې "د شرعي اصولو، اخلاقو او انساني کرامت خلاف وي" (۳، ۵ مادې).[۲۳] دا په ځانګړي ډول د هغه چلند مثالونه په ډاګه کوي چې باید منع شي، لکه د شکمنو اشخاصو شکنجه کول یا تعذیبول، د خلکو یا خپلوانو په مخ کې د نا مناسبو یا له سپکاوي ډکو کلمو کارول، او د خلکو پر سر یا خېټه کیناستل.

پر دې سربېره د بندیانو د نظام د سمون طرز العمل صراحت لري چې د یوه متهم "بندي د تحقیق په جریان کې وهل جواز نه لري، مجرم فقط د اړونده محکمې د حکم له مخې د سزا مستحق ګڼل کېږي" (۳۶ ماده)، او دا چې امنیتي مسؤولین "دې له متهم څخه د اقرار اخیستلو هڅه نه کوي او په ځانګړې توګه له تهدید، تعذیب او ویډیو کولو څخه دې ډډه وکړي، ځکه دغه اقرار په محکمه کې د حکم مدار نه ګرځي" (۳۹ ماده).[۲۴] *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت تایید کړې چې د ګواښونو، جسمي یا رواني شکنجې له لارې د جرم د ثابتولو لپاره د جبري اقرار کارول هیڅ شرعي او قانوني اساس نه لري.[۲۵]

د ۲۰۲۲ کال په مارچ کې د طالبانو مشر امنیتي او استخباراتي مسؤولینو ته د دغو لارښوونه په اړه یادونه یو ځل بیا "د تحقیق او توقیف مودې پرمهال د شکمنو اشخاصو د توقیف په اړه حکم" کې کړې او د دې یادونه کوې چې "د توقیف پرمهال، هر ډول شکنجه منع ده ځکه یوازې محکمه د دې صلاحیت لري چې د سزا په اړه پرېکړه وکړي. له محکمې پرته که یو څوک یوه شخص ته سزا ورکوي، د هغه دغه کړنې عادلانه نه ګڼل کېږي [...]."[۲۶]

د *برحاله* وزارتونو له خوا هم د دی لارښوونو د تطبیق لپاره هلې ځلې کېږي. د مثال په ډول، د ۲۰۲۲ کال په فبروري کې د کورنیو چارو *برحاله* سرپرست وزیر د کابل امنیه قوماندانۍ امنیتي ریاست ته لارښوونه کړې چې د تعقیب او نیونو پرمهال "له هر ډول شکنجې، ځورونې او سپکاوي څخه په کلکه ډډه وکړئ".[۲۷]

---

[۲۲] د بندیانو د نظام د سمون طرزالعمل په هکله فرمان، ګڼه ۱۷۵، ۱۷ جنوری ۲۰۲۲.

[۲۳] د طالبانو د مشر طرز العمل، ۳ ماده: "د ګرفتاري پرمهال دې د متهم او مجرم له شکنجې، تعذیب، تهدید او د خلکو او اقاربو په مخکې له سپکو سپورو وېناوو څخه ډډه وشي." ۵ ماده: "د انتقال پرمهال دې بندي سره له داسې چلند څخه ډډه و شي چې د شرعي اصولو، اخلاقو او انساني کرامت خلاف وي: لکه د بندي په سر یا خېټې د یو یا څو تنو ناسته."

[۲۴] همدارنګه د طالبانو د مشر طرز العمل لاندې مادې وګورئ:

- ۳۴ ماده: امنیتي مسولین دې بندیانو ته د تادیب او هغوي سره د چلند په مهال له افراط، تشدد او ناوړه سلوک څخه ډډه کوي.
- ۳۵ ماده: د متهم بندي د تحقیق په جریان کې وهل جواز نه لري، مجرم فقط د اړونده محکمې د حکم له مخې د جزا مستحق ګڼلی شي.

[۲۵] یوناما، جسمي سزا او د مرګ جزا، می ۲۰۲۳: ضمیمه – د بهرنیو چارو د *برحاله* وزارت ځواب، په راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/file/21157/de facto MFA Response.

[۲۶] د طالبانو مشر، د تحقیق او توقیف مودې پرمهال د شکمنو اشخاصو د توقیف په اړه حکم، ۱۵ مارچ ۲۰۲۲، د فرمان شمېره ۲۹. د ۱۵ آګست ۲۰۲۱ کال د واک د تغیر نه وړاندې، د کشف الحال لپاره د متهمینو د بندي کولو د صلاحیت او بند د مودې په هکله فرمان، ۴ نومبر ۲۰۱۹. همدارنګه وګورئ، د محکمې له فیصلې پرته د سزا ورکولو او بیا یې د عکاسي کولو د مخنیوي په اړه حکم، ۲۰ نومبر ۲۰۲۰: "هیڅوک اجازه نه لري چې د محکمې له حکم پرته څوک په لښتو، درو او کېبل ووهي او کوم بل ډول تعذیب ورکړي. مجاهدین چې کله څوک اسیران کړي، هغوي که سیاسي بندیان وي یا جنایي، د محکمې له پرېکړې پرته د سزا ورکولو حق نه لري."
د بشري حقونو له مخې، د محکمې له خوا امر شوې تعزیرې سزاګانې لکه په دورو یا متروکو وهل یا د بدن د غړو پرې کول، شکنجه او ناوړه چلند تشکیلوي او په هغو اعمالو کې شامل دي چې د شکنجې د مطلق او نه کمیدونکې ممنوعیت لاندې واقع دي. د تعزیري سزا او مرګ مجازاتو په اړه د یوناما راپور وګورئ.

[۲۷] خالد ځدران، د امنیه قوماندانۍ ویاند، د کورنیو چارو وزارت [@khalidzadran01]، ټویټر پاڼه، ۲۲ فبروري ۲۰۲۲، ۷:۳۱ ماښام. پر لاندې ټویټر پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://twitter.com/khalidzadran01/status/1496138106021498880?cxt=HHwWgMCyhcfrrMMpAAAA (Pashto).

## د نیولو پر مهال شکنجه او د قوې ناقانونه کارونه

د شکنجې او نور ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ممنوعیت نه یوازې هغه کسان ساتي چې له خپلې آزادۍ محروم شوي، بلکې همدارنگه له بند څخه پر بهر مواردو هم د تطبیق وړ دی. له بند څخه بهر د قوې هر ډول کارونه کومه چې قانوني هدف (قانونيت) نه تعقیبوي، یا دا چې هغه د یوه قانوني هدف د تر لاسه کولو لپاره اړین نه وي (اړتیا)، یا دا چې هغه د تعقیب شوي هدف په پرتله زیات زیان اړوي (تناسب) هغه رامنځ ته شوي نړیوالې حقوقي اصول نقضوي کوم چې د قانون نافذوونکو مسؤولینو له خوا د قوې کارونه اداره کوي، پر انساني کرامت تیری گڼل کېږي، او ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا تشکیلوي. له بند څخه بهر د قوې هر ډول کارونه چې موخه یې د یوه مشخص هدف د ترلاسه کولو په پار یوه "بې وسه" شخص (هغه شخص دی څوک چې تر مستقیم یا له هغه سره د مساوي کنترول لاندې وي او د تیښتې یا مقاومت توان نه لري) ته د درد یا کړاو اړول وي، د ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا تشدید شوی شکل تشکیلوي، د قانوني هدف، اړتیا یا تناسب ملاحظاتو یا د بل کوم شي په پام کې نیولو پرته چې د قوې د دغه ډول کارونې لپاره اړین وي، څو د اړوندو معاهدتي اسنادو له مخې شکنجه تشکیل کړي.[۲۸]

یوناما همدارنگه د *برحاله* امنیتي مسؤولینو له خوا د فیزیکي تیري او نورو سرغړونو ۳۵۶ مورده مستند کړي، چې تر ډیره د نیونو د ترسره کولو پرمهال پېښېږي. د دغو له جملې، ۱۷۷ مورده *برحاله* پولیسو (چې ۲۱ هغه د ښځو په ضد وو)؛ ۱۷۹ هغه یې *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست (چې ۲۲ هغه د ښځو په ضد وو)، چې د نیونې له ځایه پیلیږي، د منسوبونې وړ دي.[۲۹]




دریم تصویر: د ادارې او جنډر په تفکیک سره د شکنجې او د قوې د ناقانونه کارونې سره د قربانیانو نیونه

د مرکه ورکوونکو ګڼو بیانونو دا په ډاګه کړه چې د *برحاله* امنیتي مسؤولینو له خوا څرنګه په زور نیونې ترسره شوي چې له وهلو ډبولو او ناوړه چلند سره مل وې. مرکه ورکوونکو ویلي چې هغوی سپک شوي، ځینې یې له خپلو موټرونو څخه راکش شوي او په لغتو وهل شوي، نورو په دې اړه ویلي چې *برحاله* امنیتي مسؤولین څرنګه د هغوی کار ځای یا کورونو ته ننوتلي، هغه کسان یې وهلي ډبولي چې په سملاسي ډول یې د هغوی له امرونو سره سم عمل نه دی کړی. ډیری مرکه ورکوونکې په لغتو وهل شوي په داسې حال کې چې هغوی لا وار

---

[۲۸] له بند څخه بهر د قوې د کارونې او شکنجې او نور ظالمانه، نا انساني یا سپکاوي ډک چلند یا سزا د ممنوعیت په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي نیلس میلزر د ۲۰۱۷ کال د جولای د ۲۰ نېټې راپور، A/72/178، ۳۶، ۴۶ او ۶۲ پاراگرافونه.
[۲۹] د یوناما له خوا مستند شویو په ۴۱ نورو مواردو کې مرکه ورکوونکي نه وو توانیدلي چې مسؤوله اداره معلومه کړي.

د مخه پر څمکه پراته وو او د وسلو پر کونداغونو وهل شوي ټکول شوي.[۳۰] د نیول شویو کسانو پر سپکاوي سربېره، *برحاله* امنيتي مسؤولينو ډېری وخت د هغوي لاسونه څولنه کړي، سترګې يې ورتړلي او سرو ته يې کځوړې ور اچولي، او هغه کسان چې په موټرو کې وو په بل لوري لیږدولو ته اړ کړي.[۳۱] په څلورو مواردو کې، مرکه ورکوونکو په ډاګه کړې چې هغوي توقيف ځای ته د لیږد په پار د موټر په ډاله يا د موټر په باډۍ کې په زور په داسې حال کې اچول شوي، چې سترګې يې تړل شوي او څولنه شوي.[۳۲]

له دغو مواردو په نږدې هيڅ يوه کې امنيتي مسؤولينو د نيونې د ترسره کولو لپاره د نيونې امر نه دی تيار کړی يا يې په روښانه ډول ځانونه يا د هغوي اړوند واحد نه دی معرفي کړی؛ په ځينو مواردو کې د هغوي مخونه په ماسکونو پوښلي وو.[۳۳] د مناسب يونيفورم يا نورې پېژندګلوۍ په نشتون کې، په زيات تکراريدونکي ډول، يوازې د ځايي *برحاله* پوليسو قوماندانۍ يا د استخباراتو د لوي رياست دفتر ته په رسېدو مرکه ورکوونکي له دې خبرې شوي چې د کومو *برحاله* چارواکو/ادارې له خوا نيول شوي. [د زياتو سرغړونو لپاره، ***د نيونې لاملونو په اړه د معلوماتو برخه*** وګورئ].

زياتره تشريح شوې تجربې په ځانګړې توګه له وهلو ټکولو، څولنه کولو، سترګو تړلو يا سر ته کځوړې اچولو سره ملې هغه د نيول کيدنې په پرتله تښتونې ته ورته دي او د توقيف شويو ترمنځ د قريب الوقوع ضرر يا د وژل کېدو موجه وېره رامنځ ته کوي، چې د رواني کړاو لامل کېږي کومه چې کيدای شي د شدت هغه حد پوره کړي چې د شکنجې يا ناوړه چلند د نورو شکلونو د رامنځته کيدو لپاره اړين ګڼل کېږي.

د *برحاله* امنيتي مسؤولينو له خوا د نيونو پرمهال کارول شوې قوه لکه څرنګه چې د مرکه ورکوونکو له خوا تشريح شوې، په ډېری حالاتو کې د قانون نافذوونکو چارواکو له خوا د قوې د کارونې په اړه له نړيوالو نورمونو

[۳۰] د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۲ نېټې مرکه ("د نيونې پرمهال، د حوزې پوليسو زه د ټوپک پر کونداغ ووهلم. همدارنګه زه هغوي په سوکونو او لغتو ووهلم، بيا يې زما لاسونه تر شا وتړل او زه يې حوزې ته بوتلم")؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۳ نېټې مرکه ("هغوي زه د پوليسو قوماندانۍ ته پر لار څولنه نه کړم خو زه يې د ټوپک پر کونداغ ووهلم. موږ چې ترڅو د پوليسو کمپاونډ ته رسيدو هغوي زه څو پله پر مخ او سر په څپېړو ووهلم. په لغتو لغتو يې له موټر څخه کښته کړم. دوو زه له ويښتو کش کړم چې له امله يې سخت پر ځمکه پرېوتم")؛ د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲۳ نېټې مرکه ("د ولسوالۍ د استخباراتو د لوي رياست يوه ډله زما کور ته راغله او زه يې ونيولم؛ دوي زه سخت ووهلم او د رنجر موټر په باډې کې يې واچولم")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۵ نېټې مرکه ("يوه زوږ مرکه ورکوونکي وويل "شا و خوا پنځه وسله وال سړي موجود وو؛ هغوي زما لاسونه وتړل، زما سر يې وپوښه او بل موټر ته يې بوتلم. د ورلو پر مهال هغوي زه په لغتو ووهلم او ما ته يې سپکې سپورې وکړې؛ ما د هغوي مخونه و نه پېژندل ځکه په ماسکونو کې پټ ول.").

[۳۱] د ۲۰۲۲ کال د نومبر د ۱۵ نېټې مرکه (يوه بندي چې په يوه چيک پاينټ کې د استخباراتو د لوي رياست له خوا نيول شوی و د هغه د موټر د تلاشي پرمهال يې سترګې تړلې شوې وې. د استخباراتو د لوي رياست يوه آفسر نورو ته د دغه شخص د وهلو امر وکړ چې تر هغې وروسته يې د وسلو په کونداغونو د هغه پر وهلو پيل وکړ او په سر پر لغتو وواهه. د شخص يې په داسې حال د استخباراتو د لوي رياست په موټر کې واچوه چې سترګې او لاسونه يې تړلي وو)؛ د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۵ نېټې مرکه(له وسله والو ډک يو موټر زموږ کور مخې ته پارک شو. سړيو [زه وپېژندم] او سملاسي يې زما لاسونه څولنه کړل، زما سترګې يې را وتړلې او او پرته له دې چې څه ووايي په موټر کې واچولم. زما ماشومانو ژړل او سړيو ته يې زما د خوشې کولو سوال کاوه، خو هغوي يې پروا و نه کړه. ما له سړيو وپوښتل چې تاسو څوک ياست. هغوي په ساده ډول راته وويل: "تشويش مه کوئ.")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۵ نېټې مرکه ("هغوي زما سر ته توره کځوړه را وچوله ترڅو څوک و نه وينم؛ او زما لاسونه يې په يوه ټوټه پلاستکي رسۍ وتړل")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۲۲ نېټې مرکه (وروسته له هغې چې موږ د پوليسو له وروستي چيک پوست څخه تير شو، د استخباراتو د لوي رياست څلورو کسانو زما لاسونه څولنه کړل او سترګې يې راوتړلې، او په دغه ډول مو څو ساعتونه مزل وکړ)؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۱۴ نېټې مرکه ("هغوي زما سترګې را وتړلې او د استخباراتو د لوي رياست دفتر ته يوړم، هلته هم زما سترګې تړلې وې"). د ۲۰۲۳ کال د جون په ۲۰مه مرکه ("زه عمومي سړک ته نږدې وم ... کله چې يو موټر ودرېد، او د استخباراتو لوی رياست سرتيرو زما د پيژندنې غوښتنه وکړه. پرته له کوم توضيحاتو، زما لاسونه يې ولچک کړل، سترګې يې پټې کړې او په موټر کې وغورځول شوم. زه د ښار په شاوخوا کې له ۲۰ څخه تر ۳۰ دقيقو وګرځول شوم مخکې د دې چې ښار څخه بهر کړل شم، شاوخوا نيم ساعت لپاره، پدې ټول وخت کې، زما سترګې پټې وې، او زه نه پوهيدم چې زه چيرته وړل کيږم").

[۳۲] د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۹ نېټې مرکه ("هغوي زما لاسونه وتړل، زما سترګې يې وتړلي/زما سر ته يې کځوړه واچوله او د هايلکس موټر په باډي کې يې واچولم." بيا وروسته، "هغوي زه بيا په موټر کې واچولم... فکر کوم هغوي زه د استخباراتو د لوي رياست ولايتي رياست ته يوړم. نږدې د يوه ساعت لپاره په ډاله کې وم. د موټر انجن نه و ګل شوی. هوا ډېره سړه وه.... ما له هغوي وغوښتل که ځان راحت کړم او ودرېږم، زما پښو درد کاوه، خو هغوي د ودرېدو اجازه را نه کړه. وسله والو کسانو د موټر په شا کې واچولم. زما سترګې تړل شوې وې.")؛ د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲۳ نېټې مرکه ("هغوي په ډېر سخت ډول زما وهل ډبول پيل کړل او زه يې د رينجر موټر په باډۍ کې واچولم؛ هغوي زما پر سر خولۍ کېښوده او و يې تړله، زما سترګې تړل شوې وې او زما لاسونه شا ته څولنه شوي وو")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۲۵ نېټې مرکه ("هغوي زه له خپل موټر څخه واخيستم، زما سترګې يې وتړلې او د هغوي تر پښو لاندې يې خپل موټر په شا کې يې واچولم. زه يې له کوم وضاحت پرته ونيولم، هغوي ما ته دا و نه ويل چې ولې نيول شوی يم؛ درې کسانو يې پر ما پښې ايښې وې او زه يې څو کيلو متره لرې توقيف ځای ته انتقال کړم").

[۳۳] د مثال په ډول، د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۵ نېټې مرکه (د برحال پوليسو په تړاو، "هلته نږدې شا و خوا پنځه وسله وال موجود وو. ما د هغوي مخونه و نه پېژندل ځکه پر ماسکونو پوښل شوي وو. هغوي خپل ځانونه معرفي نه کړل. کله چې دوي موقعيت ته ورسيدل زما سر لا اوس هم

ښکاره سرغړونې تشکیلوي. دغه نورمونه د قانون نافذوونکو څخه غوښتنه کوي چې قوه یوازې د وروستۍ چارې په څیر د قانونیت، اړتیا یا تناسب له اصولو سره په تطابق کې وکاروي.[٣٤]

د فزیکي تیریو په تړاو ډیری تشریح شوي بیانونه همدارنګه د نیونو په سیاق کې د زیاتې قوې، او ناوړه چلند په ګډون، کوم چې ښایي په ځینو مواردو کې شکنجه تشکیل کړي، د بشري حقونو د تیریو نمونه په ډاګه کوي. لږ تر لږه، دغه بیانونه د نیونو د ترسره کولو په سیاق کې په پراخه کچه د بشري حقونو د نړیوال قانون د معیارونو له پامه غورځول څرګندوي.

---

پوښل شوی و او زما لاسونه تړل شوي وو. کله چې هغوي پر تیلفون خبرې وکړې، له وضعیته پوه شوم چې هغوي د ... امنیتي حوزې اړوند پولیس وو.")

[٣٤] د قانون د تنفیذ ټولې کړنې باید د قانونیت، اړتیا، نه تبعیض، تناسب او انسانیت اصولو ته درناوي وکړي. د قانون نافذوونکو چارواکو د چلند قواعدو ۲، ۳، ۵، ۷ او ۸ مادې وګورئ؛ د قانون نافذوونکو چارواکو له خوا د قوې او وسلو د کارونې اصول، ۲، ۴، ۵، ۹، ۱۱، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۲۴، ۲۵ او ۲۶ سریزه او اصول.

## په بند کې شکنجه او ناوړه چلند نور شکلونه

> ”لومړي ۵۳ ساعتونه زما د ژوند تر ټولو ناوړه شیبې وې. فکر نه کوم چې دا دې زما تر مرګه زما له یاده ووځي. زه هلته د شکنجې له مختلفو شکلونو سره مخ شوم. دوي په نیمه شپه کې زما خوا ته راغلل او زه یې د تحقیق لپاره له خوبه راپاڅولم. هغوي زه یوه دهلیز ته یوړم. په دهلیز کې مې ولیدل چې دوه تر دری نور متهمین له چت څخه را ځوړند شوي او وهل شوي ټکول شوي وو. ما همدارنګه ولیدل چې هغوي د پایپونو له لارې د دوي په خوله کې اوبه اچوي څو له دغو سړیو معلومات تر لاسه کړي. نو زه هم دغه دهلیز ته راغلم او له ما یې تحقیق پیل کړ او ما ته یې وویل چې هر هغه څه ومنم چې دوي یې له ما څخه غواړي، که نه نو دوي به له ما سره په عین طریقه چلند وکړي. په لومړیو ۵۳ ساعتونو کې له ما سره بد چلند وشو او د ځان درد له امله مې خوب نه شو کولی. کله مې چې د درملو او درملنې غوښتنه وکړه هغوي را ته وویل چې مور دې وژنو، نو هغوي زما لپاره کومه طبي درملنه برابره نه کړه. “

| - د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۸ نیټې مرکه، د استخباراتو د لوي ریاست توقیف

> ”له ما څخه اووه ځله تحقیق وشو. زه په پلاستیکي پایپونو او په سوکانو په مخ، شا او ورنونو ووهل شوم، دوی زما ویښتان راکشول، ترڅو ما مجبور کړي چې اعتراف وکړم چې زه د دولت ضد عناصرو ملاتړی یم. اصلي تحقیق کوونکی ډیر ظالم و. د لومړیو دریو تحقیقاتو پرمهال هغه زه سخت شکنجه کړم او هیڅکله یې پر ما رحم و نه کړ. هغه هڅه کوله چې زه اعتراف وکړم خو ما هیڅ و نه ویل خو دوي په داسې حال کې چې زما سترګې تړل شوي وې پر یوه ټوټه کاغذ زما د ګوتو نښې واخیستې. ... بیا څو ټیمونه راغلل او د تحقیقاتو پرمهال یې زما د شکنجې په اړه پوښتنې وکړې خو ما د نه ځواب ورکړ ځکه ما ته د مستنطقینو د مشر له خوا اخطار راکړل شوی و چې د هغه پر ضد یوه کلمه هم و نه وایم. خو په وروستیو څلورو تحقیقاتو کې، زما څخه یوازې پوښتنې وشوې خو و نه وهل شوم نه زما سپکاوی وشو. “

| - د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۱۹ نیټې مرکه، د استخباراتو د لوي ریاست توقیف

یوناما د ۲۰۲۲ کال د جنوري تر ۱ نېټې پورې، په توقیف کې د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو شکلونو ۴۶۶ مورده مستند کړي، کوم چې *برحاله* امنیتي او *برحاله* د محبسونو مسؤولینو ته په لاندې ډول منسوب شوي.




**ځلورم تصویر: د اداري او جنډر په تفکیک سره د شکنجې او د قوې د ناقانونه کارونې سره د قربانیانو نیونه**

له فیزیکي تیري تشکیل د ۲۵۹موارډو له جملې، د شکنجې ۹۵ مورده *برحاله* پولیسو ته (چې پنځه هغه یې د ښځو پر ضد و)؛ او ۱۶۲ مورده *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته (چې ۱۰ هغه د ښځو په ضد وو) منسوب شوي، چې زیاتره هغه یې د تحقیقاتو یا د پوښتنو ګرویرنو په تړاو رامنځ ته شوي؛ او دوه مورد د *برحاله* محبس چاروکو له خوا رامنځ ته شوي. د شکنجې په ۴۱ نورو موارډو کې مرکه ورکوونکي پر دې نه دي توانیدلي څو هغه اداري معلومې کړي چې دوي یې ساتلي وو.

یوناما د تحقیقاتو په تړاو له آزادۍ څخه د محروم شویو مرکه ورکوونکو له خوا توضیح شوي یو لړ اعمال مستند کړي چې د معلوماتو، اعتراف تر لاسه کولو، یا د تهدید په پار د تحقیق د مودو پرمهال په توقیف کې رامنځ ته شوي، یوناما راتلونکي موارد مستند کړي:

- د سوکانو او لغتو په کېدون په مختلفو آلاتو وهل ډبول شوي، معمولا د سر یا اوږو پر شاو خوا د وسلو پر کونداغونو وهل شوي، پر شا یا د پښو پر تلو په نورو آلاتو لکه پایپ یا کیبل، اکثرا په داسي حال کې چې به تړل شوي وو، وهل شوي. ځینو نورو یې ویلي چې وهل ډبول تر دې حده سخت وو چې آن هغوي بې هوښه شوي. وهل ټکول د فیزیکي تیریو ستره برخه جوړوي او په دې ډول *برحاله* پولیسو او د استخباراتو لوي ریاست ته د منسوبونې وړ دي.
- د بدن مختلفو برخو ته د برېښنايي ټکانونو ورکول چې له امله یې ځینې بې هوښه شوي (۱۱ مورده، څلور هغه یې *برحاله* پولیسو، او اوه هغه یې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست[35] ته د منسوبونې وړ دي)؛

[35] د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر د ۴ نېټې مرکه ("زما سترګې تړل شوې وې خو احساس مې کاوه چې درې یا څلور کیبلونه زما د چپې پښې په پورتنۍ برخې پورې نښلول شوي، یوازې زما په پښو پورې. ما ته درې ځله برېښنايي ټکانونه راکړل شول؛ چې زه یې نورو معلوماتو ورکولو ته اړ ایستم")؛ د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۵ نېټې مرکه ("د طالبانو *برحاله* پولیسو پر دویمه ورځ برېښنايي ټکانونه راکړل. د برېښنايي ټکانونو پرمهال زه بې هوښه شوم")؛ د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۱۷ نېټې مرکه ("پولیسو همدارنګه برېښنايي ټکانونه راکړل")؛ ۲۰۲۳ د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۱۸ نېټې مرکه ("د ۲ ورځو په اوږدو کې [د استخباراتو لوي ریاست] زما په غاړه کې ما ته برېښنايي ټکانونه راکړل. ټکانونه تر دې بریده قوي وو چې کله یې آله راپورې وتړله، زه په هماغې شېبه بې هوښه شوم.")؛ د کال د مارچ د ۱۶ نېټې مرکه ("هغوي [د استخباراتو لوي ریاست] زما د لاسونو په غټو ګوتو پورې وایرونه وتړل، ما ته یې برېښنايي ټکانونه

- د لاس، پلاستکي کڅوړو یا مزي په وسیله د ساه بندول یا تربته کول، او د جان پاک په وسیله د هغوي د سرونو یا مخونو پوښل (نهه مورده، یو مورد *برحاله* پولیسو او اته نور يې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته د منسوبونې وړ دي)؛ [٣٦]
- له چت څخه له لاسونو را ځوړند شوي (۴ مورده[٣٧]، ټول هغه يې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته د منسوبونې وړ دي) او په فشاري حالت کې د بدن د غړو تړل (درې مورده يې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته د منسوبونې وړ دي [٣٨])؛
- په خوله کې په زوره د اوبو پایپونه ور داخلول (پنځه مورده، درې هغه يې *برحاله* پولیسو او دوه هغه يې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته د منسوبونې وړ دي [٣٩])؛
- د ژمي پرمهال د باندې په سړه هوا کې د اوږدې مودې لپاره ساتل (دوه مورده، دواړه هغه يې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست ته د منسوبونې وړ دي [٤٠])؛ او

---

راکړل، او زه بې هوښه شوم")؛ د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲۷ نېټې مرکه ("د استخباراتو په لوي ریاست کې څو کسانو چې مخونه يې پټ وو، ما ته برېښنايي ټکانونه راکړل")؛ د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۱۹ نېټې مرکه (ما ولیدل چې [د استخباراتو لوي ریاست] بندیانو ته برېښنايي ټکانونه ورکوي")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۲ نېټې مرکه ("بل طالب سرتیري د برېښنا کیبل راوړ او ما ته يې برېښنايي ټکانونه راکړل. هغه وخت مې داسې احساس وکړ، چې زه مرم. هغوي ما ته درې ځله برېښنايي ټکانونه راکړل")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۸ نېټې مرکه ("هغوي زما سینې او پښتورګو ته نږدې، زما بدن ته برېښنايي ټکانونه راکړل")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۲۵ نېټې مرکه ("پر برقي کیبلونو او پایپونو تر وهلو وروسته، دوي [د استخباراتو لوي ریاست] پر ما د برېښنايي ټکان ماشین وکاروه." د ۲۰۲۳ کال د جولای ۶ مه مرکه ("د پولیسو د تحقیقاتو په جریان کې، افسرانو موږ ته غوږ ونه نیوه؛ ځکه چې ما دا تور نه و منلی چې دوی زما ټپي لاسونو باندی مزی کېښودل او د برېښنا ټکان يې راکړ").

[٣٦] د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۱ نېټې مرکه ("هغوي غاړه ته پلاستکي کڅوړه را واچوله او د یو څه وخت لپاره يې وتړله څو تنفس ونه کړم")؛ د ۲۰۲۲ کال د نومبر د ۳۰ نېټې مرکه ("د تحقیق/پوښتنو ګروپرنو پر مهال، د استخباراتو لوي ریاست زما سترګې را وتړلې او په پلاستیک سره يې زما سر وپوښوه څو ما تربته کړي": کله چې د استخباراتو لوي ریاست ته ولیږدول شوم، د استخباراتو لوي ریاست نظارت خونه " د تولیې/جان پاک په کارولو سره زه تربته کړم")؛ د ۲۰۲۳ کال د اپریل د ۱۸ نېټې مرکه ("په دوو مواردو کې، د استخباراتو د لوي ریاست د تحقیق آفسرانو زما سر ته پلاستکی کڅوړه واچوله چې ما ساه نه شوه اخیستلای. کله به چې بې هوښه کېدو ته نږدې شوم، هغوي به کڅوړه لرې کړه، او بیا به يې دغه کار تکراروه. خدای ته مې دوعا وکړه چې هغوي مې ووژني څو له دغه کړاوه خلاص شم.")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۲۲ نېټې مرکه ("سړیو د وایر په وسیله زه زندۍ کړم او زما سر ته يې پلاستکي کڅوړه واچوله")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۱۴ نېټې مرکه ("زه د استخباراتو د لوي ریاست افسر پر چپ مخ درې څپېړې ووهلم، یوه بل آفسر پر چپه اوږه دوه سوکه ووهلم. د څپېړو له امله مې پر چپ غوږ درد شو؛ د استخباراتو د لوي ریاست بل کارمند پر لاسونو زما غاړه زندۍ کړه، او په غصه يې پر ما چغې وهلې"); د ۲۰۲۳ د جولای ۴مه مرکه ("وروسته د استخباراتو لوی ریاست زما سر او مخ په پلاستيکي کڅوړو پوښه چې تنفس يې ناشونی کړی و. دوی زه په داسې ډول شکنجه کړم چې هیڅ فزیکي زخم يې نه درلود")؛ د ۲۰۲۳ کال د جولای ۴مه مرکه ("پولیسو زه په پلاستيکي کیبلونو ووهلم او زما مخ او سر يې په پلاستيکي کڅوړه پوښلی وو ترڅو ما خفه کړي او په تورونو اعتراف کولو ته مې اړ باسي").

[٣٧] د ۲۰۲۲ کال د نومبر د ۳۰ نېټې مرکه ("د تحقیق پرمهال، د استخباراتو لوي ریاست په چت پورې د لاسونو په تړلو سره زه ځوړند کړم. له چت څخه د ځوړندیدو پرمهال به ځینې وختونه زه بې هوښه کېدم." د استخباراتو د لوي ریاست بلې اداري ته په لیږدولو سره: "د استخباراتو د لوي ریاست له ما څخه تحقیق ته دوام ورکړ. د تحقیق پرمهال، هغوي زه په مختلفو لارو شکنجه کړم، هغوي زه له چت څخه له پښو څخه سر کښته را ځوړند کړم")؛ د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۱ نېټې مرکه ("هغوي د استخباراتو لوي ریاست زه له دواړو لاسونو راځوړند کړی وم او زه يې وهلم". همدارنګه وګورئ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۲۲ نېټې مرکه ("زه نه یم شکنجه شوی یا په فیزیکي ډول له ما سره ناوړه چلند نه دی شوی، خو د استخباراتو د عمومي ریاست یوه آفسر راته وویل چې یوازینی شخص یم چې له ما سره ښه چلند شوی. هغه ما ته د یوه بل بندي عکس را ښکاره کړ چې سترګې يې تړل شوې وې، او لاسونه يې تر شا په رسۍ تړل شوي وو او په ناانساني طریقه يې په ملا راکړوپ کړی و").

[٣٨] د ۲۰۲۳ کال د فبروي د ۶ نېټې مرکه ("د استخباراتو لوي ریاست ته په رسیدو سره، دوي زما لاسونه زما شا ته چې یو لاس مې د اوږې پر سر او بل لاندې تېر شوي وو، تړلي وو، دغه حالت سخت ناارامونکی و. هغوي زه په داسې حال کې پر پښو وهلم چې زما لاسونه په دردیدونکي ډول تر شا تړل شوي وو.")؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۱ نېټې مرکه ("د ۱۶ ورځو په اوږدو کې، له ما څخه څو پله تحقیق ترسره شو، هغوي (د استخباراتو لوي ریاست] د شکنجې مختلفې طریقې کارولې – دوي زما لاسونه یو د مخې له خوا او بل له شا څخه په ځنځیر تړلي وو").

[٣٩] د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۱ نېټې مرکه ("دوي زما په خوله کې د اوبو پایپ داخل کړ")؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۳ نېټې مرکه ("هغه زه څو پله په څپېړو ووهلم او بل طالب زما په خوله کې د اوبو پایپ داخل کړ. بیا مې داسې احساس کاوه چې مرم. احساس مې کاوه چې هغوي زما د وژنې پرېکړه کړې")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۲۹ نېټې مرکه ("هلته په حاویلۍ کې شا و خوا د هغوي ۱۶ کسان [پولیس] وو. هغوي زما لاسونه او پښې په دوسمال وتړلې او پنځه لغتې يې ووهلم؛ یوه يې د اوبو پایپ راوړ او په زیات فشار يې زما خولې ته داخل کړ. زه بې هوښه شوم."). د ۲۰۲۳ د جولای ۳مه مرکه ("د استخباراتو لوی ریاست کې دوی زه په اوبو سره شکنجه کړم. دوی زما سر د اوبو څخه ډک سطل کې کېښود او هلته يې وساتلو"); د ۲۰۲۳ د جولای ۴مه مرکه ("پولیس زما په خوله کې اوبه واچولې، او زما په سر هم تر څو فشار رباندی راوړي "). همدارنګه وګورئ، د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۸ نېټې مرکه ("ما همدارنګه ولیدل چې هغوي له سړیو څخه د معلوماتو د ترلاسه کولو په پار د پایپ په وسیله د هغوي په خولو کې اوبه اچولې").

[٤٠] د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۵ نېټې مرکه ("یوه يې زه پر مخ او سر نږدې لس پله په څپېړو او د بدن پر مختلفو برخو په لغتو ووهلم. هغه بیا نورو ته امر وکړ چې د باندې مې ټوله شپه په سړه هوا کې واچوي او هیڅ خواړه را نه کړي. هوا ډېره سړه وه. زما لاسونه او پښې تړل شوې وې. زما سر پوښل شوی و. زه په سړه هوا کې د نږدې شپږو ساعتونو لپاره پروت وم، بیا يې بېرته په کانتینر کې واچولم")؛ د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۲ نېټې مرکه ("هغه مهال هوا ډېره سړه وه، ژمی و، زه په کنګل سړو کې د باندې په واوره واچول شوم او اړ يې کړم چې پر واوره پرېوزم").

- د *برحاله* استخباراتو د لوي رياست د کارمند له خوا د يوه بل بندي چې لاسونه يې تړل شوي وو، پر خېټه د غټې ډبرې د اېښودلو ليدل.[٤١]

يوناما دغه راز د هغو کړنو چې د ذهني کړاو لامل کېږي لکه جسمي يا رواني سلامتيا ته تهديدونه، ۲۰۷ مورده مستند کړي. يوناما د *برحاله* پوليسو له خوا د تهديدونو ۷۵ مورده (چې شپږ هغه يې د ښځو په وړاندې وو)، او *برحاله* د استخباراتو د لوي رياست له خوا ۱۲۹ مورده (چې شپږ هغه يې د ښځو په وړاندې وو) او درې مورد د *برحاله* زندانونو چارواکو له خوا، مستند کړي.[٤٢]

تر ټولو زيات، مرکه ورکوونکو د دغو څرګندونو يادونه کړې، دا چې هغوي په دې تهديد شوي چې هغوي به له پورته تشريح شويو کړنو سره مخ شي که چېرې هغوي پر خپلو جرمونو اعتراف و نه کړي، دا چې دوي به ووژل شي، يا دا چې د هغوي د کورنۍ غړي به زيانمن يا ووژل شي، يا دا چې هغوي به هيڅکله خوشې نه شي يا خپلو کورنيو ته به ستانه نه شي. په دوو بيانونو کې، مرکه ورکوونکي د سنګسار پر مرګ ګواښل شوي. په ناوړه چلند کې په مکرر ډول پر مرکه ورکوونکو چغې وهل او د هغوي سپکاوی، ښځو ته د "فاحشو" او نارينه وو ته په مکرر ډول د "مرتدينو"، "خرابو مسلمانانو"، "سپيو" يا "د امريکايانو د زامنو" خطاب کول، او دغه راز د سرونو خراېيل شامل و.

د تحقيق پرمهال د نورو *برحاله* چارواکو شتون په همدې توګه تهديدونکی و. په دې کې د تحقيق پرمهال *برحاله* امنيتي مسوول د متهم شخص په شا و خوا يا تر شا د له وسلې سره درېدل او په ټوپک د هغه په نښه کول او بريد ته د چمتوالی ښودل شامل دي.[٤٣] دوو مرکه ورکوونکو په ډاګه کړې چې هغه تحقيق خونه په کومه کې چې له هغوي تحقيق ترسره شوي پخپله ويرونکې وه، د مختلفو وسيلو ښودل چې ښايي د هغوي په ضد وکارول شي، او د وينو د نښو نښانو ښودل.[٤٤]

تر ټولو زيات هيښوونکی، د ډېرى مرکه ورکوونکو د تحقيق په شمول له زندان خونې څخه د ليرد پرمهال سترګې تړلې وې او لاسونو کې ځولنې اچول شوې وې، چې د تحقيق په اوږدو کې په همدې حال پاتې شوي او دغه کار دوي د هغو کسانو له پېژندلو منع کړي چې له دوي تحقيق کوي.[٤٥] د ځولنو پر ناموجهې کارونې

---

[٤١] د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۶ نېټې مرکه.
[٤٢] د ناوړه چلند په ۴۹ نورو مواردو کې چې يوناما مستند کړي مرکه ورکوونکې په دې نه توانيدل چې مسؤول لوري معلوم کړي.
[٤٣] د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲۱ نېټې مرکه ("هلته [د استخباراتو لوي رياست] په خونه کې دوه چوکۍ موجودې وې او د تحقيق پرمهال دوه ساتونکي راغې د يوه په لاس کې قلم وي او تا ته پر مخامخ چوکۍ کېنې او له بل سره پايپ يا کوتک وي ستا تر څنګ درېږي")؛ د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۱۸ نېټې مرکه ("دوي ما ته وسله مخامخ نيولې وه او زه يې تهديد کړم، ما ته يې ويل موږ ته رښتيا ووايه، که نه نو موږ به دې ووژنو").
[٤٤] د ۲۰۲۳ کال د فبروي د ۲۱ نېټې مرکه ("تحقيق خونه کې د راځوړوندلو لپاره ځنځير، اوبه، پايپونه او لښتې موجود وو کوم چې په ښکاره تا ته دا سيګنال درکوي چې يا خو به يې [چې اعتراف وکړې] يا به شکنجه کېږې")؛ د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۴ نېټې مرکه ("هغوي زه بلې خونې ته بوتلم، هغه له وينو ډکه وه، او شکنجې وسايل په کې موجود وو. هغه ما ته د شکنجې دغه وسايل وښودل. هغه را ته وويل چې زه به دلته ووژل شم.").
[٤٥] د مثال په ډول، د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۱۲ نېټې مرکه ("آفسر زما مخامخ پر چوکۍ کيناست، او زه په داسې حال کې کيناستم چې لاسونه مې تر شا ځولنه شوي وو او سترګې مې پوښل شوې وې. هغه نورو ته غږ کړ چې لښتې او برېښنايي کيبلونه زما د وهلو او ما ته برېښنايي ټکانونو د راکولو په پار راوړي خو پر خپلو جرمونو اعتراف وکړم. هغه زه تهديد کړم چې اعتراف وکړم يا به مې هغه د وهلو او برېښنايي ټکانونو په واسطه اعتراف کولو ته اړ کړي، خو هغه څه يې ترسره نه کړل د کوم څه په اړه چې يې ما ته اخطار راکړی و")؛ د ۲۰۲۳ کال د فبروي د ۲۰ نېټې مرکه ("د استخباراتو د لوي رياست دوه کارمندان [زما زندان خونې] ته راغلل زما سترګې يې وپوښلې او لاسونه يې ځولنه کړل[په يوه شېبه کې] او ما ته يې وويل چې له هغوي سره تحقيق خونې ته لاړ شم. ما ته نه و ويل شوي چې زه ولې هلته يوړل شوی وم. يو چا له ما څخه په داسې حال کې پوښتنه وکړه چې زما سترګې تړل شوې او لاسونه ځولنه شوي وو")؛ د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۲۰ نېټې مرکه ("د هر تحقيق له پيلولو مخکې د استخباراتو د لوي رياست کارمندانو زما لاسونه تر شا ځولنه کول او سترګې يې راتړلې او بيا به يې تحقيق خونې ته بيولم.")؛ د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۱۹ نېټې مرکه ("دوي هڅه وکړه چې [زه] پر دې اعتراف وکړم چې ما د دولت ضد عناصرو لپاره کار کاوه، خو ما انکار کاوه. څرنګه چې د وهلو ډبولو پرمهال زما سترګې تړلې وې، دوي يوه ورقه راوړه او له ما يې ووغوښتل چې د پاڼې په پای کې ګوته ولګوم")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۳ نېټې مرکه ("د تحقيق پرمهال، زما سترګې تړل شوې وې، ما يوازې د تحقيق کوونکو غږ اورېده او هغوي ته مې ځواب ورکاوه.")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۶ نېټې مرکه (د استخباراتو په لوي رياست کې، "هغوي زما لاسونه ځولنه کړل او سترګې يې را وتړلې او زه يې بلې خونې ته يوړم. زما سترګې لا بيا هم تړلې وې، ما د دوو يا درېو کسانو غږ اورېدو، هغوي له ما پوښتنې کولې.")؛ د ۲۰۲۳ کال د اپريل د ۲۰ نېټې مرکه ("زه په دقيق ډول نه پوهيږم چې څو سرېيو له ما پوښتنې کولې ځکه چې له يوه ساعته د زياتې مودې لپاره زما سترګې تړلې وې. دوي نږدې تر دوو ساعتونو وروسته کله چې نور را ورسېدل زما سترګې پرانيستې")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۱۰ نېټې مرکه ("له کوم وخت راهيسې چې نيول شوی وم او کله چې د استخباراتو د لوي رياست په دفتر کې وم د لومړيو څو ساعتونو لپاره زما سترګې تړلې وې، د استخباراتو د لوي رياست په دويم ځای کې، کله چې هغوي زه تشناب او تحقيق لپاره وړم زما سر پوښل شوی و")؛ د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۱۴ نېټې مرکه ("له کوم وخت راهيسې چې ونيول شوم، د استخباراتو لوي رياست ته ورسيدو، په زندان خونه کې واچول شوم او تحقيق پرمهال، د اودس کولو پرته، زما سترګې نږدې د ټول وخت

سرېره چې مرکه ورکوونکي د تيري په وړاندې لا زيات زيانمنيدونکي ګرځوي، د سر پوښلو تجربه او تحقيق کوونکو د نه ليدلو وړتيا به ويره، فشار او د انګېرل شوي تهديد حس لا پسې زيات کړي.

په داسې حال کې چې حسي محروميت پخپله کولی شي د رواني اغېزو لکه وېرې، اضطراب، د لوړې کچې سټرس، سرګرداني او د ناتوانۍ د احساس لامل شي،[٤٦] د شکنجې د منع کمېټې موندلې چې "تر ځانګړو شرايطو لاندې د سر پوښل" د تحقيق پرمهال شکنجه تشکيلوي، په ځانګړې توګه په هغو مواردو کې چېرې چې پوښل د تحقيق له نورو اجباري طريقو[٤٧] سره چې پورته توضيح شوي، په ګډه وکارول شي. يوناما د نيونې، تحقيقاتو يا توقيف پرمهال د سترګو د تړلو، سر ته د کڅوړې اچولو يا سر د پوښلو پر عمل نيوکه کړې او پر *برحاله* مسؤولينو غږ کوي چې په صريح ډول دغه عمل منع کړي.[٤٨]




**پنځم تصوير: د نهاد او ډول پر بنسټ د شکنجې او ناوړه چلند ويش**

مرکه ورکوونکو د تحقيق مودې له لسو دقيقو نيولې تر ساعتونو پورې د مختلفو مودو سره مل شکنجې يا د ناوړه چلند نور شکلونه تشريح کړي. په ورته ډول، په داسې حال کې چې له يوې ادارې د توقيف پرمهال ځينې مرکه ورکوونکي د تحقيق يوازې په يوه مورد کې له ناوړه چلند سره مخ شوي، له نورو سره بيا دغه کار د مسلسلو شپو يا ورځو په اوږدو په مکرر ډول پېښ شوي.

لپاره تړلې وې؛ زه نږدې د څلور ساعتونو لپاره بندي وم")؛ د ٢٠٢٣ کال د مې د ٢٥ مرکه ("کله به چې [د استخباراتو لوي رياست] د شکنجې لپاره بلې خونې ته وړم، هغوی به زما سترګې تړلې چې نه زينې او نه هم اسمان وګورم. هغوی به زما سترګې تړلې يا به يې سر ته کڅوړه راچوله").

٤٦ د عدلي طب د کارپوهانو نړيوال ګروپ، "د پوښلو په اړه بيانيه"، *د شکنجې جورنال، ٢١ ټوک، ٣ شمېره چاپ (٢٠١١)، ١٨٨ مخ، پر راټلونکې انټرنېټ پاڼه د لاس رسي وړ ده:* https://irct.org/wp-content/uploads/2022/11/Volume-21-No.-3.pdf

٤٧ د شکنجې د منع کمېټه، د اسرائيلو ځانګړې راپور ته کتنه، ١٩٩٧، ٥ او ٨(١) پاراګرافونه.

٤٨ يوناما، په افغانستان کې د شکنجې منع کول او د توقيفيانو د حقونو مراعتول: د سولې يو فکتور، فبروري ٢٠٢١، ٢٤-٢٢ پاڼې، پر راټلونکې انټرنېټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/sites/Report on Treatment of conflict-related detainees_Feb.2021.

په داسې حال کې چې زیاتره یې د تهدیدونو او جسمي وهلو په اړه د ناوړه چلند راپور ورکوي، زیات شمېر مرکه ورکوونکي د پورته یادو شویو طریقو له یو شمېر یا له ټولو سره مخ شوي، چې مجموعه یې د شدت هغه حد ته رسیږي کوم چې شکنجه تشکیلوي:

> *زه اته ورځې شکنجه شوم، دا به تل د شپې له خوا و. زه یې یو خونې ته یوړم په مشخص ډول د شکنجې لپاره. زه یې په مختلفو طریقو شکنجه کړم. زه څلور یا پنځه ځله وهل شوی ټکول شوي یم او کله به چې بې هوښه شوم نو بېرته پر هوښ راتللو لپاره به یې پر ما اوبه اچولې. هوا به د شپې له خوا سړېده. د لومړیو دوه ورځو پرمهال به یې زه پر پښو وهلم. ما بوټان نه شول پر پښو کولی. بیا یې پر کیبلونو او پایپونو وهلم. بیا یې د برېښنایي ټکانونو ماشین وکاروه.* | - د ۲۰۲۳ کال د مۍ د ۲۵ نېټې مرکه – د استخباراتو د لوي ریاست په بند کې

په زیاترو مواردو کې وهل ډېول د برحاله مرکز د رئیس یا تحقیق کوونکي په لارښوونه او د څو نورو کسانو په مرسته ترسره شوي، لکه برحاله نورو مسؤولینو به شخص له لاسونو یا پښو نیوه.

> *هغه خپلو جنګیالیو ته وویل چې ما پر ځمکه څملوي پرته له دې چې ما ته د پوښتنو د ځوابولو فرصت راکړي. هغوی زه پر سر او ټول بدن په لغتو ووهلم. دوو یې لرګی راوخیست او زه یې وربانډې ووهلم. ما د مرستې په پار وژړل. څلورو یې زما لاسونه او پښې ونیولې او یوه یې زما پر مرۍ پښه کېښوده او تر دې حده یې فشار ورکړ چې ما ساه نه شوه اخیستلی. احساس مې کاوه چې ژوند مې له لاسه ورکړ. تر هغې وروسته هغه زما شکنجه کول ودرول.* | - د ۲۰۲۲ کال د نومبر د ۹ نېټې مرکه، د پولیسو په بند کې

> *وسله وال کسان شا و خوا ولاړ وو او د هغه د امر په تمه وو چې زما پر وهلو پیل وکړي. له شېږو تر اتو یې زما پر وهلو او لغتولو پیل وکړ. هغوی زه پر سر ووهلم. سترګه مې ژوبله شوه. هغوی زما دوه پوښتۍ ماتې کړې. هغوی زه ډېر سخت ووهلم تر دې چې بې هوښه شوم. پر ځمکه پروت وم. نه پوهېږم چې د څومره وخت لپاره به بې هوښه وم، تقریبا د ۱۵-۲۰ دقیقو لپاره.* | - د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۹ نېټې مرکه د پولیسو په بند کې

یوناما همدارنګه دوه موارد مستند کړي چېرې *برحاله* امنیتي مسؤولینو ادعا کړې چې د مرکه ورکوونکو د ډسپلین لپاره یې جسمي سزا کارولې لکه په کوټکونو د بندي وهل، د ځولنو کارول او د هغو بندیانو وهل چې یو بل سره جګړه کوي،[49] چې دغه دواړه کارونه په دې ډول منع شوې سزاګانې تشکیلوي او آن په استثنائي حالاتو کې هم د توجیه وړ نه دي. یوناما د محبسونو د *برحاله* چارواکو له خوا د فیزیکي کړنو او رواني وسیلو له لارې په محبس کې د ناوړه چلند پنځه موارد مستند کړي. په دې کې د یوه بندي په لغتو وهلو[50]؛ په سزا کې د بندیانو ټیل وهل او په کیبل وهل[51]؛ پر بندي د سړو اوبو اچول او په سړه هوا کې درول[52]؛ د یوه مرکه ورکوونکي سپکاوی، او د مرکه ورکوونکی تهدیدولو چې د *برحاله* ساتونکو د چلند په اړه د هغوی مشرانو ته

---

[49] د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۲۲ نېټې مرکه؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۱ نېټې مرکه.
[50] د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۲۵ نېټې مرکه ("له ما او ټولو نورو بندیانو سره د هغوی چلند له سپکاوي ډک و – د خوړو د ویش او کله به چې موږ شیانو ته اړتیا درلوده، دوي موږ ته سپکې سپورې کولې؛ کله چې ما غوښتل له خپلې کورنۍ سره اړیکه ټینګه کړم زه یې سپک کړم او په لغتو یې ووهلم").
[51] د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۶ نېټې مرکه ("دلته ځینې وختونه امنیتي ساتونکي په لاسونو وهل کوي، ځینې وختونه کیبلونه کاروي، لکه د ایرکنډیشن کیبلونه؛ هغوي ۵ یا ۶ کیبلونه سره یو ځای کول او بیا به یې موږ وربانډې بار بار وهلو").
[52] د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۲۴ نېټې مرکه؛ د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۲۴ نېټې مرکه.

شکايت و نه کړي، موارد شامل دي [53] يوناما همدارنګه د لنډې مودې لپاره د ځولنو د نا موجه کارونې موارد مستندي کړي، چې په مساوي ډول منع شوې سزاګانې تشکيلوي[54].

يوناما منې چې په کوچنې شمير مواردو کې مرکه ورکوونکو دا تاييد کړې چې د *برحاله* کورنيو چارو وزارت يا د *برحاله* استخباراتو د لوی رياست په بند کې له هغوی سره مؤدبانه چلند شوی. يوازې کم شمېر مرکه ورکونکو د بند پرمهال د ناوړه چلند راپور نه دی ورکړی، دا معمولا په هغو قضيو کې پېښ شوي چېرې چې هغوی يوازې په يوه ارګان کې بندي شوي.

سربېره پر دې، ګڼ شمير هغو مرکه ورکوونکو چې د دوو يا زياتو ارګانونو بند ته ليږدول شوي (د لا زياتو تحقيقاتو يا بند په پار) ډېرى وختونه د يوه ارګان په بند کې د ناوړه چلند يادونه کړې، خو نه په لازمي ډول په نورو هغو کې.

په عام ډول، د هغو مرکه ورکوونکو شمير چې په محبس کې يې د ناوړه چلند په اړه شکايت نه درلود، زيات و. له يوناما سره په رسمي روابطو او تعاملات کې، *برحاله* د بهرنيو چارو وزارت، همدارنګه د توقيف ځايونو *برحاله* رئيسانو او کارمندانو منلې چې په بند کې د شکنجې يا ناوړه چلند د کارونې ممنوعيت په شريعت کې راغلې.[55] له دې سره سره، د *برحاله* استخباراتو لوی رياست يو شمير مسؤولين يوناما ته منلې چې د هغوی په مراکزو کې ناوړه چلند ښايي زياتره د اعترافونو د ترلاسه کولو او رواني تهديدونه رښتيا ويلو ته د متهمينو تر فشار لاندې نيولو په پار پېښ شي، کوم څه چې کولای شي شکنجه رامنځته کړي.

## په بند کې مړينې

د ژوندانه حق يو له بنسټيزو بشري حقونو څخه ګڼل کېږي او د دولت په بند کې د بندي کسانو د ژوند ساتلو او په بند کې د رامنځ ته شويو مړينو د ځواب ويلو ځانګړې مسووليت لري.[56]په بند کې مړينې له بشري حقونو جدي سرغړونې ګڼل کېږي.

کله چې يو فرد د دولت په بند کې په غير طبيعي مرګ مري، په دغه حالت کې د دولت د مسووليت احتمال شته.[57] اړوند مسؤولين بايد سمدستي خپل خپلوان خبر کړي او د حالاتو روښانه کولو او د هر ډول ناسمو کړنو مسؤليت په ګوته کولو لپاره بشپړ او بې پرې تحقيقات پيل کړي.[58]

په بند کې مړينه هغه مهال له بشري حقونو سرغړونه ګڼل کېږي کله چې: شکنجه يا د ناوړه چلند يا سزا نور شکلونه د دولتي چارواکو يا نورو هغو له خوا ترسره شوي وي چې دولتي چارې پرمخ وړي؛ يا د بندي شوي د ژوند په ژغورنه کې د بندي کوونکو مسؤولينو پاتې راتلل، د مثال په ډول، د محبس د ناوړه وضعيت يا د نورو بنديانو له خوا د تاوتريخوالي له امله.

[53] د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۶ نېټې مرکه ("مور ته اخطار راکړل شو چې د ساتونکو د چلند په اړه خبرې و نه کړو يا به هغوي ما وېژني، او مور به په لوړو سزاګانو مجازات شو").

[54] د ۲۰۲۲ کال د اپريل د ۲۰ نېټې ليدنه؛ د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲۰ نېټې مرکه ("د دې ځای ساتونکي ښه خلک نه دي؛ دوي هغه څوک چې تښتي په کيبلونو او پايپونو وهي، بيا يې په خپلو خونو کې د څو ساعتونو لپاره په ځنځيرونو تړي").

[55] د مثال په ډول، يوناما، جسمي سزا او د مرګ جزا، مۍ ۲۰۲۳: ضميمه – د بهرنيو چارو د *برحاله* وزارت ځواب:"د اسلامي امارت امنيتي ارګانونه په قطعي ډول له خپلو عملياتي پاليسيو سره سم خپلې چارې پر مخ وړي او د تهديدونو، جسمي يا رواني شکنجې له لارې د جبري اعترافونو د کارولو په بشپړ ډول مخالف دي او دا يو جرم ګڼي."

[56] له محاکمې پرته، صحرايي او خپلسرو وژنو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي د راپور، A/61/311 ، ۵۴-۴۹ پاراګرفونه وګورئ .

[57] د بشري حقونو کمېټه، ۳۶ شمېره عمومي تبصره: ۶ ماده: د ژوند حق، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاقC/GC/36 /، ۲۹ پاراګراف.

[58] د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ۲ ماده، له محاکمې پرته، خپلسرو او صحرايي وژنو د مؤثر مخنيوي او تحقيقاتو اصول، ۹ اصل؛ د توقيف يا بند تر هر ډول شکل لاندې د ټولو اشخاصو د ساتنې د اصولو مجموعه (تر دې وروسته تر توقيف لاندې اشخاصو د ساتنې د اصولو مجموعې په نامه ياديږي)، ۳۴ اصل، د ملګرو ملتونو حداقل قواعد د بنديانو سره د چلند په اړه (له دی وروسته د منډيلا قواعد)، ۶۹ او ۷۱ قواعد.

یوناما په توقیف کې د ۱۸ افرادو مړینې مستندې کړي، چې پنځه یې د *برحاله* پولیسو په توقیف کې، ۱۱ یې د *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست په توقیف کې، او دوه هغه یې په *برحاله* محبس کې (وروستی دوه هغه یې شکنجې یا ناوړه چلند ته د منسوبونې وړ نه دي) رامنځ ته شوي.

یوناما په بند کې درې نورې مړینې مستندې کړې چېرې چې مرکه ورکوونکې په دې نه دي توانیدلي چې مسؤول لوري معلوم کړي. دا د *برحاله* امنیتي مسؤولینو په ګډون د *برحاله* چارواکو له خوا د ترسره شویو صحرايي وژنو له هغو ګڼ شمېر مواردو څخه جلا دي چې له بند څخه بهر رامنځ ته کېږي. ډیری وختونه امنیتي مسوؤلین د افرادو جسدونه د هغوي کورنیو ته د مړینې د حالاتو له تشریح پرته سپاري.




شپږم تصویر: په بند کې د مړینې مستند شوي موارد د اداراتو په تفکیک سره

د ۱۸ قربانیانو له جملې شپږ هغه یې د تیر حکومت د دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي، شپږ هغه د نورو وسله والو ډلو (د ادعا له مخې چې خپل ځان د ملي مقاومت جبهې یا د اسلامي دولت خرسان ولایت بولي) غړي، او شپږ نور اشخاص شامل دي چې له یاد شویو ډلو سره یې تړاو نه درلود.

یوناما د دغو قضیو په اړه له اړوندو چارواکو سره خپله مدافعه جاري ساتي څو ادعا شوي سرغړونې وڅیړي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي.




اوم تصویر: په بند کې مړینه، د تړاو په تفکیک سره

## د انفرادي حبس کارونه

> *پر دربیمه ورځ، هغوي زه یوې [مختلفې خونې] ته چې د "سزا خونې" په نامه یادېده یوړم. یو شخص داخل ته راغي او زه یې د وسپنې په ډنډه ووهلم. **زه به هغې خونې کې د پنځو نورو ورځو لپاره یوازې پرېښودل شوم.** ما د خلکو له خوا زیاتې چغې واورېدې. په دغه ځای کې شا و خوا ۳۰ "سزا" خونې موجود وې. په دغې خونه کې تر پنځو ورځو وروسته، تحقیق د دویم ځل لپاره پیل شو. دوی ما ته پنځه ورقې راوړې او را ته یې وویل چې زه خپل جرم منم. ما له هغوي سره اوږدې خبرې ترسره کړې چې زه [دغه تورونه نه منم]. هغوي بیا زما پر وهلو پیل وکړ. زما په بدن کې داسې ځای نه و پاتې چې د وسپنې ډنډه یې نه وي خوړلې. دغه وخت زما حالت ډېر خراب و. زه نه پوهېږم چې هغوي زه بېرته کله خونې ته وړی وم، زه بې هوښه وم. ما په مجموع کې هلته ۲۵ ورځې تېرې کړې. بیا هغوي زه په یوې بله خونه کې واچولم چېرې بیا هم یوازې وم.*

| - د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۱ نېټې مرکه، په دریو مختلفو بند ځایونو کې بندي شوی

په یوه زندان خونه کې له معقول انساني تماس پرته د ۲۲ یا زیاتو ساعتونو لپاره د یوه بندي یا محبوس جسمي یا ټولنیز تجرید ته انفرادي حبس وايي.[٥٩] په دغه ډول حبس کې معمولا له نورو بندیانو یا محبوسینو سره له تماس څخه بشپړ حرمان، او د توقیف ځای له مسؤولینو سره محدود تماس شامل دی – آن که چېرې بندي له زندان خونې څخه د لنډو مودو لپاره هم را وایستل شي، د مثال په ډول د تمرین لپاره. انفرادي حبس یوازې په استثنايي شرایطو کې[٦٠] د وروستی چارې په څېر د خورا محدود وخت[٦١] لپاره چې له ۱۵ ورځو[٦٢] څخه زیات نه وي، او د تضمینونو او قضايي کتنې له لازم رعایت سره مجاز دی. د دغو شرایطو د نه پوره کېدو په صورت کې د انفرادي حبس کارونه ښايي شکنجه یا ناوړه چلند رامنځته کړي. [٦٣] سربېره پر دې، د سزا، تهدید، اکراه یا معلوماتو یا اعتراف ترلاسه کولو یا پر توپیر ولاړ د بل هر هدف لپاره په عمدي ډول د انفرادي حبس کارونه، او دا چې رامنځ ته شوي درد یا کړاو شدید وي، کولی شي شکنجه رامنځته کړي.[٦٤] انفرادي حبس ښايي یوازې په رسمي ډول له اعلان شوي حقوقي یا تنظیموونکي چوکاټ سره په تطابق کې وکارول شي.[٦٥]

یوناما ۱۹ داسې موارد مستند کړي چېرې چې مرکه ورکوونکي د *برحاله* امنیتي مسؤولینو په توقیف کې په انفرادي حبس کې، یا په یوه زندان خونه یا هم کنټینر کې بندي شوي. د دغو له جملې، درې مورده *برحاله* پولیسو (له یو نیولې تر ۱۳ ورځو پورې)، ۱۶ مورده *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست (چې یو مورده یې د

[٥٩] منډیلا قواعد، ۴۴ قاعده.
[٦٠] د مثال په ډول، چېرې چې اړتیا وي، په جرم د تورنو کسانو ترمنځ د دسیسې جوړولو مخه ونیسي؛ یا د دې هڅه کوي چې د یوه جرم د تحقیق له ناکامولو څخه د یوه شخص مخه ونیسي. د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي جوان مینډیز - د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په ۶۶ ناسته کې د تفاعلي ډیالوګ پرمهال د غړو دولتونو له خوا مطرح شویو پوښتنو ته ځوابونه، ۱۸ اکتوبر ۲۰۱۱، ۱ او ۸ پاراګرافونه وګورئ.
[٦١] د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي خوان مینډیز ځانګړی راپور، ۲۰۱۱، A/66/268، ۸۹پارګراف؛ د شکنجې د منع کمېټه، نهايي ملاحظات: د امریکا د متحده ایالاتو راپورونه، ۱۹ ډسمبر ۲۰۱۴، CAT/C/USA/3-5، ۲۰ (الف) پاراګراف ("د یوه اقدام او وروستۍ چارې په څېر د انفرادي حبس کارونه د ممکن لنډ وخت لپاره، تر سخت څار لاندې له ممکنه قضايي کتنې سره، محدوده کړئ"۹؛ نهايي ملاحظات: د جاپان راپور، ۲۸ جون ۲۰۱۳، CAT/C/JPN/CO/2، ۱۴ (الف) پاراګراف؛ نهايي ملاحظات: د بوسنیا او هرزیګوینا راپورونه، ۲۰ جنوري ۲۰۱۱، CAT/C/BIH/CO/2-5، ۱۹ (د) پاراګراف.
[٦٢] د منډیلا قواعد، ۴۳ (۱)(ب) او ۴۴ قاعدې. په ۲۰۱۵ کال کې د منډیلا د قواعدو او د ګڼ شمیر ځانګړو راپور ورکوونکو د نظریو تر کتنې وروسته، ۱۵- ورځنۍ موده یو معیار وګرځید. د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي خوان مینډیز مؤقت راپور، ۲۰۱۱، A/66/268 ، ۲۶ پارګراف وګورئ.
[٦٣] د بشري حقونو کمېټه، موکونګ د کامیرون په وړاندې، ۴۵۸/۱۹۹۱ شمېره ابلاغ، ۱۹۹۴، ۹.۴ پاراګراف؛ د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي جوان مینډیز ځانګړی راپور، ۲۰۱۱، A/66/268، ۷۶-۷۵ پارګرافونه.
[٦٤] د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي خوان مینډیز ځانګړی راپور، ۹ اګست ۲۰۱۳، A/68/295، ۶۰پارګراف.
[٦٥] د منډیلا قواعد، ۳۷ (د) او ۳۹ (۱) قاعده؛ د شکنجې د منع کمېټه، نهايي ملاحظات: د لیکزیمبرګ راپورونه، ۲۰۰۲، CAT/C/CR/28/2، ۶ (ب) پاراګراف. د منډیلا قواعد د نړیوال عرفي قانون په څېر منل شوي او د بشري حقونو کمېټه تایید کړې چې د منډیلا له قواعدو سره تطابق د توقیف د نړیوالو معیارونو د پوره کولو لپاره اړین ګڼل کېږي، د بشري حقونو کمېټه وګورئ، د مکالم د جنوبي افریقا په وړاندې، ۱۸۱۸/۲۰۰۸ شمېره ابلاغ، ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۰، ۶. ۸ پاراګراف ("له آزادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره چلند باید د نورو هغو ترڅنګ، له بندیانو سره د چلند د ملګرو ملتونو معیاري حد اقل قواعدو سره په سمون کې ترسره شي.").

ښځو په اړه دي)؛ يو مورد کې شخص هغه يې *برحاله* استخباراتو لوی رياست کې (چې تر ۵۰ ورځو پورې رسيږي) اندېښني را ولاړې کړي کوم چې اوږد مهاله منع شوی انفرادي حبس او شکنجه ګڼل کيږي.

دا روښانه نه ده چې آيا د انفرادي حبس اوسنۍ کارونه د کوم قانون يا حقوقي چوکاټ له مخې تنظيميږي، او زياتو معلوماتو ته په کتو، دا روښانه نه ده چې آيا انفرادي حبس عمدي و، لکه د تحقيق په مقصد. په هر صورت، په ګڼو مواردو کې مرکه ورکوونکو خبر ورکړې چې هغوی له هغو زندان خونو چېرې چې په انفرادي حبس کې ساتل کيدل له څو ورځو وروسته د نورو بنديانو زندان خونو ته ورول شوي، کوم څه چې په لومړي نظر کې د *برحاله* چارواکو له خوا د قصدي جلاتوب يوه درجه په ډاګه کوي.




اتم تصوير: د انفرادي حبس مستند شوي موارد، د ادارو په تفکيک سره



# تضمینونه

## د تطبیق وړ چوکات

د بشري حقونو نړیوال قانون یو لړ حقوقي او اجراآتي تضمینونو رانغاړي کوم چې له خپلو آزادیو څخه محروم شوي کسان د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو شکلونو په وړاندې حمایه کوي او مهم ګڼل کېږي. دغه حقونه په برابر ډول عادلانه محاکمې او مناسبو اجراآتو ته د اشخاصو د حق د خوندي کولو لپاره اړین دي. په دغو تضمینونو کې راتلونکي حقونه شامل دي:

- د بندي کیدو او/یا نیونې له لاملونو او د هغوي په اړه له لګول شویو تورونو په سملاسي ډول خبریدل (د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۹ (۲) او ۱۴ (۳) مادې، او د منډیلا قواعد، ۱۱۹ قاعده)؛
- پر هغې ژبه چې دوي پرې پوهیږي له خپلو حقونو په سملاسي ډول خبریدل (د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۴ (۳) ماده؛ د منډیلا قواعد، ۵۴-۵۵ قواعد؛ په بند کې د اشخاصو د حمایت د اصولو مجموعه، ۱۳ اصل)؛
- حقوقي مرستې ته د لاس رسي لرل (د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۴ (۳) ماده؛ د منډیلا قواعد، ۱۱۹ (۲) قاعده))؛
- تر نیونې وروسته د هغوي د ځای ځایکي په اړه د کورنۍ د غړو یا دربیم لوري خبریدل (د منډیلا قواعد، ۶۸ قاعده)؛
- د نیونې پرمهال د یوه ډاکټر یا طبي پرسونل له خوا معاینه کیدل او د اړتیا په صورت کې د تخصصي طبي پاملرنې ترلاسه کول (په بند کې د اشخاصو د حمایت د اصولو مجموعه، ۲۴ اصل؛ د منډیلا قواعد، ۲۴-۳۵ قواعد)؛
- د قضایي مقام ته په چټک ډول حاضرول او د محکمې په وړاندې د توقیف د قانونیت ننګول (محکمې ته احضارولو حکم) (د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ۹ (۳) او (۴) ماده؛ په بند کې د اشخاصو د حمایت د اصولو مجموعه، ۹ او ۱۱ اصول)؛
- تر هغې چې له قانوني محکمې سره سم ګرم نه وي ثابت شوی بې ګناه ګڼل او د خپل ځان په ضد شاهدي ورکولو یا پر ګناه اعتراف کولو ته نه اړ ایستل (د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۱۱ (۱) ماده؛ د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۴ (۲) او (۳)(ز) ماده، په کومه کې چې د چپ پاتې کېدو حق او د هغو معلوماتو او بیانونو چې په قضایي اجراآتو کې د اکراه له لارې اخیستل شوې د نه شاملولو حق شامل دي (د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۷ ماده)؛

پر دې سربېره، ټول دغه اجراآتي تضمینونه باید "په موثر ډول د لاس رسي" وړ وي، په دې معنا چې (الف) په اړه یې قانوني صراحت موجود وي او (ب) څرنګه چې په پام کې نیول شوي، عمل کوي. همدارنګه دغه تضمینونه باید له کوم تبعیض پرته د هر بندي لپاره او همدارنګه د زیانمنتوب په حالاتو کې د بندیانو لپاره د لاس رسي وړ وي.

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د مدافع وکيل او له هغه سره د محرمانه مکالماتو/مراسلاتو د درلودلو د حق، د نيونې پرمهال له اتهامه د خبرېدو د حق، او په محکمه کې پر وخت د حاضرولو د حق په اړه صراحت لري (۳۱ ماده). همدارنګه د جزائي اجراآتو قانون او نور اړوند قوانين هغه حقونه تضمينوي کوم چې د شکنجې او ناوړه چلند د منع لپاره د مهمو تضمينونو په څير انګيرل کېږي.[٦٦] د هغو کسانو لپاره چې بندي شوي او له خپلې آزادي څخه محروم شوي، د ۲۰۱۴ کال د جزائي اجراآتو قانون د يو شمير هغو حقونو په اړه صراحت لري چې د متهمينو او شکمنو خلکو لپاره تضمين شوي په کومو کې چې راتلونکي هغه شامل دي: ۷ (۱) ماده، د جرم په تور او اتهاماتو پوهيدل، ۷ (۲) ماده، له خپلسرې نيونې او توقيف څخه خونديتوب او د دغه ډول چلند لپاره د خسارې جبران، ۷ (۳) ماده، له شکنجې او ناوړه چلند څخه خونديتوب، ۷ (۴) ماده، له نيونې څخه د کورنۍ خبريدل، ۷ (۵) ماده، په آزادنه ډول د مطالبو بيانول، ۷ (۶) ماده، د سندونو، مدارکو او شاهدانو وړاندې کول، ۷ (۷) ماده، چپ/غلی پاتې کيدل، ۷ (۸) ماده، د مدافع وکيل ټاکل يا د حقوقي مرستې برابرونکې لرل، ۷ (۱۳) ماده، د توقيف د قانونيت د کتنې غوښتنه، او ۷ (۱۴) ماده، له خپل قانوني استازي سره په آزاد او محرمانه توګه ليکلې يا شفاهي اړيکه.[٦٧]

څرنګه چې يې يادونه وشوه، د دغو متنونو او د هغوي د انفرادي حمايتونو حقوقي وضعيت اوس مهال روښانه نه دی. په داسې حال کې چې د راپورونو له مخې له شريعت سره د تطابق په پار بيا کتنه دوام لري. د نورو متنونو يا لارښوونو چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ وروسته صادر شوي ته ارجاع به د لاندې ياد شوي هر حق لپاره د اړتيا په صورت کې ترسره شي.

له شک پرته چې د نيونې له وخت پيل د دغو حقوقي او اجراآيي تضمينونو تطبيق د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو شکلونو په وړاندې د اشخاصو د مؤثرې ساتنې په پار مهم ګڼل کېږي. سربېره پر دې، د شکايتونو د اوريدو د خپلواکو، لاس رسي وړ او مؤثرو ميکانيزمونو شتون چې د تيريو په اړه راپور ورکړي او د خپلواکو ادارو له خوا څار د سرغړونو په وړاندې پراخ خونديتوب برابروي.

## د نيونې لاملونو په اړه معلومات

هر څوک چې نيول کېږي بايد د نيونې پرمهال د نيونې له لاملونو خبر شي او زر تر زه د هغه/هغې په ضد پر لګول شويو تورونو پوه شي.[٦٨] دغه حق د کمېدو وړ نه دي آن په اضطراري حالت کې هم.[٦٩] د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۳۱ ماده هم په دې اړه په عين ډول صراحت لري. د بنديانو د نظام د سمون په اړه د طالبانو د مشر طرز العمل د خبرتيا په دې نقطه کې چپ دی.

[٦٦] د جزائي اجراآتو قانون (۲۰۱۴) ۷ او ۸ مادو سريېره؛ د نظامي د جزائي اجراآتو قانون (۲۰۱۰) ۱۳، ۱۴ او ۲۱ مادې؛ د پوليسو قانون (۲۰۰۹) ۱۵ (۴) ماده؛ د مدافع وکيلانو قانون (۲۰۰۷) ۱۰ ماده.

[٦٧] د ۲۰۱۴ کال د جزائي اجراآتو د قانون ۷ ماده د يو شمير هغو اضافي حقونو يادونه کوي کوم چې د عادلانه محاکمې په ډاډمنولو کې لا زياته مرسته کوي، خو د دغه سند له محدودې څخه بهر واقع دي. په دې کې راتلونکي هغه شامل دي: (۹) د ضبط شوو شيانو او مدارکو په هکله اظهار نظر، (۱۰) د ترجمان لرل، (۱۱) د دفاعې د تيارولو لپاره په دوسيه کې شاملو موادو ته لاس رسي لرل، (۱۲)پر جزائي اجراآتو اعتراض، (۱۵) بې له ځنډه عدلي تعقيب، (۱۶) علني محاکمه، (۱۷) د محاکمې په بهير کې حضور، (۱۸) په محکمه کې د ورستې خبرې ويل (۱۹) د شاهدانو د جرح حق، او (۲۰) د قاضي، څارنوال، مدافع وکيل او اهل خبره د رد حق.

[٦٨] د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ۹ (۲) ماده په دې اړه تصريح کوي چې افراد بايد د نيونې پرمهال خبر شي؛ د توقيف يا زندان تر هر شکل لاندې د ټولو خلکو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۰ اصل.

[٦٩] د بشري حقونو کمېټه، د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق پر ۴ ماده ۲۹ شمېره عمومي تبصره (په اضطراري حالت کې د نه قيدولو شرايط)، ۳۱ اګست ۲۰۰۱، CCPR/C/21/Rev.1/Add.11، ۱۶ پاراګراف؛ همدارنګه د بشري حقونو د کميسيون، د خپلسري توقيف په اړه د کاري ګروپ – نظريې وګورئ چې د مدني او سياسي حقونو په اړه تصويب شوي، د شکنجې او توقيف د پوښتنې په ګډون، ۳/۲۰۰۴ شمېره نظريه (اسرائيل)، ۱۹ نومبر ۲۰۰۴، E/CN.4/2005/6/Add.1، ۳۳ پاراګراف؛ د بشري حقونو د شورا پرېکړه ليک، 15/18, A/HRC/RES/15/18 ۴ (هـ) پاراګراف، د بشري حقونو کمېټه، ۸ شمېره عمومي تبصره: ۹ ماده (د اشخاصو د آزادۍ او امنيت حق)، ۳۰ جون ۱۹۸۲، ۴ پاراګراف.

د بشري حقونو کمېټه په دې باور ده، دا حقیقت چې نیوونکی مسؤول ښايي دا باور ولري چې یو شخص به له هغو لاملونو خبر وي چې له امله یې هغه نیول شوی، نوموړی مسؤول د لاملونو د توضیح له مکلفیت څخه نه معاف کوي.[۷۰]




**نهم تصویر: مستند شوي موارد چېرې چې اشخاص د نیول کیدو لاملونو په اړه نه دي خبر شوي.**

یوناما ۱۴۰ داسې موارد مستند کړي چېرې چې افراد د نیونې پرمهال د هغوی د نیونې د لاملونو په اړه نه وو خبر شوي. په دې کې د *برحاله* پولیسو له خوا د نیونې ۷۳ مورده (چې ۴۸ هغه یې د ښځو په وړاندې وو) او د *برحاله* استخباراتو د لوی ریاست له خوا د نیونې ۶۷ مورده (چې اوه هغه یې د ښځو په وړاندې وو) شامل دي.

ډیری مرکه ورکوونکو توضیح کړې چې هغوی د تلبس په حالت یا په داسې شرایطو کې نیول شوي چې د دوی د نیول کیدو لامل یې څرګند کړی، لکه د وسلو یا منع شوي توکو درلودل یا په هغو فعالیتونو کې برخه اخیستل چې *برحاله* چارواکي یې ناقانونه بولي لکه لاریونونه. *برحاله* امنیتي مسؤولین په انفرادي ډول د نورو مرکه ورکوونکو د نیول کیدو په لټه کې وو، یا د شکایت له ترلاسه کولو وروسته، یا د نیولو حکم اجرا کول یا د یوې قضیې په اړه د اضافي معلوماتو لپاره. آن کله چې *برحاله* امنیتي مسؤولین په خپل میشت یا کار ځای کې د افرادو د نیونې په لټه کې وو، مرکه ورکوونکې د نیونې پرمهال د نیونې پر لاملونو نه دي خبر شوي، او مخکې له دې چې په زور ونیول شي، هغوی ته د نیونې کوم ادعا شوی امر نه دی ورښکاره شوی. کله چې افرادو د هغوی د نیونې د لاملونو په اړه پوښتنه کړې، *برحاله* امنیتي مسؤولینو د ځواب ویلو څخه ډډه کړې، چې په مبهم ډول یې ویلي "بیا وروسته" یا "بیا به پوه شئ".[۷۱] په نورو قضیو کې، له مرکه ورکوونکو سره د *برحاله* امنیتي مسؤولینو له

[۷۰] د بشري حقونو کمېټه، ګرانت د جامیکا په وړاندې، ۵۹۷/۱۹۹۴ شمېر ابلاغ، ۲۲ مارچ ۱۹۹۶، (1996) CCPR/C/56/D/597/1994، ۱.۸ پاراګراف (سرغړونه هغه مهال راپورته شوه کله چې شکایت کوونکی تر نیونې اوو ورځې وروسته خبر شو).

[۷۱] د مثال په ډول، د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۴ نېټې مرکه (هغوي ما ته د نیونې د لاملونو په اړه څه و نه ویل. هغوي وویل چې د کورنیو چارو وزارت په وزارت پورې مربوط یو او راته یې وویل: "راځئ چې په موټر کې کښېنو او هلته خبرو ته دوام ورکړو")؛ د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۲۳ نېټې مرکه ("زه X امنیتي حوزې ته ولاړم څو له خپل بندي شوي ورور سره مرسته وکړم؛ کله چې هلته ولاړم، هغوي زه هم ونیولم او له هغه سره یې په زندان خونه کې واچولم خو دا یې را ته ونه ویل چې ولې. موږ د ۵ ساعتونو لپاره بندیان وو، له موږ یوه سره یې هم نه مرکه وکړه نه تحقیق، بیا یې موږ خوشې کړو")؛ د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۱۹ نېټې مرکه ("هغوي راته وویل چې زه باید له هغوي سره لاړ شم. ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې ولې. هغوي را ته وویل چې دوي به را ته بیا وروسته ووايي چې ولې خو اوس نه. زما ماشومانو په ژړا پیل وکړ. خو هغوي بیا هم زما سترګې او سر وپوښل او خپل موټر کې یې واچولم.")؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۳ نېټې مرکه ("د استخباراتو د لوي ریاست څو کسان ما ته راغلل او ما ته یې وویل چې هغوي ما نیسي. "ما پوښتنه وکړه، ما ولې نیسئ؟ ما څه کړي؟ ما چیرې وړئ؟" هغوي را ته وویل چې هغوي ما نږدې [مرکز] ته وړي او بیا به راته ووايي چې هغوي زه ولې نیول یم")؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۳ نېټې مرکه ("د وسله والو طالب جنګیالیو یوه ډله زما کور ته راغله او د کور دروازه یې وټکوله. زما زوی ځواب ورکړ چې زه په کور کې نه یم خو هغوي په زور کور ته را ننوتل او زه چې پټ شوی وم، پیدا یې کړم. هغوي زه په خپل موټر کې واچولم. له دوي سره د پولیسو دوه موټر او شا و خوا لس طالب وسله وال موجود وو. دوي ما ته زما د نیونې د لاملونو په اړه څه و نه ویل.")؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۸ نېټې مرکه ("نږدې لس طالب وسله وال را ورسیدل چې ځینو یې یونیفورم پر ځان و او ځینې په ملکي جامو کې وو. دوه یې ما ته راغلل او پر ما یې چغې کړې چې هغوي غواړي ما له ځان سره خپل دفتر ته یوسي. ما له هغوي پوښتنه وکړه چې ولې او د کوم هدف لپاره. هغوي له ځواب راکولو ډډه وکړه. ما له هغوي پوښتنه وکړه چې هغوي څوک او له کوم ریاست څخه راغلي. دوي همدارنګه له دې ډډه وکړه چې د خپل ځان په اړه څه ووايي. ما ته زما د نیونې د لاملونو په اړه خبر را نه کړل شو. دوه طالبانو زما لاسونه ځولنه کړل، زما سترګې یې وتړلې او په زور یې په موټر کې واچولم.")؛ د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۲۵ نېټې مرکه ("زه د نږدې شپږ وسله والو طالبانو له خوا ونیول شوم. یوه یې را څخه وغوښتل چې له هغوي سره لاړ شم. ما هغه ته وویل چې چیرې او ولې؟ هغه را ته وویل چې د پولیسو قوماندان غواړي له تا سره ووینې. دوي ما ته زما د نیونې د لاملونو یاده ونه کړه. کله چې د پولیسو قوماندانۍ ته ورسیدو، هغوي زه بندي کړم. په توقیف ځای کې هر چا له ما څخه زما د نیونې د لامل په اړه پوښتنه کوله. ما هغوي ته وویل چې زه دلته د پولیسو له قوماندان سره د لیدنې لپاره راوړل شوی یم")؛

خوا اړیکه نیول شوې او له هغوي غوښتل شوي چې ځان یوې اړوندې ادارې ته حاضر کړي، چې تر رسیدو وروسته نیول شوي.[۷۲]

زیاتره مرکه ورکوونکي یوازې په لومړي بند ځای کې د خپلې نیونې په لامل پوه شوي، که څه هم غالبا د توقیف څخه که څو ورځې وروسته نه وي بلکې څو ساعته وروسته وي. ډیری وختونه، د لومړي تحقیق پرمهال د نیونې لاملونه روښانه شوي، کوم څه چې ښایي په بند کې د څو ورځو له تیریدو وروسته ترسره شي. حتی بیا هم، ډیری اشخاصو یوازې د خپل بندي کیدو لاملونه د *برحاله* امنیتي مسؤلینو له خوا د مطرح شویو پوښتنو له سیاق څخه استنباط کړي.[۷۳] د نیونې له سیاق سره سره، نیوونکي مسؤلین باید تل شخص ته د هغه/هغې په وړاندې د لګول شویو تورونو په اړه په هغې ژبې خبر ورکړي چې هغوي پرې پوهیږي، څو وکولی شي د بندي کیدو قانونیت وننګوي.

## د حقونو په اړه معلومات

د دې په پار چې د یوه شخص حقونه تامین شي، اساسي شرط یې له هغوي خبریدل ګڼل کېږي. د نیونې د مسؤلې ادارې له خوا د نیونې، توقیف یا حبس په اړه هر شخص ته باید د نیونې پرمهال یا د توقیف یا حبس د پیل پرمهال، یا تر هغه وروسته په سملاسي ډول، معلومات او د دغو حقونو په اړه تشریح او دا چې له دغو حقونو څخه څرنګه ګټه پورته کولی شي، وړاندې کړي.[۷۴] د بشري حقونو نړیوال معیارونه د دې غوښتنه کوي چې د دغو بنسټیزو حقونو په اړه معلومات باید د نیونې په پیل کیدو سره ورکړل شي او د هر تحقیق یا پوښتنو ګرویږنو له پیل کېدو مخکې تکرار شي، پر یوې داسې ژبه چې د پوهیدو وړ او په داسې طریقه چې د مختلفو زیانمنتوبونو ملاحظات په پام کې نیسي.[۷۵]

په افغانستان کې د قوانینو له مخې، د ۲۰۱۴ کال د جزائي اجراآتو د قانون ۸ ماده د دې غوښتنه کوي چې "پولیس د نیولو پر وخت، څارنوال له تحقیق د مخه او قاضي له محاکمې د مخه مکلف دي د دې قانون په اوومه ماده کې درج شوي حقوق مظنون او تورن یا د هغوي قانوني استازي ته څرګند او موضوع په محضر کې درج، د هغوي لاسلیک او د ګوتې نښه واخلي." د اشخاصو حقونو په اړه به تر هر فرعي عنوان لاندې په خپل وار بحث وشي.

څرنګه چې (اوس منحل شوی) *برحاله* لوی څارنوالي د ۲۰۲۲ په اګست کې د څارنوالانو تحقیقاتي نقش وځنډاوه، څارنوالان نور توقیف ځایونو ته لاس رسی نه لري، د پولیسو له خوا چمتو شوې قضیې نه ارزوي

---

د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲ نېټې مرکه (د پولیسو له قوماندانۍ څخه یوې طالب ډلې زه ونیولم، ځولنه یې کړم او زما سره ته یې کڅوړه واچوله. "ما له هغوي پوښتنه وکړه چې هغوي ما ولې نیسي. هغوي ما ته وویل چې زه به یې په لامل وروسته پوه شم.")؛ د ۲۰۲۲ کال د نومبر د ۱۵ نېټې مرکه ("د کوم لامل له راکولو پرته زه له خپل دفتر څخه یوړل شوم. [په توقیف] کې له اوومې شپې وروسته دوي له ما په سم ډول تحقیق وکړ او زه پر دې پوه شوم چې هغوي څه غواړي").

[۷۲] د مثال په ډول، د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۲۵ نېټې مرکه ("د استخباراتو د لوي ریاست یوه آفسر ما ته زنګ وکړ او له ما یې وغوښتل چې د اسخباراتو د لوي ریاست دفتر د تحقیق لپاره ورشم. کله چې هلته ورسیدلم، هغوي زه سملاسي ونیولم او د نوموړي ریاست په کمپاونډ کې په یوه توقیف ځای کې یې واچولم. دوي ما ته په دې اړه څه و نه ویل چې زه یې ولې نیولی یم. د تحقیق/مرکې په خونه کې هغوي له ما څخه زما د تېرې سابقې په اړه وپوښتل")؛ د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲۰ نېټې مرکه ("سره له دې چې زه په بل زون کې وم، زه یې د استخباراتو د لوي ریاست دفتر ته ور وغوښتم. زه نه وم خبر شوي چې له ما یې ولې هلته د تګ غوښتنه کوله، خو کله چې هلته څو پله ولاړم زه یې بندي کړم")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۲۲ نېټې مرکه ("د ولسوالۍ د پولیسو قوماندان زه خپل دفتر ته ور وغوښتم. کله چې هلته ورسیدم، د پولیسو قوماندان ما ته وویل چې له څلورو سړیو سره لاړ شم څوک چې ما د پولیسو له قوماندانۍ د باندې منتظر وو، له هغوي سره د استخباراتو له لوي ریاست څخه یو رسمي مکتوب و؛ هغوي زه له ځان سره یوړم").

[۷۳] د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۵ نېټې مرکه ("هغوي زه په خپل کور کې ونیولم، سملاسي یې زما لاسونه ځولنه کړل، زما سترګې یې وتړلې، او پرته له دې چې یوه کلمه هم ووایې زه په موټر کې واچولم. ما له هغوي پوښتنه وکړه چې دوي څوک دي. خو هغوي په ساده ډول وویل: "تشویش مه کوه. ډیر زر به پوه شي." څو ساعته وروسته، او کله چې یې د پولیسو په قوماندانۍ کې پوښتنې وکړې بیا پر دې پوه شو چې هغوي څه غوښتل، خو بیا هم هغه پر دې نه پوهیده چې کوم غلط کار یې کړی)؛ د ۲۰۲۲ کال د جولای د ۱ نېټې مرکه (تر نیونې یوازې درې اونۍ وروسته د اتهاماتو په اړه پوه شو، کله چې تحقیق پیل شو)؛ د ۲۰۲۲ کال د نومبر د ۱۵ نېټې مرکه ("په توقیف کې له اوومې شپې وروسته دوي له ما په سم ډول تحقیق وکړ او زه پر دې پوه شوم چې هغوي څه غواړي").

[۷۴] تر توقیف لاندې اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۳ او ۱۴ اصول؛ د منډیلا قواعد، ۵۴ او ۵۵ قواعد.

[۷۵] د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي خوان مینډیز ځانګړی راپور، ۵ اګست ۲۰۱۶، A/71/298، ۶۹ پاراګراف.

يا په توقيف کې له بنديانو څخه تحقيق نه ترسره کوي. څرنګه چې د طالبانو د مشر د بنديانو د نظام د سمون طرز العمل کې په ډاګه شوي، اوس مهال *برحاله* پوليس او د استخباراتو لوی رياست مسؤلين په يوازې ډول د مرکو د ترسره کولو او *برحاله* محکمو ته د ارجاع په پار دوسيې چمتو کولو مسؤول دي،[٧٦] او د دې په نتيجه کې، بنديان د هغوي د حقونو په اړه خبروي.

تر دې مهال، يوناما د توقيف داسې هيڅ مورد نه دی ثبت کړی چېرې چې د *برحاله* پوليسو يا استخباراتو لوی رياست مسؤلينو له خوا مرکه ورکوونکي په عام ډول د هغوي د کليدي حقونو په اړه چې لاندې مشخص شوي د هغوي د نيونې پرمهال يا د *برحاله* پوليسو يا استخباراتي مسؤلينو توقيف ځای ته د داخلولو پرمهال خبر کړای شوي وي، يا دا چې د توقيف پرمهال څرنګه شکايت وکړي. يوناما يوازې يو مورد ثبت کړی چېرې چې يو مرکه ورکوونکی مخکې تر دې چې *برحاله* امنيتي مسؤلين تحقيق پيل کړي د لږ تر لږه دوه کليدي حقونو په اړه خبر کړای شوی.[٧٧] د محبسونو په برخه کې، يوازې دوه مرکه ورکوونکو محبس کې له محاکمې مخکې محبس ته د داخليدو پرمهال له خپلو حقونو خبريدل تاييد کړي. په داسې حال کې چې نږدې ټولو مرکه ورکوونکو تاييد کړې چې د محبسونو د مسؤلينو له خوا هغوي په محبس کې له محاکمې مخکې حبس ته د شاملولو پرمهال له خپلو حقونو نه دي خبر شوي، دوي يې په اړه له خپلو ملګرو بنديانو څخه خبر شوي چې په عام ډول د ګټې لپاره د لاس رسي وړ وو، څرنګه چې يې په اړه لاندې بحث شوی.

## مدافع وکيلانو ته لاس رسی

حقوقي مساعدت ته د لاس رسي حق پر هر هغه شخص تر نيول کېدو وروسته يا د توقيف او جنايي اجراآتو په اوږدو کې په سملاسي ډول د تطبيق وړ دی چې نيول شوی يا بندي شوی وي.[٧٨] دغه حق په مشخص ډول د عادلانه محاکمې د يوه اړين تضمين په څير رامنځ ته شوی،[٧٩] او د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو شکلونو د کړنو يو مخه نيوونکی عامل دی. د هغو کسانو لپاره چې له خپلې آزادۍ محروم شوي وي مدافع وکيل ته بې له ځنډه لاس رسی خورا مهم دی څو وکولی شي د خپلې دوسيې د ټولو اړخونو په اړه مکالمه ترسره کړي، په کومه کې چې د ناوړه چلند چې د توقيف پرمهال پروسه اغيزمنوي، په اړه معلومات شامل دي (همدارنګه د لا زياتو معلوماتو لپاره دا برخه وګورئ [د بې طرفه قاضي په وړاندې د حاضرولو او د توقيف د قانونيت د ننګولو حق](#)).

د دغه هدف په پار، د جزائي اجراآتو په ټولو پړاوونو کې، له نيونې پيل او د پوليسو له خوا د تحقيق په لومړنيو مرحلو کې، بنديانو ته بايد د هغوي د خپلې خوښې په شمول حقوقي مرستې ته لاس رسي ورکړل شي.[٨٠] د ادارې له خوا بايد هغو کسانو ته چې په جنايي جرمونو متهم دي او د مدافع وکيل د ګمارلو وس نه لري، حقوقي مرسته برابره شي.[٨١] بنديانو ته بايد همدارنګه اجازه ورکړل شي چې له خپلو مدافع وکيلانو سره په محرمانه ډول مکالمه ترسره کړي.[٨٢] مدافع وکيل ته د لاس رسي په حق کې د شخصي خبرو اترو او د تحقيق

---

[٧٦] د طالبانو د مشرد بنديانو د نظام د سمون طرز العمل په هکله د ١٧ جنوری ٢٠٢٢ کال، ١٧٥ ګڼه فرمان، ٣٩ ماده: "...امنيتي ادارې دې هغه شواهد، اسناد، او قرائن چې د متهم اتهام ثابتوي لکه د ګرفتاري محضر او په جرم کې د تلبس حالت او د راپور توثيق د دوي وظيفه ده چې د دوسيې په شکل کې به يې محکمې ته وړاندې کوي."

[٧٧] د ٢٠٢٣ کال د فبروري د ١٥نېټې مرکه (د پوليسو/د جنايي جرمونو د تحقيقاتو د رياست د توقيف پرمهال)

[٧٨] د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي خوان مينديز ځانګړی راپور، ۵ اګست ٢٠١۶، A/71/298، ۶۶-۶۴ پاراګرافونه.

[٧٩] د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ١۴ (٣)(ب) ماده؛ دغه راز د نړيوالې جنايي محکمې لپاره د روم اساسنامې، ۶٧ (١)(د) ماده وګورئ.

[٨٠] د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ١۴ (٣)(د) ماده؛ د بشري حقونو کمېټه، نهايي ملاحظات: د جورجيا راپور، اپريل ١٩٩٧، CCPR/C/79Add.74، ٢٨ پاراګراف؛ د بشري حقونو کمېټه، ٣٢ شمېره عمومي تبصره: ١۴ ماده (د محکمو او قضايي هيئاتونو په وړاندې د عادلانه محاکمې د برابري حق)، ٢٣ اګست ٢٠٠٧، CCPR/C/GC/32، ١٠، ٣٨-٣٧ پاراګرافونه.

[٨١] د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ١۴ (٣)(د) ماده؛ په جنايي عدلي سيستمونو کې حقوقي مرستې ته د لاس رسي په اړه د ملګرو ملتونو اصول او لارښوونې، ٢٠ ډسمبر ٢٠١٢، A/RES/67/187، ضميمه (٢٨ مارچ ٢٠١٣).

[٨٢] د منډيلا قواعد، ۶١ قاعده.

پرمهال د مدافع وکيل د حضور ضمني حقونه شامل دي. حقوقي مرستې بايد پر جنايي جرمونو تورنو هغو اشخاصو او متهمينو لپاره برابرې شي څوک چې د مدافع وکيل د ګمارلو توان نه لري.

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د نيوني پرمهال د هر شخص لپاره د مدافع وکيل د ټاکلو د حق په اړه صراحت لري (۳۱ ماده). په هغه صورت کې که چېرې شکمن يا تورن شخص بې وزله وي، د حقوقي مرستې برابرونکی بايد د هغه يا هغې په رضايت وټاکل شي.[۸۳] د جزائي اجراآتو قانون له څارنوال څخه غواړي چې له تورن يا شکمن څخه غوښتنه وکړي چې د تحقيق د پيل د مخه مدافع وکيل له ځان سره ولري (۱۵۲ ماده).

د ۲۰۲۱ کال په نومبر کې، *برحاله* د عدليې وزارت د پخوانيو مدافع وکيلانو لپاره د فعاليت جواز ورکولو پروسه پيل کړه چې يوازې د نارينه مدافع وکيلانو لپاره پرانيستې وه.[۸٤] سربېره پر دې، د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلاره د ۲۰۲۲[۸۵] کال د اپريل مياشت کې صادره شوه، داسې صراحت لري چې "هر شخص کولای شي، د نيول کېدو سره سم د تور د دفع او يا د خپل حق د اثبات لپاره مدافع وکيل وټاکي" (۴ ماده). مدافع وکيلانو ته صلاحيت ورکړل شوی چې مؤکل څخه په نيابت د کشف، تحقيق او محاکمې په ټولو پړاوونو کې ګډون وکړي، او له هغه سره په خونديي او محرمانه چاپېريال کې د څارنې يا توقيف پرمهال د مکاتباتو/مراسلاتو ترسره کړي، او قضايي جلسو کې ګډون وکړي ( ۲۱ (۴)) او (۷)، ۲۳ (۴) ماده).[۸٦]




**لسم تصوير: د هغو مواردو شمېر چې اشخاصو ته خبر نه و ورکړل شوی/مدافع وکيل ته لاسرسي نه وو ورکړل شوی**

له دې سره سره، يوناما ۲۷۰ داسې موارد مستند کړي چېرې چې *برحاله* امنيتي چارواکي نه دي توانيدلي چې مرکه ورکوونکو ته د بند پرمهال مدافع وکيل ته د لاس رسي له حق څخه په هيڅ مرحله کې خبر ورکړي، چې يو څوک څنګه حقوقي مرسته ترلاسه کولی شي. دغه موارد د بر حاله پوليسو په بند کې له ۱۲۸ مواردو (چې په ۱۳ هغو کې يې ښځې شاملې وې)، او *برحاله* د استخباراتو د لوي رياست له ۱۴۲ مواردو (چې په ۱۴ هغو کې ښځې شاملې وې)، تشکيل دي. برعکس، يوناما يوازې دوه مورده مستند کړي چېرې چې مرکه ورکوونکې د مدافع وکيل له حق څخه خبر شوې: يو هغه يې د *برحاله* استخباراتو لوي رياست په بند کې،[۸۷] او بل هغه يې د *برحاله* پوليسو په بند کې رامنځ ته شوی،[۸۸] سره له دې چې هيڅ يوه مرکه ورکوونکې په دغې نکته کې د مدافع وکيل ښکيلولو غوښتنه نه ده کړې.

[۸۳] د افغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون (۲۰۰۴)، ۳۱ ماده، د جزائي اجراآتو قانون (۲۰۱۴)، ۱۰ ماده.
[۸٤] د يوناما له خوا له دوامدار حمايت او مدافعې سره سره، تر دې دمه ښځينه مدافع وکيلانې د غوښتنليک او ارزونې په پروسه کې نه دي شاملې شوې.
[۸۵] د عدليې وزارت لخوا د اپريل په ۲۰۲۲ کې صادر شوي طرزالعمل ۱ ماده صراحت لري چې دا د ۲۰۲۲ کال د فبروري د ۶ نېټې (۱۴۴۳/۰۷/۰۴ قمري هجري) د ۲۱۵ شمېرې، (۱ ټوک) فرمان سره سم نافذ شوی، او د *برحاله* چارواکو د کابينې هغه پرېکړه تاييدوي چې د ۲۰۲۱ کال د نومبر پر ۱۵ صادر شوې (۱۰ شمېره، ۱۴۰۰/۸/۲۴).
[۸٦] د طالبانو لومړي رژيم (۱۹۹۶ – ۲۰۰۱) هم د مدافع وکيل ته د لاس رسي حق پېژانده: د مدافع وکيلانو د چارو د تنظيم قانون، ۷۸۶ شمېره رسمی جريده، د ۱۹۹۹ کال د اګست پر ۵ نېټه خپور شوی (۲۲/ ۰۴/ ۱۴۰۰ هجري قمري) ۲ ماده: "هر شخص کولای شي د ځان د حقونو د دفاع په خاطر مدافع وکيل وټاکي". همدارنګه د ۲۰۱۴ کال په مې کې خپور شوي د "اسلامي امارت" د قضايي محکمو د حقوقي طرز العملونو د مديريت لارښود وګورئ، چې ګڼ شمېر مادې (۱۷، ۳۷، ۱۹۴، ۲۰۶ او ۲۰۹ مادې) يې په محکمې په اجراآتو کې د مدافع وکيلانو د نقش يادونه کوي.
[۸۷] د ډسمبر د ۱۸ نېټې مرکه ("هغوی را ته وويل چې زه کولی شم يوه مدافع وکيل ته لاس رسی ولرم، خو ما ورته وويل، چې زه بې ګناه يم او هيڅ مدافع وکيل ته اړتيا نه لرم").
[۸۸] د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۱۵نېټې مرکه (د *برحاله* پوليسو/د جنايي جرمونو د تحقيقاتو د رياست د توقيف پرمهال).

د یادونې وړ ده چې یوناما هیڅ داسې قضیه نه ده مستند کړې چېرې چې یو مدافع وکیل د *برحاله* امنیتي مسؤولینو له خوا د تحقیقاتو پرمهال حاضر وي. په یوه مورد کې چېرې چې یوه مرکه ورکوونکي د *برحاله* پولیسو د بند پرمهال د هغه د وکیل د حضور غوښتنه کړې وه، دغه غوښتنه یې پر ځای نه شوه.[89]

ګڼ شمېر مدافع وکیلانو یوناما ته په ډاګه کړې چې هغوي ته د *برحاله* پولیسو یا *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست تر واک لاندې توقیف ځایونو ته د لاس رسي اجازه نه ده ورکړل شوې یا ور څخه منع شوي. زیات شمېر نورو یې د ولسوالۍ په کچه *برحاله* پولیسو یا *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست سره د خپل خوندیتوب له وېرې اړیکه نه ده نیولې. همدارنګه دغه وکیلان د مؤکل د مرګي پرمهال هیڅکله نه وو حاضر. د *برحاله* پولیسو او استخباراتو لوی ریاست د نظارت خونو یو شمېر رئیسانو یوناما ته دا تائید کړه چې مدافع وکیلان د *برحاله* پولیسو نظارت خونو ته نه داخلېږي یا په دغو خونو کې له بندي شویو متهمینو سره لیدنه نه کوي. د *برحاله* پولیسو یوه قوماندان په ډاګه کړه چې مدافع وکیلان له شکمنو سره د لیدنې په پار د پولیسو له ولایتي قوماندان څخه د اجازې تر لاسه کولو ته اړتیا لري. د دغه ډول اجازې د ترلاسه کولو شرط ځینې مدافع وکیلان نظارت خونو ته د ننوتلو له هڅې راګرځولي.

برعکس، محبس ته د داخلولو پرمهال، په اوه ولایتي محبسونو کې مرکه ورکوونکو یوناما ته خبر ورکړی چې هغوي له محاکمې مخکې توقیف دوره کې په ولایتي محبس کې تر داخلولو وروسته مدافع وکیل ترلاسه کړی، په کومه مرحله کې چې د هغوي دوسیې *برحاله* قاضیانو ته د اضافي تحقیقاتو او د قضاوت کولو لپاره لېږدول شوې. یوناما مستند کړې چې یو شمېر مرکه ورکوونکي شخصي مدافع وکیلان د دې لپاره دخیل کړي چې له هغوي سره د *برحاله* قاضیانو په مخ کې د لومړیو راځرګندیدو پرمهال په تحقیقاتو کې یا د لومړي مورد د محکمې د پرېکړې په استیناف غوښتنه کې مرسته وکړي.[90] له دې سره سره، یوناما له ټولو ولایتونو څخه پرلپسې راپورونه ترلاسه کړي چې په زیاترو مواردو کې *برحاله* قاضیانو د مدافع وکیلانو نقش رد کړی، هغوي یې په محکمه کې د افرادو د وکالت کولو له حق څخه بې برخې کړي، چې د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلارې څخه مستقیمه سرغړونه ده،  او زیاتره په محکمه کې د مدافع وکیلانو سپکاوی او له هغوي سره بد چلند کوي.

*برحاله* د زندانونو د سمون د چارو اداري تائید کړې چې هغوي په محبس او زندان خونه کې د ټولو بندیانو لپاره پرته له دې چې جنسیت یې په پام کې ونیول شي، مدافع وکیلانو ته لاس رسی برابروي. ګڼ شمېر مرکه ورکوونکو په محبس کې په حضوري ډول یا د تیلفون له لارې خپلو مدافع وکیلانو ته خصوصي لاس رسی تائید کړی،[91] په داسې حال کې چې نورو یې خبر ورکړی چې مدافع وکیلانو ته د لاس رسي غوښتنې ساتونکو پورې اړه لري.[92] په یوه مورد کې یو مرکه ورکوونکي خپل مدافع وکیل ته له لاس رسي منع شوی و، هغه ته ویل شوي و چې د حکومت له خوا ګمارل شوي مدافع وکیلان د داخلیدو اجازه لري نه هغه چې په شخصي ډول ټاکل شوي وي.[93] په ځینو مواردو کې *برحاله* د محابسو ساتونکي د مدافع وکیل او بندیانو ترمنځ د ناستې

---

[89] د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۵نېټې مرکه ("ما پولیسو ته وویل چې اجازه راکړي چې خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسم او مدافع وکیل مې دوسیه وګوري، خو هغوي راته سپکې سپورې وکړې او زه یې توهین کړم." دغه شخص ته د پولیسو د توقیف په دویم ځای کې هم اجازه نه وه ورکړل شوې).

[90] د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۵ نېټې مرکه ("ما همدارنګه یو مدافع وکیل درلود چې تر دې دمه یې دوه ځله لیدلی یم. ما وروسته له هغې یو مدافع وکیل وګماره کله چې په دغه محبس کې یوه څارنوال د لومړیو تحقیقاتو پرمهال خبر راکړ چې د یوه مدافع وکیل د درلودلو حق لرم.")؛ د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۴ نېټې مرکه ("ما دغه مدافع وکیل هغه مهال وګوماره کله چې زه په توقیف کې وم څو له ما سره په دې قضیه کې مرسته وکړي کله چې زه په لومړۍ محکمه کې حاضر شوم، خو *برحاله* طالب قاضیانو هغه وواهه او ویل یې چې فاسد دي او نه باید په قضیه کې دخیل شي. پر هیڅ دغو ورځو زما وکیل ته اجازه ورنه کړل شوه چې محکمې ته داخل شي، نور ما هم د مدافع وکیل کارونه بنده کړه")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۵ نېټې مرکه ("په محبس کې ما اجازه لرله چې له مدافع وکیل سره اړیکه ټینګه کړم، نو ما دغه کار وکړ").

[91] د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۴ نېټې مرکه ("ما یوازې پر تیلفون له هغه سره خبرې وکړې ځکه چې د لیدنې پر ورځ ګڼه ګوڼه زیاته وه [له نورو کورنیو سره] چې دغه کار داخل ته د هغوي راتګ ستونزمنوه")؛ د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۲۸ نېټې مرکه ("زما مدافع ته لومړۍ له دې امله د لیدنې اجازه نه ورکول کېده ځکه چې هغه نارینه و خو ما له هغه سره د تیلفون له لارې خبرې کولی شوې").

[92] د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۴ نېټې مرکه ("ما ملاحظه کړه کله چې به نورو بندیانو د خپلو مدافع وکیلانو د راتګ غوښتنه کوله، هغوي ته داخل ته د ننوتلو اجازه نه ورکول کېده. خو که چېرې به یوه بندي له ساتونکو سره ښې اړیکې درلودې بیا یې د دغه کار اجازه ورکوله، خو زموږ زیاترو لپاره اجازه نه وه").

[93] د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۶ نېټې مرکه ("د مدافع وکیل لپاره داخل ته د تګ اجازه نه وه؛

په اوږدو کې یا د هغوي په شا و خوا کې حاضر وو، چې دغه کار ځینې وختونه د مرکه ورکوونکو او د هغوي د مدافع وکیلانو ترمنځ د محرمیت حق متاثر کړی.[٩٤]

په ملحوظ ډول، ښځینه مدافع وکیلانې د قانون د اعمال په پار د فعالیت د بیا پیلولو لپاره د جواز ورکولو پروسې د غوښتنلیک له وړاندې کولو ایستل شوې کومه چې د *برحاله* عدلیې وزارت له خوا د ۲۰۲۱ په نومبر کې پیل شوې وه. په نتیجه کې، له محاکمې مخکې توقیف موده کې ښځینه بندیانې په ځینو مواردو کې نه وې توانیدلې چې له نارینه مدافع وکیلانو سره مخامخ لیدنه تر سره کړي، خو له هغوي سره یې د تیلفون له لارې اړیکه نیوله. په کمو مواردو کې چې مېړه او میرمن دواړه نیول شوي او د محاکمې په انتظار وو، ښځینه توقیفیانو خبر ورکړی د مېړه د کورنۍ له خوا ګمارل شوي مدافع وکیل له دواړو سره مرسته کوله.

په زیاترو هغو قضیو کې چېرې په محبس کې مرکه ورکوونکو مدافع وکیلان نه درلودل، د شخصي مدافع وکیل د ګمارلو توان یې نه درلود، یا یې نه غوښتل چې مدافع وکیل ولري. په داسې حال کې چې په محبس کې ځینو بندیانو د وړیا حقوقي مرستې غوښتنه کړې،[٩٥] *برحاله* د عدلیې وزارت د ټولو بندیانو د حد اقل اړتیاوو د تامینولو لپاره د منابعو یا پرسونلو له کمښت سره مخ دی. که څه هم وخت نا وخت په ځینو ولایتونو کې د *برحاله* عدلیې ریاست له خوا له توقیف ځایونو څخه د لیدنې راپورونه ورکول کېږي، *برحاله* مسؤلینو منلې چې *برحاله* د عدلیې ریاستونه د ولایت پر سر په یوه یا دوه کارمندانو پورې محدود دي، کوم چې د دغو ټولو بندیانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کافي نه دي. یوناما یوازې یو داسې مورد مستند کړی چېرې چې *برحاله* محکمې د یوې ښځینه توقیفي لپاره د حقوقي مرستې د برابرولو امر کړی، خو بیا وروسته یوناما د دغه امر له پایلې نه ده خبره.

## د کورنۍ خبرول او له هغې سره اړیکه

له خپلې آزادۍ څخه محروم شوي اشخاص حق لري چې له توقیف ځای څخه بهر نړۍ سره اړیکه ولري.[٩٦] د نیونې او له آزادۍ څخه د محرومیت پرمهال، شخص حق لري چې د خپلې کورنۍ یو غړي د نیونې او د توقیف ځای په اړه خبر کړي. د بندیانو کورنۍ باید د دوي د بندي کیدو د حقیقت او د هغه ځای په اړه چې دوي په کې ساتل کېږي، بشپړ معلومات ترلاسه کړي.[٩٧] تر دې وروسته، دوي حق لري چې له خپلې کورنۍ سره اړیکه (مراسلات/مکاتبات) ونیسي او د دوي د کورنۍ ملګرو او نورو له خوا یې په منظم ډول وقفه یې لیدنه ترسره شي.[٩٨] دغه حق نه باید له څو روځو د زیاتې مودې لپاره واخیستل شي.[٩٩] پورتنې مسایل د هغو مؤثرو لارو چارو د ډاډمنولو لپاره اړین دي چې په ذریعه یې له خپلې آزادۍ څخه محروم شوي خلک د نورو مسایلو ترڅنګ، کولای شي د ناوړه چلند ادعاوو او شواهدو په اړه خبر ورکړي.

هغوي ویل چې یوازې د حکومت له خوا ګومارل شوي مدافع وکیلان داخل ته تلای شي – نه هغه چې په شخص لګښت ګمارل شوي").

[٩٤] د بندي اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۸ (۴) اصل، د توقیف شوي یا بندي شوي شخص او د هغه/هغې د مدافع وکیل ترمنځ مرکې ښایي تر نظر لاندې وي، خو د قانون نافذوونکي چارواکي/مسؤول نه باید په دومره نږدې واټن کې وي چې د هغوي خبرې واوري.

[٩٥] د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د ۶ نېټې مرکه ("ما د یوه مدافع وکیل غوښتنه وکړه، هغوي وویل وکې سمه ده، خو تر هغې را وروسته د هغوي څه معلومات نه شول، یعنې چې زما قضیه څوک نه تعقیبوي. نور خلک څوک چې پیسې لري مدافع وکیلان ګوماري شي، خو زه یې نه شم")؛ د ۲۰۲۲ کال د سپټمبر د ۵ نېټې مرکه ("مدافع وکیل نشته، ځکه زما کورنۍ ډېره بې وزلې ده").

[٩٦] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۰ ماده (د دوي د ذاتي حیثیت په خاطر انسانې او له درناوي ډک چلند شي)؛ تر توقیف لاندې اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۹ اصل؛ د منډېلا قواعد، ۵۸ قاعده.

[٩٧] په بند کې د اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۲ اصل؛ د منډېلا قواعد، ۶۸ قاعده.

[٩٨] په بند کې د اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۵ اصل؛ د منډېلا قواعد، ۵/۴۱، ۶۱/۵۸ او ۱۱۹ قاعده

[٩٩] په بند کې د اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۵ اصل. د ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي پي. کویجمنز راپور، د بشري حقونو د کمیسیون د ۱۹۸۵/۳۳ شمېره پرېکړه لیک په اساس ټاکل شوي، E/CN.41/1986/15، ۱۵۱ پاراګراف.

د افغانستان د قوانینو له مخې، د جنايي اجراآتو قانون هم د دغه حق په اړه صراحت لري چې کورنۍ یا یو خپلوان باید د توقیف کوونکو چارواکو له خوا د نیونې په اړه خبر کړای شي (۷ (۴) ماده). آزادۍ د سلب مرکزونو د مدیریت قانون وایي چې توقیفیان او بندیان له خپلو کورنیو سره د اړیکو نیولو حق لري (۲۰ (۱) ماده).

کله چې له آزادۍ څخه محروم شوی یو شخص له بهر نړۍ سره له ټولو اړیکو څخه محروم کیږي، که دا له خپلو کورنیو، مدافع وکیل سره یا محکمې ته لاسرسي وي، په دې صورت کې بې ارتباطه توقیف رامنځ ته کیږي.[۱۰۰] همدارنګه اوږد مهاله بې ارتباطه توقیف د شکنجې یا ناوړه چلند یو شکل ګڼل شوی.[۱۰۱]

که چېرې کورنۍ ته د توقیف د ځای په هکله خبر نه وي ورکړل شوي او تر هغې وورسته یې د ځای په اړه بې خبره وي، کوم چې شخص د قانون د حمایت او ساتنې له حیطې څخه بهر واقع کوي، بې ارتباطه توقیف ښايي همدارنګه د اجباري ورکیدنې د جرم په ډول وشمېرل شي، مهمه نه ده چې موده یې څومره لنډه وي.[۱۰۲] یوه نیونه چې په پیل کې قانوني هم وي، ښايي په اجباري ورکیدنې تمامه شي که چېرې د نیونې مسؤولین په دې کې پاتې راشي چې دا ومني چې یو شخص توقیف شوی، یا په دې کې پاتې راشي چې د هغه/هغې د برخلیک او یا ځای په اړه معلومات ورکړي.[۱۰۳] د بندیانو د نظام د سمون په اړه د طالبانو د مشر طرز العمل صراحت لري چې "د متهم او مجرم د نیولو په مهال به مؤظف ارګان ځان معرفي کوي او د بندي متعلقینو ته به هغه ادرس ورښيي چې هلته یې توقیف یا حبس کوي" (۴ ماده، ټینګار اضافه شوي دی). سربېره پر دې نوموړی طرز العمل تاییدوي چې، بندي کولای شي په میاشت کې تر دریو ځله له خپلې کورنۍ او خپلوانو سره ملاقات وکړي (۲۳ ماده) په دې شرط چې، بندیان د خپلې کورنۍ له هغو غړو او خپلوانو سره ملاقات کولای شي چې نومونه یې په اړونده دوسیه کې ثبت دي (۲۴ ماده). په کابل کې *برحاله* د استخباراتو د لوی ریاست د بشري حقونو ریاست یوناما ته تایید کړې چې د طالبانو مشر دوی ته لارښوونه کړې چې د توقیف شویو کسانو کورنیو ته د دوی د ځای په اړه خبر ورکړي.




یووسلم تصویر: مستند شوي موارد چیرې چې کورنۍ ندي خبري شوي/یا شخص ته د کورنۍ سره د تماس د حق په اړه ندې ویل شوي

یوناما ۲۵۶ داسې موارد ثبت کړي چېرې چې په توقیف کې مرکه ورکوونکي نه له خپل دې حق څخه خبر شوي چې دوی کولای شي له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسي، یا کله چې دوی غوښتنه کړې چې غواړي له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسي، غوښتنه یې رد شوې، په ځانګړي ډول توقیف ځای ته تر داخلولو وروسته په لومړي پړاو کې. دا د *برحاله* پولیسو په توقیف کې په ۸۳ مواردو (چې په ۱۱ هغو کې ښځې شاملې وې)، او د *برحاله* استخباراتو د عمومي ریاست په بند کې په ۱۷۳ مواردو (چې په اتو هغو کې ښځې شاملې وې) پېښ شوي.[۱۰۴]

[۱۰۰] دځانګړي راپور ورکوونکي ښاغلي کیوجمنز راپور چې د بشري حقونو د کمیسیون د ۳۳/۱۹۸۵ (۱۹۸۶)، پریکړې پربنسټ تاکل شوی دی، ای/سي ان.۴۱/۱۹۸۶/۱۵، ۱۰۹ پاراګراف.

[۱۰۱] د بشري حقونو کمېټه، ال-میګرسی د لیبیا عربي جمهوریت په مقابل کې، ۱۹۹۰/۴۴۰ شمېره ابلاغ ، ۲۴ مارچ ۱۹۴، CCPR/C/50/D/440/1990، پارګراف۵.۴؛ ارزودا ګیلبوا د یوروګوای په مقابل کې، لېک شمېره ۱۹۸۳/۱۴۷، ۱۹۸۵، ای/۴۰/۴۱ په ۱۲۸ کې (۱۹۸۶)، پارګراف ۱۴، (د ۱۵ ورځو لپاره پرته له اړیکه توقیف)، شرما د نیپال په مقابل کې، لېک شمېره ۲۰۰۶/۱۴۶۹، ۶ نومبر ۲۰۰۸، سي سي پي آر/سی/۹۴/ډی/۲۰۰۶/۱۴۶۹، پارګراف۷.۲؛(د ۹ ورځو لپاره پرته له اړیکه توقیف)، بوشرف د الجیریا به مقابل کې، لېک شمېره ۲۰۰۳/۱۱۹۶، ۲۷ اپریل ۲۰۰۶، سي سي پي آر/سی/۸۶/ډی/۲۰۰۳/۱۱۹۶، پارګراف۹.۶؛

[۱۰۲] د جبري او یا پرته له رضایت څخه ورکوونې په اړوند د کاري ډلې راپور، ۳۱ جولای ۲۰۱۸، ای/اچ ار سی/۳۹/۴۶، پارګراف ۱۴۳. همدارنګه وګورئ، د اجباري یا له خپلې خوښې پرته ورک کیدنو په کاري ګروپ، د زین العابدین محمد حسین (اوبو زبیده) (د امریکا متحده ایالات، پاکستان، تایلند، پولاند، مراکش، لاتوانیا، افغانستان د انګلستان او شمالي ایرلند متحده شاهي) په اړه ۶۶/۲۰۲۲ شمېره نظریه، ۶ اپریل ۲۰۲۳، A/HRC/WGAD/2022/66، ۸۷ پاراګراف.

[۱۰۳] د جبري او یا پرته له رضایت څخه ورک کیدنو په اړه د کاري ډلې راپور، ۱۰ جنوري ۲۰۰۸، ای/اچ آر سی/۷/۲، پارګراف ۷/۲۶.

[۱۰۴] په ۲۷ نورو مواردو کې، مرکه ورکوونکو د هغوی توقیف کوونکي مسؤولین نه دي پیژندلي.

یو تن مرکه ورکوونکي چې *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست له خوا نیول شوی و، بیلا بیلو توقیف ځایونو ته لېږدول شوي و چې په دې ډول یې کورنۍ د دوه میاشتو لپاره د هغه د ځای څخه نه وه خبره، هغه وکولی شوای چې د یوه بل توقیفي له لارې څوک چې وروسته خوشې شوی و، خپله کورنۍ خبره کړي.[۱۰۵] همدارنګه ډېری کورنیو یوناما ته د کورنۍ له توقیف شویو غړو سره د اړیکې نیولو د هڅې موارد په ډاګه کړي، چې هغوي پر دې پوهېدل چې د کورنۍ غړي یې چیرې ساتل کېدل، خو اجازه نه ده ورکړل شوې چې له هغو سره خبرې وکړي.

له هغو نورمونو سره په مغایرت کې چې د نیونې پرمهال یا تر هغې وروسته په لنډه موده کې د دغه ډول خبرتیا غوښتنه کوي، مرکه ورکوونکو خبر ورکړی چې *برحاله* امنیتي مسؤولینو یوازې هغه مهال کورنۍ ته د خبرتیا ورکولو یا له هغې سره د اړیکې نیولو اجازه ورکوله چې ظاهرا به د تحقیق پایلې ته رسیدلی و، چې دغې مودې به له څو ورځو نیولې تر ۳۰ ورځو پورې دوام کاوه، او د یوه ځانګړي پرسونل په ښه نیت پورې مشروط و.[۱۰۶] یوه *برحاله* امنیې قومندان یوناما ته تایید کړې، هغه توقیفیان چې په درانو جرمونو لکه تروریزم یا امنیت پورې اړوند ادعاوو، اختطاف او غلا په تور نیول شوي، په عادي ډول اجازه لري چې لیدونکو سره وګوري یا له هغوي سره اړیکه ونیسي، خو یوازې له هغې وروسته چې تحقیقات بشپړ شوي وي. یوازې یوه مرکه کوونکي په ډاګه کړې چې *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست چارواکو د هغه کورنۍ د ده د توقیف په اړه خبره کړې، خو له توقیف څخه ۱۵ ورځې وروسته، تر هغې وروسته ده ته اجازه ورکړل شوې چې په اونیز ډول له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسي.[۱۰۷] دوه تنه نورو مرکه ورکوونکو چې د *برحاله* استخباراتو په لوي ریاست کې په ترتیب سره د دوو او دریو میاشتو لپاره په یوه توقیف ځای کې توقیف شوي وو، تایید کړې چې تر لومړني پړاو وروسته، د توقیف ځای مسؤولینو کورنیو ته اجازه ورکړه چې په اونۍ کې یې یو ځل ووینې.

په اتو ولایتي محبسونو کې مرکه ورکوونکو تایید کړه چې کله دوي له محاکمې څخه مخکې توقیف لپاره محبسونو ته ولېږدول شول، دوي اجازه درلوده چې په منظم ډول له خپلو کورنیو سره اړیکه ونیسي، چې دغه کار د ملاقات ورځو په ټاکلو او د توقیفیانو د کاروونې د تیلفونو په موجودیت سره تسهیل شوی و. یوه مرکه ورکوونکي په ډاګه کړه چې د *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست په بند کې نږدې تر دوه میاشتو وروسته له خپلې کورنۍ سره له اړیکې پرته، محبس ته په لېږدولو سره هغه سملاسي له *برحاله* ساتونکي څخه وغوښتل چې د هغه له کورنۍ سره اړیکه ونیسي، چې ساتونکي سمدستي دغه کار ترسره کړ.[۱۰۸] په محبس کې یو شمېر مستند شویو مواردو کې، مرکه ورکوونکو له دې امله خپلو کورنیو سره د اړیکې نه نیولو خبر ورکړی ځکه چې د تیلفون شمېرې یې نه درلودې، کورنۍ یې نه درلودې چې هلته زنګ وکړي یا یې د شرم او تشویش د مخنیوي په خاطر پخپله نه دي غوښتي چې اړیکه ونیسي.

[۱۰۵] د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۲۲ نېټې مرکه ("د استخباراتو په لوي ریاست کې ما له دوي څخه وغوښتل زما کورنۍ ته زما د نیونې په اړه خبر وکړي، خو دوي زما غوښتنه رد کړه. له هغه وخته چې زه نیول شوي یم هېڅ یوه چارواکي زما کورنۍ ته خبر نه دی ورکړی").
[۱۰۶] د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۴ نېټې مرکه ("زه تر یوې میاشتې پورې په توقیف کې وم چې په دغه موده کې مور ته اجازه رانه کړل شوه چې له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونېسو. خو له ۳۰ ورځو وروسته، کله چې دوي قضیه بشپړه کړه، دوي مور ته اجازه راکړه چې له کورنیو سره اړیکه ونېسو. د دیجیټل تلیفون په ذریعه، دوي له مور څخه وغوښتل چې خپله کورنۍ خبره کړو.")؛ د ۲۰۲۲ کال د دسمبر د ۱۸ نېټې مرکه (استخباراتو په لوي ریاست کې توقیفي اجازه درلوده چې خپله کورنۍ له خپل وضعیت څخه خبره کړي. توقیفي په اونۍ کې یو ځل له خپلې کورنۍ سره اړیکه نیوله، ځکه چې د استخباراتو ریاست په اونۍ کې یو ځل (یکشنبه) د ملاقات ورځ درلوده")؛ د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ د ۱۸ نېټې مرکه (د استخباراتو په لوي ریاست کې له دریو ورځو وروسته یوه غړي خپل ټلیفون ما ته راکړ او ما وکولای شواي له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسم.")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۳ نېټې مرکه ("د استخباراتو په لوي ریاست کې ما څو ځله هلته د طالبانو پرسونلو څخه وغوښتل چې ما ته یو فرصت راکړي چې خپله کورنۍ خبره کړم، په پای کې له یوې میاشتې وروسته، دوي ماته یو مبایل راکړ چې د هغه په ذریعه ما وکولای شواي خپلې کورنۍ ته خبر ورکړم چې زه  خوندي یم").
[۱۰۷] د ۲۰۲۲ کال د دسمبر د ۱۸نېټې مرکه ("زما کورنۍ زما د توقیف په اړه خبر کړای شوې وه، خو زما د ځای په اړه زما تر توقیف ۱۵ ورځې ورسته د تیلفون له لارې خبره شوه... ما په اونۍ کې یو ځل له خپلې کورنۍ سره د اړیکې نیولو حق درلود، خو ... خو ما نه غوښتل چې له هغوي سره په اړیکه کې اوسم چې هغوي زما په اړه اندېښنه وکړي").
[۱۰۸] د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۲۲ نېټې مرکه. همدارنګه وګورئ د ۲۰۲۳ کال د اپریل د ۱۸ نېټې مرکه ("په محبس کې هیچا ما ته د یوه توقیفي په څیر زما د حقونو په اړه خبر را نکړ، خو د محبس یوه کارکوونکي ما ته اجازه راکړه چې خپل پلار ته د خپل ځای په اړه خبر ورکړم") ؛ د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۵ نېټې مرکه - محبس ("د محبس چارواکو زما د ځای په اړه زما کورنۍ ته خبر ورنکړ، خو ما د بل توقیفي په مرسته له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیوله؛ زه کولای شم له خپلې کورنۍ سره د ملاقات کوونکو پر ورځ، په اونۍ کې یو ځل ووینم").

## ډاکټر ته لاس رسي او پر وخت طبي معاینات

له آزادۍ څخه محروم شوي کسان حق لري چې د روغتیا پالنې له هغو معیارونو برخمن شي کوم چې په پراخه ټولنه کې د لاس رسي وړ دي. په دې کې د نیونې پر وخت او تر هغې وروسته منظمې دوره یي د چټکو خپلواکو، بې طرفه، کافي او رضایت لرونکې طبي معایناتو حق شامل دی، چې تر ممکن حده د خپلې خوښې وي.[۱۰۹]

مناسبه طبي معاینه باید زر تر زره داسې مهال ترسره شي کله چې له آزادۍ څخه محروم شوي کسان توقیف ځای ته داخل شي.[۱۱۰] معاینات موجوده جسمي یا رواني ناروغۍ په ګوته کوي خو دغه راز د ممکنه شکنجې او ناوړه چلند کوم چې ښايي په لومړیو کې په توقیف کې د یوه شخص اچولو پرمهال رامنځ ته شوي وي، د معلومولو لپاره مهم ګڼل کېږي. د کافي روغتیا پالنې حق، د توقیف شویو او یا بندي شویو کسانو د حق کلیدي عنصر دی چې له دوی سره د دوی د ذاتي وقار په پار انساني او له درناوي ډک چلند وشي.[۱۱۱] د مناسبو طبي مراقبتونو په برابرولو کې پاتې راتلل په خپله کولی شي شکنجه او ناوړه چلند تشکیل کړي. دغه حق په ضمني ډول د خصوصي طبي معایناتو حق رانغاړي چې د پولیسو او غیر طبي کارمندانو له لیدنې او اورېدنې بهر ترسره شوي وي. د توقیف ځای د ثبت په کتاب کې د ساتنې په ګډون د دغه ډول طبي معایناتو سوانح باید وساتل شي.[۱۱۲]

په افغانستان کې د قوانینو له مخې، ۲۰۱۸ کال د زندان د چارو د تنظیم قانون، د محبسونو له تنظیم کوونکو چارواکو څخه غواړي چې بندیانو ته وړیا طبی او روغتیایي خدمتونه (د شکمنو په شمول) د محبس په داخل کې په موجوده روغتونونو یا کلینیکونو کې، او که چیرې اړتیا وي له محبس څخه بهر په مناسبو روغتونونو کې برابر کړي (۳۰ ماده). پر دې سربېره د ۲۰۱۸ کال قانون او د ۲۰۲۰ کال له آزادۍ څخه د محرومیت د مرکزونو د تنظیم قانون صراحت لري چې توقیف ځای ته داخلیدو پرمهال د هر شخص لپاره د طبي معایناتو په اړه د معلوماتو په ګډون، یوه دوسیه جوړه شي (۱۹ ماده).

د بندیانو د نظام د سمون په اړه د طالبانو د مشر طرز العمل توقیف ځای ته د داخلیدو پرمهال د چټکو طبي معایناتو د ترسره کولو په اړه څه نه دي ویلي. نوموړی طرز العمل صراحت کوي چې په محبسونو کې اولیه صحي کومکونه اسانتیاوې باید موجود وي او د شدیدو مریضانو د اساسي علاج په خاطر دې پخپل وخت لازم اقدامات ترسره شي (۲۲ماده). د پولیسو یو شمیر *برحاله* مسؤلینو یوناما ته تایید کړې چې افراد مخکې له دې چې توقیف خونو ته داخل کړل شي د یوه ډاکټر په واسطه معاینه کېږي او که چیرې اړتیا وي روغتون ته استول کیږي. د دې سربېره د پولیسو قومنداني درمل برابروي، یا د اړتیا په صورت کې افراد د نورې طبي درملنې لپاره ولایتي روغتون ته استوي او بیرته یې توقیف خانې ته راوړي.

یوناما کوم داسې کوم مورد نه دی مستند کړی چېرې یو مرکه ورکوونکی د *برحاله* پولیسو یا *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست توقیف ته داخل شوی وي په داسې حال کې چې د هغه طبي معاینات دې ترسره شوي وي، د داخلیدو پرمهال د فیزیکي معاینې په ګډون. یوازې یوه مرکه ورکوونکي تایید کړې چې توقیف ځای ته د رسیدو پرمهال یې طبي معاینه شوې، سره له دې چې د دې پر معلومولو نه و توانیدلی چې د کوم *برحاله*

[۱۰۹] د منډیلا قواعد، ۳۰، ۳۴ او ۱۱۸ قاعدې؛ د روغتیا پالنې د خدمتونو په اړوند، د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي جوان منډیز ځانګړي راپور، ۵ اګست ۲۰۱۶، A/71/298، ۸۸ پاراګراف.
[۱۱۰] په بند کې د اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۲۴ اصل، د منډیلا قواعد، ۳۰ قاعده؛ د شکنجې د منع کمېټه، نهايي ملاحظات: د سویزرلینډ راپور، ۲۷ نومبر ۱۹۹۷ کال، A/53/44، ۹۶ پاراګراف، له آزادۍ څخه محروم شویو نو ځوانانو د ساتنې لپاره د ملګرو ملتونو قواعد، ۵۰ ماده.
[۱۱۱] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، ۱۰ (۱) ماده. د بشري حقونو کمېټه، پېښتو د ترنیداد او توباګو په مقابل کې، ۱۹۸۷/۲۳۲ شمېره ابلاغ، ۲۰ جولای ۱۹۹۰، (1990) CCPR/C/39/D/232/1987، ۱۲. ۷ پاراګراف (کمېټه یو ځل بیا تاییدوي... له آزادي څخه د محروم شویو کسانو سره د انساني شخصیت د ذاتي وقار په خاطر انساني چلند مکلفیت د توقیف پرمهال د کافي د روغتیا پالنې برابرول رانغاړي او دا چې دغه مکلفیت په ښکاره ډول هغو کسانو ته هم غځول کېږي چې د مرګ په سزا محکوم شوي دي.) وګورئ، د منډیلا قواعد، ۳۵-۲۴ قاعدې؛ د هغو ماشومانو لپاره چې له خپلې آزادي څخه محروم شوي د ملګرو ملتونو قواعد، ۵۵-۴۹ قاعدې.
[۱۱۲] په بند کې د اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۲۶ اصل، د منډیلا قواعد، ۲۶ قاعده.

مقام له لورې بندي شوي و.[۱۱۳] په ورته ډول یوناما د هیڅ *برحاله* مسؤلینو له خوا تر تحقیقاتو مخکې د معاینې کوم مورد نه دی مستند کړی. د دې په منلو سره چې ښايي طبي ډاکټران تل *برحاله* پولیسو او *برحاله* د استخباراتو د لوی ریاست په توقیف ځایونو کې موجود نه وي، په ځانګړي ډول په لرو پرتو سیمو کې، لومړني طبي ارزوني ښايي د روغتیا پالنې د یوه بل مسلکي شخص چې یوه ډاکټر ته راپور ورکوي، له خوا ترسره شي.

د توقیف په جریان کې او تر هغه وروسته، یوناما ۸۳ مورده مستند کړي چېرې چې مرکه ورکوونکو راپور ورکړی چې دوی له مناسبې روغتیا پالنې څخه بې برخې شوي. دا ډول ۴۱ مورده *برحاله* د پولیسو په توقیف کې (چې په دوه هغو کې ښځې شاملې وې)، او ۴۰ مورده *برحاله* د استخباراتو د لوی ریاست په بند کې (چې په هیڅ یوه کې ښځې نه وې شاملې) او دوه مورده په محبسونو کې رامنځته شوي. مرکه ورکوونکو د روغتیا پالنې غوښتنه کړې، ځینې وختونه د هغو ناروغیو په تړاو چې دوی له پخوا درلودې (درې قضیې[۱۱۴])، خو ډېری وختونه وروسته له هغې چې د تحقیقاتو د مودو پرمهال له ناوړه چلند څخه اغیزمن شوي.[۱۱۵] یوناما داسې موارد مستند کړي چېرې چې مرکه ورکوونکو ته یوازې ابتدايي عادي درمل لکه د درد تسکین کوونکې هغه ورکړل شوي دي، چې د *برحاله* پولیسو او د استخباراتو د لوی ریاست په بند کې د لاسرسي وړ ممکنه امکانات دي. د راپورونو پربنسټ د *برحاله* استخباراتو د لوی ریاست یوه کارکوونکي د درملو د غوښتنې په ځواب کې داسې ویلي: "مور دلته د دې لپاره یو چې روغ خلک ناروغ کړو، نه دا چې تاسو ته درمل درکړو".[۱۱۶]




دوولسم تصویر: نامناسبه روغتیایي پاملرنې اړوند مستند شوي موارد

---

[۱۱۳] د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۳نېټې مرکه ("سملاسي یې زما لاسونه خولنه کړل او زما سترګې یې وتړلې او یوه نامعلوم ځای ته یوړل شوم (چېرې) زما بدن تلاشي شو، او یوه ډاکټر معاینه کړم چې زخمونه لرم او که نه.").

[۱۱۴] د بېلګې په ډول د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱ نېټې مرکه ("ما د لوړ فشار لپاره درمل وغوښتل، خو زما غوښتنه رد شوه")؛ د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۴ نېټې مرکه ("کله چې ما پر دریمه ورځ درمل وغوښتل ځکه چې ما د درد احساس کاوه، د استخباراتو ریاست ما ته وویل چې دوی دلته دي چې روغ کسان ناروغ کړي، نه دا چې ماته درمل راکړي.")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۱۵ نېټې مرکه ("کله چې ما هغوی [پولیسو] ته وویل چې له ناروغۍ کړېږم او باید چې طبي کارکوونکي وګورم، خو دوی ماته اجازه را نه کړه. هلته روغتیايي کارکوونکي نه وو". وروسته له هغې چې محبس ته انتقال شو، مرکه شوي کس د طبي پاملرنې لپاره اجازه ومونده).

[۱۱۵] د مثال په ډول د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۲۳ نېټې مرکه ("ما درملو ته اړتیا درلوده نو غوښتنه مې یې وکړه ځکه چې زما چپې اوږې درد کاوه او د درد له امله زما حال ډېر خراب و. د استخباراتو د لوی ریاست د توقیف کارمند را ته وویل چې دوی درمل نه لري.")؛ د ۲۰۲۳ کال د مارچ د ۲ نېټې مرکه ("زما تر وهلو ټکولو وروسته ما ته اجازه نه راکول کېده چې ډاکټر ووینم. ما د ډاکټر غوښتنه وکړه، خو هلته هیڅ ډاکټر نه و موجود. هغوی په ما پورې وخندل او و یې وویل چې دا خو مازې یو ټپ دی.") .

[۱۱۶] د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۴ نېټې مرکه.

یوناما په دې نظر ده چې په زیاترو قضیو کې، هغه طبي پرسونل چې د *برحاله* پولیسو یا د استخباراتو د لوي ریاست د توقیف ځایونو په کلینیکو کې کار کوي خامخا به د *برحاله* مسؤولینو له خوا د ناوړه چلند نښو نښانو په لیدو د مرکه ورکوونکو ښکاره ټپونو ته متوجه شوي کوم څه چې ښايي د هغوي مسؤولیت تحریک کړي وي چې د تحقیقاتو او ډسپلین په پار د دغو ادارو رئیسانو ته راپور ورکړي. خو سره له دې، ډاکټرانو ته د لاسرسي با وجود، د یوه مرکه ورکوونکي معلومات په روښانه ډول دا په ډاګه کوي چې آن د ډاکټرانو په شتون کې څوک چې د ناوړه چلند په اړه اعتراف کوي، طبي دنده د دغه ډول چلند په اړه د راپور ورکولو په پار کمزورې ګڼل کېږي کله چې طبي کارکوونکي د غچ اخیستنې له ناوړه پایلو څخه ډارېږي.[117]

برعکس، ولایتي محبسونه د دایمي طبي کارمندانو سره که څه هم محدود دي، روغتیايي کلینیکونه لري، چې ځینې یې د نا دولتي سازمانونو له خوا اضافي مرسته ترلاسه کوي. محبسونو ته د داخلولو پرمهال، *برحاله* د محبس د تنظیم اداري راپور ورکړی چې د افرادو طبي معاینه یا په دې تړاو اړوند پوښتنې ترسره شوي څو د نویو داخل شویو افرادو جسمي او رواني وضعیت نوټ کړي، چې دغه کار د ځینو بندیانو له خوا تایید شوی.

د یادونې ده چې د راپور د مخې د زندانونو د چارو د سمون *برحاله* رئیس د ۲۰۲۲ کال په منځ کې ټولو محابسو ته لارښوونه کړې چې نوموړې اداري د هغو مواردو په اړه راپور ورکړي او مستند کړي چېرې چې افراد زندان ته د داخلولو په خاطر راوړل شوي چې د داخلیدو پرمهال د ناوړه چلند شکایتونه مطرح کړي یا یې نښې نښانې په ډاګه کړې، چې دغه موضوع یوناما ته د محبسونو یو شمېر رئیسانو هم تایید کړې. په کابل کې د زندانونو د چارو د سمون *برحاله* اداري په ډاګه کړې چې نوموړې اداره هره میاشت له ولایتي محابسو څخه د راتلونکو توقیفیانو د یوې یا دوه قضیو راپورونه ترلاسه کوي کوم چې د توقیف د پخوانیو مسؤولینو له خوا د ناوړه چلند نښې نښانې په ډاګه کوي؛ او دغه موارد د طالبانو د مشر له دفتر او *برحاله* د کورنیو چارو له وزارت سره د څېړنو او تعقیب په پار شریک شوي. یوناما پر دې خبره نه ده چې څومره قضیې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت ته سپارل شوي نه هم د دغو راپورونو په نتیجه.

د بند په جریان کې، یوناما د محبسونو په بند کې دوه داسې موارد مستند کړي چې مرکه شوي شخص راپور ورکړي چې د مناسبې روغتیا پالنې لپاره د هغه غوښتنه رد شوې.[118] په یو شمېر مواردو کې مرکه ورکوونکو تایید کړې چې په محبس کې یې درملنه شوې او کله چې د هغې پالنې په پرتله چې کلینیکونو یې د وړاندې کولو وړتیا درلوده لازیاتې تخصصي روغتیا پالنې ته اړتیا وه له محبس څخه بهر روغتون ته بیول شوي.[119]

څرنګه چې زیات شمېر محبسونه د بشپړ رسمي وخت لپاره ښځینه ډاکټرانې یا نرسانې نه لري، ښځینه ډاکټرانې د اړتیا په صورت کې راغوښتل شوي یا په مقطع یې ډول له محبسونو لیدنه کړې. د اړتیا پرمهال، یا *برحاله* د محبس رئیس ته د روغتیايي کلینیک د رئیس له خوا د سپارښتنې پرمهال، هغه ښځینه توقیفیانې چې نسائي ولادي تخصصي پاملرنې ته یې اړتیا درلوده، روغتونونو ته لېږدول شوي. له یوناما سره په خپلو تعاملاتو کې، د

---

[117] د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۴ نېټې مرکه (مرکه ورکوونکي په ډاګه کړه چې څنګه یوه ډاکټر "له ما څخه وغوښتل چې یو سند لاسلیک کړم چې زه شکنجه شوی نه یم، که څه هم هغه مخکې ماته وویل چې مور دواړه په حقیقت پوهېږو").

[118] د ۲۰۲۳ د اپریل ۱۸نېټې مرکه ("ما په زندان کې له یوه ډاکټر څخه غوښتنه وکړه چې زما زخمي بدن معاینه کړي [د استخباراتو په لوي ریاست کې د چلند له کبله] او یوه نرس ما ته د درد کمولو درمل راکړل. "ما وغوښتل چې له محبس څخه بهر مې یوه روغتون ته یوسي خو دوي د دغه کار اجازه ور نه کړه، نو زه په محبس کې دننه روغ شوم." د ۲۰۲۳ د می ۵ مرکه ("ما ته اجازه نه وه چې ډاکټر سره کتنه وکړم که څه هم ما وغوښتل او د شرایطو وړ ووم").

[119] د ۲۰۲۲ د سپتمبر د ۲۲ نېټې مرکه: ("ما په پښه/لاس کې تکلیف درلود؛ څرنګه چې د محبس کلینیک درملنه یا درمل نه درلودل، دوی زه [بهر] له نورو توقیفیانو سره چې روغتیايي ستونزې یې درلودې، روغتون ته بوتلم")؛ د ۲۰۲۲ د سپتمبر د ۲۲ نېټې مرکه: ("دلته [په زندان کې] درملنه ښه ده. که خلګ کلینیک ته د تللو غوښتنه وکړي، درملنه او مرسته یې کیږي. زه د ناروغۍ د درملنې لپاره دوه ځله کلینیک ته تللی یم او درملنه مې وشوه")؛ د ۲۰۲۲ د سپتمبر د ۲۸ نېټې مرکه ("لومړی مې په زندان کې درملنه وشوه، او کله چې زما روغتیا د ډیر تشویش له امله خرابه شوه، زه یې روغتون ته بوتلم")؛ د ۲۰۲۲ د اګست د ۲۵ نېټې مرکه ("په محبس کې دننه روغتیايي پرسونلو بندیانو ته ښه روغتیايي خدمتونه وړاندې کول او د درملو کیفیت ډیر ښه و. ما د درد تسکین درمل ترلاسه کړل چې زما د بدن درد او د شکنجې نښې نښانې یې هم لرې کړې)؛ د ۲۰۲۳ د مارچ د ۱۵ نېټې مرکه: ("روغتیايي پرسونل د محبس رئیس پر دې قانع کړ چې د روغتیايي وضعیت له امله ما په غیر رسمي ډول د څو ورځو لپاره خوشې کړي").

محبسونو نږدې ټولو *برحاله* رئیسانو د خپلې محدودې ورتیا په اړه اعتراف کړې چې د محدودو منابعو لکه درملو او وسایلو له امله کافي روغتیا پالنه برابره کړي، په ځانګړې ډول د ښځو لپاره.

## د بې طرفه قاضي په وړاندې په چټک ډول د حاضرولو او د بند د قانونیت د ننګولو حق

د بې طرفه قاضي حضور ته د یوه نیول شوي شخص په چټک ډول د وړاندې کولو شرط له آزادۍ څخه د خپلسري محرومیت په وړاندې یو له اصلي تضمینونو ګڼل کېږي او تورن شخص لپاره د توقیف د اساس د ننګولو او یوه قاضي ته د دې فرصت برابروي څو معلومه کړي چې له محاکمې مخکې توقیف اړین دی یا نه.[۱۲۰] دا همدارنګه قاضي ته دا فرصت ورکوي چې د هغه چلند په اړه پلټنه وکړي چې له بندي سره په توقیف کې ترسره شوی. په داسې حال کې چې د "په چټک ډول" معنا ښايي مختلفه وي چې په عیني شرایطو پورې اړه لري، نړیوال قانون غوښتنه کوي چې تر نیونې وروسته ځنډ نه باید له څو ورځو زیات شي.[۱۲۱]

د توقیف د قانونیت کتنه باید د یوې محکمې له خوا ترسره شي څو د عینیت او خپلواکۍ له لوړې درجې څخه ډاډ ترلاسه شي. محکمه باید دا صلاحیت ولري چې وکولای شي مؤثره بیا کتنه ترسره کړي، د هغو شواهدو په ګډون د کومو پر بنسټ چې شخص نیول شوی دی؛ او یا د نیول شوي کس د خوشې کولو امر ورکړي که چېرې بیامومي چې توقیف له ملي او نړیوالو قوانینو سره مطابقت نه لري.[۱۲۲]

په افغانستان کې د قوانینو له مخې، د جزايي اجراآتو قانون، امنیتي مسؤولینو ته اجازه ورکړې چې د اجراآتو د بشپړولو لپاره شکمن کسان تر لس ورځو پورې وساتي. همدرانګه دغه قانون څارنوالانو ته اجازه ورکړې، چې د الزام دلایلو د شتون په صورت کې تر ۶۰ ورځو پورې د توقیف شوي کس د توقیف د مودې د غځولو امر صادر کړي څو د رسمي تحقیق لپاره زمینه برابره شي، چې د جرم څرنګوالي پورې اړه لري.[۱۲۳] یوناما له نړیوال قانون څخه د مسؤلیتونو له خوا د سرغړونې له امله پر دغو احکامو باندې نیوکه کړې، ځکه چې څارنوالان نه شي کولای د قضايي نظارت دنده ترسره کړي، او د قضايي نظارت څخه پرته یو کس تر ۷۰ ورځو پورې په توقیف کې ساتل له هغې زماني مودې څخه د پام وړ زیات وخت دی کوم چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېټې د نړیوال قانون له مخې مناسب ارزولی.[۱۲۴]

د بندیانو د نظام د سمون په اړه د طالبانو د مشر طرز العمل، ۱۷ د جنوري ۲۰۲۲، *برحاله* امنیتي مسؤولینو ته اجازه ورکوي چې د حقوق الله په قضیو کې (د خدای د اوامرو پر خلاف جرمونه چې امنیت ته ګواښ پېښوي[۱۲۵]) متهم کسان تر دریو ورځو پورې وساتي، چې تر هغې وروسته دوي باید اړونده مرجع (محکمه) ته وسپارل شي. که چېرې د تحقیقاتو لپاره اضافه وخت ته اړتیا وي، د توقیف کوونکې اداره د لزوم دید پر اساس، متهمین تر یوې میاشت پورې ساتل کیدای شي(۳۱ ماده) که تر یوې میاشتې زیاتې مودې ته د کشف الحال له امله اړتیا وي نو له اړونده محکمې څخه به د تمدید کتبي او لیکلي حکم اخلي. که چېرې په حق العبدي یعنې د شخړو په صورت کې د فریق یا فریقینو تر دریو ورځو زیات بند کې ساتلو ته اړتیاو وي، د محکمې د حکم له مخې یې زیات بند کې ساتلی شي (۳۲ ماده). د ۲۰۲۲ کال په مارچ کې، د طالبانو مشر د توقیف پخوانۍ مودې بیاکتنه وکړه، او حکم یې کاوه چې له امنیتي

---

[۱۲۰] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ۹(۴) ماده؛ د ماشوم د حقونو کنوانسیون، ۳۷(د) ماده; په بند کی د اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۱(۱) او ۳۲ اصول، د بشري حقونو د شورا ۱۸/۱۵ شمېره پریکړه لیک، ۴ (د) پاراګراف.

[۱۲۱] د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ۹(۳) ماده. د "سمدستي" په دې معنا چې "ځنډونه باید له څو ورځو څخه زیاته نه شي"؛ وګورئ، د بشری حقونو کمیټه، ۳ شمیره عمومی تبصره ۸، پاراګراف ۲. ستېفنز د جمیکا په مقابل کې، د ابلاغ شمیره ۱۹۸۹/۳۷۳، د ۱۹۹۵ د اکتوبر ۱۸مه، CCPR/C/55/D/373/1989، پاراګراف ۶.۹.

[۱۲۲] د هر ډول توقیف یا حبس لاندې د ټولو اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۱۱(۳) اصل.

[۱۲۳] د جزايي اجرااتو قانون ۵ او ۶ مادې او ۱ ضمیمه وګورئ. څارنوال کولی شي د د جنحی جرمونو لپاره د ۳۰ ورځو لپاره او د جنایت جرمونو لپاره د ۶۰ ورځو لپاره د توقیف موده تمدید کړي.

[۱۲۴] په افغانستان کې د جګړې اړوند بندیانو سره چلند: د شکنجې ضد قانون له مخې د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوي، یوناما، اپریل ۲۰۱۹، ۱۰ مخ، پر دغه ویبپاڼه شتون لري: https://unama.unmissions.org/afghanistan- Report on Treatment of conflict-related detainees - 17 April 2019

[۱۲۵] په دې کې ارتداد، د کودتا هڅه، زنا، اتهام (د نورو په وړاندې درواغو تورونه)، غلاء، د لوېي لارې شوکه، او د الکول څښل شامل دي. دغه جرمونه په قرآن کې ټاکل شوې سزاګانې لري.

مسؤولينو سره د تحقيق لپاره د توقيف موده نه بايد له ۱۰ ورځو زياته شي، چې تر هغې وروسته تمديد بايد له صلاحيت لرونکې محکمې څخه وغوښتل شي.[۱۲۶]

يوناما يوازې يو داسې مورد مستند کړی چېرې چې يوه مرکه کوونکي *برحاله* د استخباراتو د لوي رياست له خوا تر توقيف وروسته پر دويمه ورځ د *برحاله* قاضي په وړاندې د حاضرولو خبر ورکړی، چې د خوشې کولو لپاره يې لېک ورکړ. د مستند شويو نيونو په شبه-مجموعه کې، داسې کوم مورد نه و موجود چېرې چې د *برحاله* کورنيو وزارت يا د استخباراتو لوي رياست په بند کې يوه توقيفي د *برحاله* قاضي په وړاندې د راځرګندېدو چانس لرلی وي، له دې سره سره د اوږدو مودو چې زياتره هغه يې تر يوې مياشت پورې رسيږي (د يوناما له خوا د ټول شويو قضيو په نږدې درېو ربعو کې)، همدارنګه د هغو مودو لپاره چې تر شپږو مياشتو پورې رسيږي، له خپلواک قضايي څار پرته ساتل شوي.

يوناما پر دې نه ده خبره چې آيا *برحاله* امنيتي مسؤولين لکه څرنګه چې د کشف الحال لپاره د متهمينو د بندي کولو د صلاحيت او بند د مودې په هکله د طالبانو د مشر فرمان له خوا غوښتنه شوې، په عمل کې له *برحاله* قاضيانو څخه د توقيفيانو له حاضرولو پرته د توقيف دپاره د مشخص شويو مودو پرته د توقيف د اضافه وخت لپاره د صلاحيت/اجازه ترلاسه کولو هڅه کوي يا نه، يا دا چې *برحاله* محکمې د شخص په غياب کې د دوسيې د اسنادو په نظر کې نيولو سره د توقيف د اضافه مودې د تمديد مؤثره بيا کتنه ترسره کوي يا نه.

د راپور د مخې آن په هغه وخت کې چې *برحاله* محکمې د حکم پر اساس له محاکمې مخکې توقيف موده او محبس ته د افرادو منل تاييد کړي، داسې نه برېښي چې *برحاله* قاضيان په دوسيه کې د تحقيقاتو محتوا په پام کې نيولو سره دې د دوامدار توقيف د قانونيت يا وړتيا بيا کتنه ترسره کړي. يوناما د کوچنيو جرمونو لپاره، يا د هغو جرمونو لپاره چې په ابتداء کې شخص قرباني برېښي، د اوږدو مودو لپاره د کوچنيانو په ګډون د ګڼ شمېر افرادو توقيفونه مستند کړي. په نادرو مواردو کې، د *برحاله* قاضيانو له خوا د تورنو مرتکبينو پر ځای د کورنۍ غړي توقيف کړل شوي. په نږدې ټولو قضيو کې، يوناما ملاحظه کړې چې افراد محبس ته د دې په پار داخل شوي څو *برحاله* قاضيانو ته د دې فرصت برابر شي چې دوسيه له *برحاله* کورنيو چارو وزارت يا بر حاله د استخباراتو لوي رياست څخه ترلاسه کړي او د ټولو هغو افرادو په اړه، په دوسيه کې د قوي شواهدو په نظر کې نه نيولو سره، تحقيقاتو ته ادامه ورکړي چې په احتمالي ډول په يوه قضيه کې دخيل دي.

په دې ترتيب سره، د يوناما له خوا په مستند شويو ټولو قضيو کې، معمولا محبس کې پر داخلېدو د څو مياشتو په تېرېدو سره سره، او په نږدې ټولو قضيو کې په لومړيو کې د نيول کېدو راهيسې تر اوږدو مودو وروسته، مرکه ورکوونکو د هغوی له نيونې راهيسې د لومړي ځل لپاره په يوه محکمه کې يوازې هغه مهال د حاضرولو خبر ورکړی کله چې توقيفيان محبس ته داخل شوي.[۱۲۷] د کابل په پلچرخي محبس کې، آن تر داخلېدو وروسته درې داسې موارد موجود وو چېرې مرکه ورکوونکي د *برحاله* پوليسو يا *برحاله* د استخباراتو د لوي رياست د مسؤولينو له خوا د هغوی د نيونې راهيسې مخکې تر دې چې د لومړي ځل لپاره د يوې *برحاله* محکمې محضر ته د پوښتنو ګرويږونو/تحقيق په پار وغوښتل شي، د شپږ او اته مياشتو مودو لپاره ساتل شوي. برعکس، په ځينو ولايتونو کې چېرې چې له *برحاله* قاضيانو سره د ځنډېدلو قضيو حجم کم دی، له محاکمې مخکې توقيف کې د *برحاله* قاضي په وړاندې د مرکه ورکوونکو لومړي ځل حاضرېدل محبس ته تر داخلېدو د شپږ اونيو په د ننه کې ترسره شوي.

---

۱۲۶ د کشف الحال لپاره د متهمينو د بندي کولو د صلاحيت او بند د مودې په اړه د طالبانو د مشر د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۲۹ شمېره فرمان.

۱۲۷ د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه وروسته د نيول شويو کسانو معوقه قضيو ته په رسيدګۍ کې ځنډ، د ۲۰۲۲ په اګست کې د څارنوالانو د رول د ځنډولو له امله نور هم تشديد شوی، چې د هغه وخت ځنډول شوي تحقيقات د بشپړولو په پار *برحاله* قاضيانو ته وليږدول شول، چې ډيری هغو يې د دوسيې پر تحقيقاتو له سره غور وکړ او لا زيات يې خپل تحقيقات ترسره کړل.

## اوږدمهالی او خپلسری بند – د څانګړو کمیټو په وړاندې د بند ننګول

**د ۲۰۲۲ کال له لومړیو راهیسې، او د داخل شویو توقیفیانو مودو د زیاتوالی په ځواب کې، د زندانونو د چارو د سمون ادارې د طالبانو له مشر سره په دوره یي ډول د هغو تدابیرو لپاره مدافعه کړې چې له محاکمې څخه په مخکې توقیف کې د تحقیق په تمه د افرادو د قضیو کتنه چټکه کړي، او د لزوم په صورت کې توقیفیان خوشې کړي.**

دغه کار په دوره یي ډول د مختلفو نوښتونو لامل شوي څو برحاله مسؤولین وکولی شي د توقیف قانونیت وارزوي. په دې کې برحاله عدلیې له وزارت، برحاله د کورنیو چارو له وزارت، برحاله سترې محکمې او د مفتیانو د استازو په استازیتوب سره د مختلطو کمېټو رامنځ ته کول شامل دي – کوم چې د ځانګړو ګرځنده محکمو په څېر کار کوي چې په محبسونو کې له زیات شمېر توقیفیانو سره ناستې ترسره کوي او د هغوي دوسیې ارزوي، په هغو مواردو کې د خوشې کولو امر کوي چې دوسي لازم اسناد و نه لري یا نا مکملې وګڼل شي. نورو ځانګړو کمېټو ته، چې زیاتره د برحاله قضايي یا نورو برحاله استازو څخه تشکیل شوې وي کومې چې په توقیف ځایونو کې وضعیت څاري، همدارنګه دنده سپارل شوې وه چې توقیفیانو سره وګوري، د هغوي دوسیې وګوري او وارزوي چې آیا د توقیف دوام اړین دی یا نه. د راپورونو له مخې دغو ګډو کمېټو همدارنګه په دوسیو کې د اسنادو د نه شتون له امله یا د "جرم" لږ جدي ماهیت په پام کې نیولو سره د توقیفیانو د خوشې کولو سپارښتنه کوي، او په دې توګه د اوږدې مودې خپلسري توقیف په پای ته رسولو کې مرسته کوي.[127]

لږ تر لږه دوه مرکه ورکوونکو د برحاله استخباراتو لوي ریاست په توقیف کې یوناما ته تایید کړې چې د دې فرصت یې درلود چې مختلفو برحاله مسؤولینو سره د توقیف د ناقانونیت او اوږدو مودو په اړه خپل شکایتونه مطرح کړي. لومړني مرکه ورکوونکي توضیح کړه چې د برحاله د استخباراتو له عمومي رئیس سره یې ولیدل څوک چې مهربان و، د هغه شکایتونه یې واوریدل او د هغه د دوسیې ترکتلو وروسته یې د اسنادو د نه شتون له امله د خوشې کیدو امر وکړ؛ بل مرکه ورکوونکي د دې فرصت درلود چې خپله قضیه هغه هیئت ته وړاندې کړي چې مشري یې د برحاله د استخباراتو د لوي ریاست د مرستیال له خوا کیده او له هر توقیفیي سره یې لیدل او د هغوي قضیې یې کتلې. د خپلې دوسیې تر استیناف وروسته، هغه هم د شواهدو د نشتوالي له امله خوشې شو.[128]

په داسې حال کې چې دغه ځانګړي تدابیر کیدای شي د توقیف د قانونیت د شبه-خپلواکې بیاکتنې په توګه وګڼل شي، د دوي بیاکتنه تل د ابتدايي نیونې له وخت څخه میاشتې وروسته رامنځته شوې. ځانګړې کمېټې د یوې خپلواکې ادارې لپاره دا اړتیا نه نفي کوي چې د برحاله پولیسو یا برحاله د استخباراتو د لوي ریاست په بند کې تر توقیف وروسته سملاسي په سیستماتیک ډول د توقیف قانونیت و ارزوي.

یوناما ملاحظه کړې چې د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې، پخوانی څارنوالۍ د طالبانو د مشر په فرمان "د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت برحاله لوي ریاست" ته واوښته.[129] د توقیف ځایونو او له توقیفیانو سره د چلند تر څارنې ور ها خوا، برحاله ریاست ته صلاحیت ورکړل شوی چې د "توقیفي ادارو" د فعالیتونو قانونیت په اړه د نظارت رول ولري، چې په دې کې د اشخاصو د احضارولو او په تعقیب یې د توقیف دوام د قانونیت څارنه شامل دي. داسې برېښي چې برحاله ریاست له شبه قضايي واکونو سره د دوسیو د کتلو حق لري چې د پورتنیو مواردو په اړه پرېکړې ترسره کړي، او برحاله ارګانونو ته د توقیفیانو د خوشې کولو په اړه لارښوونې یا حکمونه صادروي.[130]

د موجوده برحاله قضايي چارواکو د ظرفیت د نه شتون په پام کې نیولو سره چې تر نیونې وروسته زر تر زره چټک، عیني او خپلواک نظارت یقیني کړي، د جهت د تغیر په نظر کې نیولو سره برحاله د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست باید په مناسب ډول پر منابعو سمبال شي څو له توقیف ځایونو څخه د مهالنیو تفتیشونو د ترسره کولو پر ځای سیستماتیک نظارت ډاډمن کړي او د توقیفیانو د دوسیو او د افرادو د توقیف د قانونیت ارزونه چټکه کړي (د لا زیاتو معلوماتو لپاره *خپلواک بهرني میکانیزمونه*، برخه وګورئ).

---

[128] د زندانونو د چارو د سمون ادارې په ملاتړ/مدافعې، د ۲۰۲۲ کال په سپتمبر کې د طالبانو مشر *برحاله* سترې محکمې ته امر وکړ چې د هر ولایت لپاره د قضايي صلاحیتونو سره قضايي هیئتونه وټاکي او په چټک ډول دوسیې و ارزوي څو محاکمه ترسره شي، او د خوشې کولو لپاره یې لارښوونې برابرې کړې وي، د مثال په ډول په هغو قضیو کې چیرې چې شکیلې خواوې پر یوه پریکړه توافق کوي، یا چیرې چې مدعیان قضیه نه تعقیبوي. همدارنګه د طالبانو مشر له هغه وخت راهیسې د محکمو لپاره فرمان صادر کړی چې د ابتدائیه، استیناف او تمیز محکمو لپاره د دوسیو د ارزونې لپاره دقیقې زماني مودې وټاکي. په محکمو کې د قضیو د ارزونې په اړه فرمان وګورئ، ۱۴۴۴/۶/۹.

[129] ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۴ نېټې مرکه، د ۲۰۲۲ کال د اګست د ۱ نېټې مرکه.

[130] د طالبانو د مشر، د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب لوِي ریاست د دندو او واکونو په هکله فرمان، ګڼه ۳۲، د ۲۰۲۳ کال د مارچ ۲۱مه، ماده ۸. همدارنګه وګورئ، د لوېي څارنوالۍ څخه د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست ته د نامه بدلون په هکله فرمان، ګڼه ۳۵، د ۲۰۲۳ کال د می د میاشتې په ۷ مه نېټه، د ۲۰۲۳ کال د جولای په ۱۱مه رسمي جریده (۱۴۳۴) کې خپور شوی.

[131] د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوي ریاست د دندو او واکونو د انفاذ قانون په اړه ۳۲ شمېره فرمان، ۲۱ مارچ ۲۰۲۳، ۷ او ۸ ماده .

## د سکوت حق – له قضايي اجراآتو څخه د جبري شواهدو حذفول

هر شخص حق لري چې د خپل ځان په ضد شاهدي ورکولو يا پر ګناه اعتراف کولو ته مجبور نه شي. [۱۳۲] د چپ پاتې کيدو حق د برئ الذمه ګڼلو نه جلا کيدونکې برخه ده او د شکنجې او ناوړه چلند د منع لپاره مهم ګڼل کيږي. د جنايي جرمونو په تور نيول شوي کسان بايد د تحقيقاتو او د هرې مرکې د پيليدو پرمهال د چپ پاتې کيدو له خپل حق څخه خبر شي، همدارنګه په دې خبر شي چې هر ډول ترسره شوې بيانونه د هغوی پر ضد په جنايي اجراآتو کې کارول کيدای شي. سربيره پر دې د متهمينو خاموشي د ګناه منلو په څير نه انګيرل کيږي. دا حق بايد پر ګناه د اعتراف د ترلاسه کولو په هدف د تحقيق کوونکو مسؤولينو له خوا پر متهم د هر ډول مستقيم او غيري مستقيم فيزيکي او يا هم رواني فشار په نشتون کې درک شي.[۱۳۳] اعتراف ترلاسه کولو په پار د شکنجې او يا هم ناسم چلند کارول نه يوازې د شکنجې له ممنوعيت بلکې همدارنګه د ځان مجرم ګڼلو له ممنوعيت او د عادلانه محاکمې له حق څخه سرغړونه ګڼل کيږي.[۱۳۴] د شکنجې د منع کنوانسيون له ټولو غړو دولتونو غوښتنه کوي څو ډاډ ترلاسه کړي چې د شکنجې په پايله کې ترلاسه شوی اقرار په هيڅ صورت د ثبوت په توګه و نه کارول شي، مګر په هغه صورت کې چې په شکنجې د تورن شخص د ځارنې لپاره د ثبوت په توګه ګټه ترې واخيستل شي (۱۵ ماده).

د افغانستان د قوانينو له مخې، د جزايي اجراآتو قانون هم په آزادنه ډول د مطالبو بيانولو او دلايلو د وړاندې کولو (۷ (۵) ماده) او د سکوت له حق څخه ګټه اخيستل او له هر ډول بيانونو څخه د ډډې کولو (۷ (۷) او ۱۵۰ (۱)) حقونه رانغاړي. د جزايي اجراآتو قانون همدارنګه غوښتنه کوي چې له متهم څخه اخيستل شوی بيان باندې بايد د هغه لاسليک په ليکلې بڼه ثبت شي خو همدارنګه صراحت لري چې متهم کولی شي د دغه ډول بيان له لاسليک کولو يا د ګوتې نښې ايښودلو څخه ډډه وکړي (۸۵ (۲) او (۳)). د جزايي اجراآتو قانون همدارنګه صراحت لري چې د قضايي ضبط مامور، څارنوالي او محکمه په هيڅ حالت کې اجازه نه لري، په خپله يا د بل شخص له لارې په ناوړه چلند، د مخدره موادو په استعمال، اکراه، شکنجې، په مقناطيسي خوب، تهديد او ويرولو يا د ځه ګټې په وعدې سره مظنون يا تورن اظهار يا اقرار ته مجبور کړي؛ او پيشبيني کوي چې هغه بيان يا اقرار چې له مظنون يا تورن څخه په ناوړه چلند، د مخدره موادو په استعمال، اکره، شکنجې، په مقناطيسي خوب، تهديد او ويرولو په کارولو سره اخيستل شوي وي، د استناد وړ نه دی (۲۲ ماده).

د بنديانو د نظام د چارو د سمون په اړه د طالبانو د مشر طرز العمل هم د دې لارښوونه کوي چې اقرار د زور او اکراه له لارې نه اخيستل کيږي (۳۶ ماده) او دا په ډاګه کوي چې ټول اقرارونه بايد پخپله خوښه وي. سربيره پر دې، امنيتي مسؤولين دې له متهم څخه د اقرار اخيستلو هڅه نه کوي او په ځانګړې توګه له تهديد، تعذيب او ويډيو کولو څخه دې ډډه وکړي، ځکه دغه اقرار په محکمه کې د حکم مدار نه ګرځي (۳۹ ماده). سره له دې چې "امنيتي اداري دې هغه شواهد، اسناد او قرائن چې د متهم اتهام ثابتوي لکه د ګرفتاري محضر او په جرم کې د تلبس حالت او د راپور توثيق د دوي وظيفه ده چې د دوسيې په شکل کې به يې محکمې ته وړاندې کوي" "قاضي د بل په تحقيق او په هغو شاهدانو او اقرار حکم نه شي کولای چې کشف او تحقيق

[۱۳۲] د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ۱۴(۳)(ز) ماده؛ د نړيوالې جنايي محکمې د روم اساسنامه، ۵۵(۱)(الف) ماده.

[۱۳۳] د بشري حقونو کميټه، ۳۲ شمېره عمومي تبصره، ۱۴ ماده (د محکمو او قضايي ارګانونو په وړاندې د مساوات او عادلانه محاکمې حق)، د ۲۰۰۷ د اګست ۲۳، CCPR/C/GC/32، ۴۱ پاراګراف. همدارنګه اقرار ته د اړ ايستلو، د خپل ځان مجرم ګڼلو يا د بل شخص په ضد د شاهدي ورکولو په موخه له توقيف شويو يا بندي شويو کسانو څخه د ناوړه ګټې اخيستنې د ممنوعيت يادونه کوي: د توقيف لاندې اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۲۱ اصل.

[۱۳۴] د بشري حقونو کميټه، تاليپ خوژايوف د ازبکستان په مقابل کې، ۲۰۰۴/۱۲۸۰ شميره ابلاغ ، د ۲۰۰۹ د جولای ۲۲مه، CCPR/C/96/D/1280/2004، ۸.۳ او ۸.۴ پاراګرافونه. دا هم وګورئ: د بشري حقونو کميټه، بازاروف د ازبکستان په مقابل کې، ۹۵۹/ ۲۰۰۰ شميره ابلاغ ، د ۲۰۰۶ جولای ۱۴مه، CCPR/C/87/D/959/2000 (۲۰۰۶) ۸.۳ پاراګراف، چيرې چې شريک مدعي عليهم د تحقيق په جريان کې تر دې حده وهل شوي او شکنجه شوي وي تر څو دوی د مدعي عليه په اړه د مدني او سياسي حقونو د نړيوال ميثاق د ۱۴ (۱) په نقض کې د الزاميت ناسمه شاهدي ورکړي چې د هغه په محکوميت تمامه شي.

والا اوريدلي وي، بيا اعاده غواړي اقرار او شهادت به قاضي خپله اوري بيا به يې مدار د حکم ګرځوي او خپل حکم به ور باندې بناء کوي" (۳۹ ماده).

*برحاله* سترې محکمې ته د طالبانو د مشر د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر لارښوونه چې په هر ولايت کې "قضايي پلاوي طرزالعمل ضميمی" سره سم قضايي هيئتونه جوړ کړي، او همدارنګه يې يو ځل بيا د دې يادونه کړې چې د *برحاله* سترې محکمې د ۲۱۷ شمېرې حکم له مخې د هيئت وګماري، دوی نه بايد يوازې د مدعي عليه د اقرار پر بنسټ، کوم چې د پوليسو له خوا اخيستل شوی وي او يا هم چېرې چې پوليسو د تورن کس پر خلاف بيان ورکړی وي، کومه فيصله او يا حکم صادر کړي، د دې يادونه شوې چې له شواهدو پرته دغه ډول اعتراف کوم حقوقي ارزښت نه لري مګر دا چې د قاضي په حضور کې شوي وي.

د جبري اقرارونو په اړه د طالبانو د مشر له ممنوعيت سره سره، يوناما ۸۲ داسې موارد مستند کړي چې مرکه ورکوونکو اسناد لاسليک کړي او ادعا يې کړې چې دا تر فشار لاندې د تحقيقاتو وروسته د دوی بيانونه دي. د دغو مواردو له جملې ۳۱ هغه يې د *برحاله* پوليسو په توقيف (چې په دوه هغو کې ښځې شاملې وې) او ۵۱ هغه يې د *برحاله* استخباراتو د لوي رياست په بند کې (چې په پنځو هغو کې ښځې شاملې وې) رامنځ ته شوي. د دغو مواردو په ۴۰ يا نږدې نيمه يې هغو کې، اسناد وروسته له هغې لاسليک شوي چې مرکه ورکونکي د تحقيقاتو پرمهال له شکنجې يا اکراه سره مخ شوي.[۱۳۵]




ديارلسم تصوير: د اجباری اعتراف نه کولو حق څخه مستند شوي سرغړونې د اداراتو په تفکيک سره

نږدې په ټولو مواردو کې مرکه ورکوونکو د اسنادو له لوستلو پرته يا پرته له دې چې محتوا يې هغوی ته تشريح شي، اسناد لاسليک کړي يا يې ور باندې د ګوتې نښې اخيستل شوي. په يو شمېر مواردو کې مرکه ورکوونکو په ښکاره پر محتوا د پوهېدو غوښتنه کړې ده خو *برحاله* امنيتي مسؤلينو د مرکه ورکوونکو د لوستلو غوښتنه رد کړې، يا يې رد کړې چې اسناد دې سترګو تړلو يا نالوستو مرکه ورکوونکو ته په لوړ غږ ولوستل شي.[۱۳۶]

[۱۳۵] د مثال په توګه، د ۲۰۲۲ د اکتوبر د ۱۷مې مرکه ("د پوښتنو ګرويږنو په ترڅ کې، پوليسو اقرار کولو ته اړ کړم او په پلاستيکي کيبل يې سخت ووهلم. هغو ماته بريښنايي ټکانونه هم راکړل. له سختې شکنجې وروسته، ما اقرار وکړ او اعتراف مې لاسليک کړ.)، د ۲۰۲۲ د جولای د ۱۹ نېټې مرکه (له ما څخه د استخباراتو په لوي رياست کې اووه ځله تحقيقات وشول. زه په پلاستيکي پايپونو او په سوکانو په مخ، شا او رونونو ووهل شوم، دوی زما ويښتان را کشول، ترڅو ما دې اعتراف کولو ته اړ کړي چې دولت ضد عناصرو ملاتړی يم). د ۲۰۲۳ د فبروري د ۲۱مې مرکه ("د استخباراتو په لوي رياست کې دوی زه شکنجه کړم ترڅو [له اړوندو ډلو سره] د خپل ورور د اړيکو په اړه اعتراف وکړم او ګواښ يې وکړ چې که زه اعتراف ونه کړم تر دې به زياته شکنجه ووينم. ما ورته وويل که تاسو غواړئ چې زه درواغ ووايم، تاسو کاغذ راوړئ چې لاسليک يې کړم او زه به په هغه څه اعتراف وکړم چې تاسو واياست، ځکه زه دا په متروکه وهل او شکنجه نه شم زغملی").
[۱۳۶] د ۲۰۲۳ د فبروري د ۲۱مې مرکه: ("مور هر هغه څه لاسليک کړل او اعتراف مو وکړ چې دوي غوښتل. زه نه پوهيږم چې ما څه لاسليک کړل.")؛ د ۲۰۲۳ د جنوري د ۳۱مې مرکه ("د پوليسو په نظارت خونه کې دوی ځينې اسناد چمتو کړي وو چې غوښتل يې په زور يې پر مور لاسليک کړي؛ دوي ما ته وويل چې پر سند باندې د ګوتې نښان کيږدم. کله چې ما وپوښتل چې د سند محتويات څه دي؟ دې پوښتنې سره دوی زه نور هم ووهلم، پرته له دې چې سند ولولم د خپلې ګوتې نښان مې پرې کېښود، بله چاره نه وه.")؛ د ۲۰۲۳ د مارچ د ۲مې مرکه ("د استخباراتو په لوي رياست کې وهل ټکول د تحقيق له پيل کيدلو څخه دمخه پيښ شول...... د تحقيقاتو پرمهال ما پر يو سند د ګوتې نښان کيښود. ما اجازه نه درلوده چې هغه وګورم. ما

یوازې دوه مرکه ورکوونکو په داسې حالت کې بیان لاسلیک کړی چې پر محتوا یې پوهیدل.[۱۳۷] په یو شمېر مواردو کې مرکه ورکوونکې د دویم ځل لپاره بیان ورکولو ته مجبور شوي وو څو صحنه سازي شوی بیان ورکړي او ویډیو یې واخیستل شي او هغه څه وواېي چې د دوي له خوا ورته ویل کیدل.یوه مرکه ورکوونکې په دې اړه معلومات ورکړي چې هغه څرنګه له نورو توقیفیانو څخه د بیانونو په اخیستلو کې له *برحاله* پرسونلو سره د څو ورځو لپاره مرسته کړې، ځکه چې کارمندان نالوستي وو.

له پورته پېښو څخه داسې ښکاري چې د *برحاله* امنیتي مسؤلینو ترمنځ دا یو ډول معمول عمل دی چې جدي اندېښنې را ولاړوي. یوناما ملاحظه کړې چې د تحقیق پرمهال د مدافع وکیلانو په نه شتون سره لا زیاتې شوي چا چې په دغې مرحله کې مرسته کولی شوه او د توقیفي حقونه یې خوندي کولی شول، دا د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلارې[۱۳۸] څخه سرغړونه ده (ماده ۲۱ (۴)). د محتوا له لوستلو یا د هغه په اړه د تشریح ترلاسه کولو پرته، توقیفیان د خپلو بیانونو کره والي نه شي یقیني کولی یا دا چې هغوي اقرار نه لاسلیکوي. دواړه یې د افرادو د خپل ځان مجرم نه ګڼلو یا پر ګناه اعتراف نه کولو له اساسي حق څخه سرغړونه ګڼل کېږي.

د یوناما له خوا په مستند شویو زیاترو قضیو کې، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست مسؤولینو یا خو یې مرکه ورکوونکې خوشي کړي او یا یې د نورو تحقیق لپاره د *برحاله* کورنیو چارو وزارت یا *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست یوه بل توقیف ځاي ته انتقال کړي. هغه اشخاص چې دویم توقیف ځای ته لیږدول شوي او په لومړي هغه کې یې اقرار ورکړی د هغوي د نورو تحقیقاتو یا پوښتنو ګروېږنو چانس یې محدود کړی ځکه چې وروستیو مسؤولینو د نورو اقداماتو ترسره کولو په پام کې نه نیول.[۱۳۹] د هغو کسانو لپاره چې د *برحاله* کورنیو چارو وزارت یا د استخباراتو د لوي ریاست له خوا خوشي شوي، چې جبري اقرار یې لاسلیک کړی په ځانګړي ډول په هغو مورادو کې چې د کورنۍ یا ټولنې د غړو له خوا د یاد جرم د نه تکرار له لاسلیک شوي ضمانت سره، د توافق شویو شرطونو یا د نه تکرار د نقض د راتلونکو ادعاوو په صورت کې د دواړو فرد او د هغوي د ضمانت کوونکي لپاره جدي خطر پېښوي.

چېرې چې *برحاله* امنیتي مسؤولین له دغو بیانونو سره دوسیې *برحاله* قاضیانو ته لیږدوي څو په محبس کې له محاکمې مخکې توقیف لپاره د یوه توقیفي داخلیدل، نور تحقیقات یا د *برحاله* محکمې له خوا قضاوت تایید کړي، د دغو اسنادو پر محتوا پوهیدو کې پاتې راتلل د فرد د آزادي، د بې ګناه ګڼلو او د *برحاله* محکمو په وړاندې د عادلانه محاکمې حق په ښکاره اغیزمنوي. له دې سره سره چې د طالبانو د بندیانو د نظام د چارو د سمون طرز العمل د دې وړاندوینه کوي چې جبري اقرارونه د *برحاله* قاضیانو له خوا په پام کې نه نیول کېږي،

---

هغه کار وکړ، زه د خپل ژوند په فکر کې وم")؛ د ۲۰۲۳ د فبروري د ۲۰مې مرکه ("یو چا پر څو کاغذو باندې زما د ګوتې نښان واخیست بې له دې چې د هغوي منځپانګه راسره شریکه کړي او یا یې راته ولولي. هغه کس راته وویل چې په کاغذونو کې هغه څه لیکل شوي چې ما د تحقیقاتو په ترځ کې وویل. پوښتنه مې ترې وکړه چې ما ته اجازه راکړئ چې هغه کاغذونه په خپلو سترګو ووینم [په دې چې زما سترګې په پټۍ تړل شوې وې] خو هغه انکار وکړ او ویې ویل چې زه مسلمان یم او ستا په وړاندې جعلي شواهد نه وړاندې کوم.")؛ د ۲۰۲۳ د مارچ د ۱۵مې مرکه ("شا و خوا یو ساعت وروسته دوه سړي زما خونې ته راغلل. په داسې حال کې چې زما سر پوښلی و، دوی زما د ګوتو نښان پر کاغذ واخیست. دوی ماته زما دوسیه ونه لوسته. زه د دوسیې له محتوا خبر نه وم. ما ورته وویل چې زه باید دوسیه ولولم او بیا یې لاسلیک کړم، خو هغوی زما خبرې ته غږ کېنښود.) د ۲۰۲۳ د فبروري ۶مې مرکه ("دوی ما ته وویل چې پر خپل بیان چې ۲، ۳ پاڼې اوږد و، د ګوتو نښان کېږدم. دوی، بیان په خپله راته ولوست او نه یې اجازه راکړه چې زه یې ولولم"). د ۲۰۲۳ د مۍ د ۸ مې مرکه ("دوی له هرې پوښتنې وروسته ماته د کاغذ یوه ټوټه راکوله چې په کې هغه څه چې ما د تحقیق په ترځ کې ویلي و، لیکلي وو. ما هیڅکله د کاغذ لوستلو اجازه نه درلوده، خو دوی د هرې پوښتنې وروسته زه مجبورولم چې د ګوتو نښان پرې کېږدم).

[۱۳۷] د ۲۰۲۳ د فبروري د ۱۵مې مرکه: (د پولیسو/جنايي تحقیقاتو د ریاست د توقیف پرمهال)؛ د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د ۲۴ نېټې مرکه ("د استخباراتو په لوي ریاست کې دوی له ما څخه وغوښتل چې پر یو کاغذ د ګوتو نښې ولګوم؛ یوه ساتونکي راته کاغذ ولوست. په هغه کاغذ کې داسې لیکل شوی وو: "ما اراده کړې وه چې د قرباني د وژلو لپاره خپل ملګري راولم". دا رېښتیا نه وه ځکه که مې نه وای لیکلی نور به وهل کیدم.").

[۱۳۸] د عدلیې وزارت له خوا د ۲۰۲۲ کال د اپریل په میاشت کې ، د ۲۰۲۲ کال د فبرورۍ په ۶مه د ۲۱۵(ج ۱) ګڼې فرمان په تعقیب، او د ۲۰۲۱ کال د نومبر د میاشتې په ۱۵مه نېټه د افغانستان د اسلامي امارت د *برحاله* کابینې د(۱۰) شمیرې پریکړې له مخې صادر شو.

[۱۳۹] د مثال په توګه، د ۲۰۲۳ د مارچ د ۱۵مې مرکه: (په لومړي توقیف ځای کې چې وروسته بیا بل ځای ته ولیږدول شوم، پرته له دې چې په منځپانګې پوه شم، پر ځینو اسنادو مې لاسلیک وکړ. د توقیف په دویم ځای کې چارواکو وپوښتل چې "ولې ما طالبان وژلي؟ ما ځواب ورکړ چې ما نه دي وژلي، دا جعلي تور دی. هغه وویل چې دا ستا دوسیه ده او تا اعتراف کړی چې تا طالبان وژلي دي. ما وویل چې زه به دا تور ونه منم ځکه چې دا بې اساسه دی.).

دا روښانه نه ده چې دغه احکام څرنګه تطبیق شوي یا دا چې آیا دغه احکام تطبیق شوي یا نه. یو مرکه ورکوونکي چې په بند محکوم شوی و، د محکمې په استماعیه غونډه کې یې یادونه کړې چې د *برحاله* استخباراتو لوی ریاست په توقیف کې شکنجه او بد چلند ورسره شوی، او د *برحاله* محکمې قاضي څخه یې وغوښتل چې د محبس ته د داخلیدو پاڼې یوه کاپي راوغواړي. دا د *برحاله* استخباراتو لوی ریاست د کارکوونکي له لوری چې د محکمې استماعیه غونډه کې یې حضور درلود رد شوه او *برحاله* محکمې د دغه ادعا په اړه کوم بل اقدام ترسره نکړ.[١٤٠]

یوناما د *برحاله* محابسو د مسؤولینو د توقیف پرمهال د جبري اقرارونو یا د اکراه تر حالت لاندې د اسنادو د لاسلیک هیڅ مورد نه دی مستند کړی. سره له دې چې د ۲۰۲۲ کال په اګست کې د څارنوالانو نقش په رسمي ډول ځنډول شوی، د ۲۰۲۲ له لومړیو راهیسې تحقیقات په بالفعل ډول یوازې د *برحاله* امنیتي مسؤولینو له خوا ترسره شوي او د بشپړیدو په پار *برحاله* قاضیانو ته لیږدول شوي، چې په دې ډول د محابسو په مرکزونو کې تحقیقات نه ترسره کېږي. برعکس، په داسې حال کې چې *برحاله* قاضیان تحقیقات ترسره کوي، یوه مرکه ورکوونکي خبر ورکړ چې *برحاله* قاضیانو د چا په مخ کې چې هغه او د هغه سره نور تورن حاضر شوي وو، هغوي اقرار کولو ته اړ ایستل.[١٤١]

[١٤٠] د ۲۰۲۳ د جون د ۱۱مې مرکه.
[١٤١] د ۲۰۲۲ د دسمبر د ۶ مې مرکه ("زه یې محکمې ته د ملایانو/قاضیانو له خوا د تحقیقاتو لپاره وروستلم. هلته دوه قاضیان وو او دوي موږ مجبورولو چې په هغو جرمونو اعتراف وکړو چې موږ په تورن شوي وو. هغوي له موږ څخه سر په سر دوه ساعته تحقیقات وکړل او حتی [د تور شریکان یې] وهل هم").

## د خوشې کولو لپاره د ضمانتونو سیستماتیکه او ناقانونه کارونه

**د *برحاله* کورنیو وزارت او *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست له توقیف ځخه ډیری توقیفیان، زیاتره تر اوږدو مودو وروسته، له کوم اتهام یا د نورو تحقیقاتو لپاره له *برحاله* محکمو سره د ځنډیدلې قضیې له ډاډمنولو پرته خوشې شوي. د اتهاماتو له نه شتون سره سره، ډیری مرکه ورکوونکو په ځانګړې ډول د برحاله استخباراتو له لوي ریاست ځخه د جبري اقرارونو په لاسلیکولو یا د کورنۍ یا د ټولنې د نورو غړو له خوا د لاسلیک شویو ضمانتونو (ضمانت کوونکو)، یا د دواړو په برابرولو سره خوشې شوي. په ډیرو نورو مواردو کې، یوناما همدارنګه ملاحظه کړې چې افراد د پیسو په ورکولو سره خوشې شوي، او ځینې آن دې ته اړ شوي چې د برحاله امنیتي ځواکونو لپاره وسلې واخلي او هغوي ته یې وسپاري.**

د ۲۰۱۴ کال د جزایي اجراآتو قانون (۸۸، ۱۰۵ او ۱۱۰ مادې) د پولیسو له توقیف ځخه د افرادو د مؤقت خوشې کولو په اړه صراحت کوي. په دغه ډول حالاتو کې، د محکمې له نظارت سره څارنوالان د بالمال کفالت غوښتنه کوي، چېرې چې بالمال کفالت نه شي تادیه کیدلی، د احضار ضامنان د اطمینان په څیر راغوښتل کېږي چې له توقیف ځخه په مؤقت ډول خوشې شوي متهمین به وروسته محکمې ته حاضروي. محکمې هم ښايي له خوشې کیدو وروسته د شرایطو د دوامدار رعایت د ډاډمنولو لپاره، د فوري حبس د تعویق یا د هغه د بدیل یا د مشروطې آزادۍ په څیر د کفالت بالمال یا د باور وړ ضمانت غوښتنه وکړي. په ټولو حالاتو کې، د کفالت بالمال او احضار ضامن کارول په خپلواک قضایي نظارت پورې مشروط ده.[141]

یوناما پر دې له پوهیدو سره چې دا په عمل کې پیښیږي، خو په دې اړه له کوم قانوني اساس ځخه معلومات نه لري، په داسې حال کې چې کوم بعدي اتهامات یا قضایي اجراات وجود نه لري، برحاله امنیتي مسؤولین په یو اړخیز ډول له بند ځخه د خوشې کیدو لپاره له توقیفیانو ځخه د حقوقي ضمانتونو د برابرولو غوښتنه کوي. دا د یوناما لپاره روښانه نه ده چې برحاله محکمې ټول هغه تضمینونه چې د برحاله پولیسو یا د استخباراتو د لوي ریاست په بند کې افرادو له خوا برابر شوي ګوري یا تاییدوي یا نه، په ځانګړې ډول د ادعا شوي جرم لپاره د برحاله محکمې له خوا د فرد د مسؤولیت لپاره د اتهاماتو یا د نورو مهمو قضایي ملاحظاتو د نه شتون په صورت کې.

یوناما په دې باور ده چې په پورتنیو مواردو کې د افرادو د خوشې کولو لپاره د ضمانتونو زیاته کارونه – پرته له دې چې په پام کې ونیول شي چې آیا د برحاله محکمو له خوا تایید شوې – په عمدي ډول جبري ګڼل کېږي. لومړی، د هغوی کارونه داسې برېښي چې موخه یې د هغو "جنايي" کړنو یا چلندونو مخنیوی وي د کومو په اړه چې لا تر اوسه قضاوت نه دی شوی، نږدې ټول تضمینونه د نه تکرار له شرطونو سره مله وو – په معمول ډول، دا چې د برحاله چاروکو په ضد به خبرې نه کوي، برحاله چارواکي نه تضعیفوي، له رسنیو سره به خبرې نه کوي، د مشخصو موضوعاتو په اړه به خپروني نه کوي، پر ټولنیزو رسنیو به نظریې نه څرګندوي، له نړیوالو سازمانونو سره به بیا نه ګوري، له پخوانیو همکارانو سره به بیا نه یو ځای کېږي، د "طالب-ضد فعالیتونه" به نه ترسره کوي. د خوشې کولو لپاره له ځینو تضمینونو سره مله نور شرطونه د فرد تګ راتګ/خوځښت منع کوي، لکه له خپل ښار، ولایت یا هیواد ځخه بهر سفر کول همدارنګه د تګ راتګ حق نقضوي، په تېره بیا د ادعا شویو جرمونو په اړه د خپلواک قضایي قضاوت د نه شتون په پام کې نیولو سره.[142]

سربیره پر دې، د دې په پام کې نیولو سره چې د یوه تضمین لاسلیکول د تضمین کوونکو لپاره د حقوقي مکلفیتونو درلودونکی دي او کیدای شي چې د لاسلیک کوونکو په ضد په حقوقي ډول اعمال شي، همدارنګه معلومیږي چې د هغوي د کارونې موخه د تضمین کوونکو مکلف کول دي – غالبا د کورنۍ غړي او په پراخه کچه په ټولنه کې د ټولنې مشران – چې د خپلو ځانونو د نیونې له ویرې د برحاله امنیتي مسؤولینو په استازیتوب افراد تعقیب کړي او وڅاري. په ګڼ شمېر قضیو کې، یوناما پر دې نه ده خبره چې څو تضمین کوونکو د برحاله استخباراتو د لوي ریاست په بند کې د یوه شخص د خوشې کولو لپاره تضمینونه لاسلیک کړي، چې په قانوني ډول د مقید شویو تضمین کوونکو شبکه رامنځ ته کوي. په ځینو مواردو کې، تضمین کوونکو له توقیف ځخه د افرادو د خوشې کولو په پار د خپلو کورونو یا کاروبارونو حقوقي اسناد وړاندې کړي. یوناما پر دې خبره ده چې یو شمېر تضمین کوونکې په بدل کې هغه مهال نیول شوي کله چې د راپورونو له مخې افرادو له توقیف ځخه د خپل خوشې کیدو شرطونه نقض کړي.

یوناما پر برحاله چارواکو غږ کوي چې د برحاله پولیسو یا د برحاله استخباراتو د لوي ریاست په بند کې د افرادو د خوشې کولو لپاره د تضمینونو خپله نا قانونه او سیستماتیکه کارونه پای ته ورسوي.

---

[142] همدارنګه د *برحاله* چاراواکو د عدلي محکمو حقوقي اصولنامې ۸۱ ماده وګورئ.
[143] د څارنوالانو یا محکمې له خوا د احتیاطي تدبیرونو او پر تګ راتګ د ممکنه محدودیتونو په اړه د جزایي اجراآتو قانون (۲۰۱۴) ۱۱۰ ماده وګورئ.



# شکایتونه، د څارنې میکانیزمونه، تحقیقات او حساب ورکونه

د بشري حقونو نړیوال اسناد له ازادۍ څخه د محروم شویو ټولو کسانو حق رانغاړي چې له دوي سره چلند په ځانګړي ډول د ادعا شوې شکنجې، ناوړه چلند یا د نا انساني وضعیتونو د قضیو په اړه شکایت وکړي.[۱۴۴] د شکایت درج کولو حق د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو شکلونو د کړنو په وړاندې یو اساسي تضمین دی، او د قربانیانو د خسارې د جبران د حقونو په ډاډمنولو کې لومړی ګام ګڼل کېږي. سربېره پر دې، د شکایتونو مؤثره مستندونه د مسؤولینو لپاره د شکنجې د باوري تورونو د څېړنو او مرتکبینو د مجازاتو، د سرغړونو د نمونو د تحلیل لپاره زمینه برابروي، د جنايي عدالت پر سیستم باور زیاتوي، او چېرې چې یې اړتیا وي حقوقي او سازماني اصلاحات معرفي کوي.

د منډیلا قواعد په دې اساس د دوارو، کورنیو او باندنیو میکانیزمونو له خوا د توقیف ځایونو د پلټنو په اړه صراحت لري.[۱۴۵] له خپلې آزادۍ څخه محروم شوي ټول کسان هغو ته د شکایت کولو حق لري چې د خپلو لیدنو پرمهال محبسونه پلټي او د دې فرصت لري چې د محبس د کارمندانو یا د مدیریت هغو له حضور پرته له پلټونکو سره خبرې ترسره کړي.[۱۴۶] همدارنګه له ازادۍ څخه محروم شوي کسان ښايي مناسبو چینلونو له لارې د محبس رئیس، د زندانونو د مدیریت مرکزي ادارې، محکمو یا نورو ادارو ته "د ماهیت له سانسور پرته" شکایت وکړي.[۱۴۷]

## خپلواک بهرني میکانیزمونه

د نړیوال قانون له مخې، له خپلې آزادۍ څخه د محروم شویو کسانو ته د څارونکو په څېر د خپلواکو او بې پري سازمانونو لاس رسي خورا مهم دی.

### نړیوال میکانیزمونه

خپلواک سازمانونه لکه ملګري ملتونه او د سره صلیب نړیواله کمیټه باید وکولای شي په منظم او تکراري ډول له ټولو هغو توقیف ځایونو څخه لېدنه وکړي، چېرې چې اشخاص له خپلې ازادۍ څخه محروم شوي،

[۱۴۴] د شکنجې په وړاندې کنوانسیون، ۱۲، ۱۳ او ۱۶ مادې؛ د شکنجې په وړاندې کمیټه، نهايي ملاحظات: د پولنډ راپورونه، د ۲۰۱۳ د نومبر ۸مه، CAT/C/POL/CO/5-6، ۱۱ پاراګراف. همدارنګه د منډیلا قواعد، ۵۶ قاعده وګورئ: له شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني له سپکاوي ډک چلند یا سزا سره له مخ کېدو څخه د ټولو کسانو د ساتنې په اړه اعلامیه، ۹ ډسمبر ۱۹۷۵، د عمومي آسامبلې ۳۴۵۲ () پریکړه لیک، ۸ ماده؛ د توقیف لاندې اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، ۳۳ اصل (چې د ادارې لپاره مسؤل چارواکو او لوړ پوړو چارواکو ته د شکایت وړاندې کولو، او د اړتیا په صورت کې هغو چارواکو ته وړاندې شي چې د بیاکتنې / اصلاح صلاحیت لري، د حق یادونه کوي.)؛ د هغو ځوانانو د ساتنې لپاره چې له ازادۍ څخه محروم شوي د ملګرو ملتونو قواعد، ۷۵ او ۷۶مه قواعد. دا هم وګورئ: د بشري حقونو کمیټه، ۲۰ شمېره عمومي تبصره: د ۱۹۹۲ د مارچ ۱۰مه، ۱۴ پاراګراف، د شکنجې په وړاندې کمیټه، ۳ شمېره عمومي تبصره، CAT/C/GC/3، ۲۸-۲۳ پاراګرافونه.

[۱۴۵] د منډیلا قواعد، ۸۵-۸۳ قواعد.

[۱۴۶] د منډیلا قواعد، قاعده ۵۶ (۲)، او ۸۴ (۱) (ج).

[۱۴۷] د منډیلا قواعد، قاعده ۵۶(۳)؛ د هغو ځوانانو د ساتنې لپاره چې له ازادۍ څخه محروم شوي د ملګرو ملتونو قواعد، ۷۳، ۷۶-۷۵ قواعد.

چې له افرادو سره وګوري او له توقیفیانو سره په آزاد او محرم ډول او پرته له کوم شاهد څخه خبرې وکړي. په بهرنۍ پلټنه کې همدارنګه لیدنې شاملې دي چې د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کنوانسیون، له کوم سره چې افغانستان د ۲۰۱۸ کال د اپریل پر ۱۷ نېټه الحاق شوی، د اختیاري پروتوکول له مخې د شکنجې د منع لپاره دملګرو ملتونو د فرعي کمېټې له خوا ترسره شوي.[۱۴۸]

په داسې حال کې چې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست یوناما ته د بشري حقونو د سرغړونو په اړه د مثبت تعامل جواب ورکړی (لاندې پې وګورئ)، تر اوسه یوازې یوې ادارې، د زندانونو د چارو د سمون ادارې، یوناما ته تر خپل کنټرول لاندې توقیف ځایونو ته لاس رسی برابر کړی چې په محرمانه ډول له بندیانو سره مباحثه وکړي.
په کابل کې له *برحاله* کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو له لوي ریاست سره د څارنې په برخه کې د همکارۍ او توقیف ځایونو او توقیفیانو ته د لاسرسي په اړه د یوناما خبرې اترې دوام لري.

## ملي میکانیزمونه

د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون اختیاري پروتوکول همدارنګه د هغو لیدنو په اړه صراحت لري چې د یوه هیواد د مخه نیوونکو ملي میکانیزمونو له خوا ترسره شوې وي. په داخلي کچه، د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ نېټې مخکې، پخوا ګڼ شمېر داخلي ادارو ته د توقیف ځایونو د نظارت او د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه د شکایتونو د ترلاسه کولو دنده سپارل شوې وه. په دغو ادارو کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د لوي څارنوال د دفتر د شکنجې ضد کمېټه او د شکنجې ضد کمیسیون (چې د ۲۰۱۸ کال د شکنجې د منع قانون له مخې تاسیس شوی) شامل دي.

د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د چارواکو په بدلون سره، *برحاله* چارواکو د ۲۰۲۲ کال په مۍ کې د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون لغوه کړ. له دې سره سره، اوس مهال ګڼ شمېر *برحاله* ادارې د توقیفیونو د نظارت چارې پرمخ وړي. د یادونې وړه ده چې *برحاله* د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوي ریاست لپاره د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې تغیر ترکړل شوی ماموریت کې د توقیف ځایونو نظارت، له توقیفیانو سره تعامل او د هغوي د شکایتونو اوریدل شامل دي، او همدارنګه په دې اړه صراحت لري چې نوموړې ریاست کولی شي د شکایتونو په اړه پرېکړې وکړي او له مسؤولینو سره د هغو توقیفیانو د خوشې کولو په پار اړیکه ونیسي، که چېرې معلومه شي چې هغوي له فرمانونو او حکمونو څخه په سرغړونې سره ساتل شوي دي.[۱۴۹] یاد ریاست ته همدارنګه صلاحیت ورکړل شوي چې د شکنجې یا ناوړه چلند مخه ونیسي، او د رامنځ ته کېدو په صورت کې شکایتونه وڅېړي، د مرتکبینو د مسؤولیت په اړه حکمونه صادر او دغه راز نورو مستنطقینو ته دوسیې وسپاري.[۱۵۰] یوناما ځینې راپورونه ترلاسه کړي چې د ریاست کارمندان له ځینو محبسونو څخه لیدنې ترسره کوي، سره له دې چې یوناما یې د لیدنو د پایلو په اړه خبر نه لري.

د دې برسېره، په ۲۰۲۲ کال کې (نېټه نه ده معلومه) یوه دایمي کمېټه د طالبانو د مشر په امر جوړه شوې چې د *برحاله* سترې محکمې له استازو او نورو *برحاله* چارواکو څخه تشکیل ده او د راپورونو له مخې دنده ورکړل شوې چې د هیواد په سطح له توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړي، له توقیفیانو سره د شکایتونو په اړه خبرې وکړي او د توقیف ځای وضعیت و ارزوي.

---

۱۴۸ د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون اختیاري پروتوکول، د ملګرو ملتونو د عمومي آسامبلې له خوا د ۲۰۰۲ کال د ډسمبر پر ۱۸ نېټه تصویب شو، A/RES/57/199.
۱۴۹ ۳۲ شمېره فرمان، د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوی ریاست د دندو او واکونو فرمان، د ۲۰۲۳ د مارچ ۸، ۸ ماده.
۱۵۰ فرمان شمیره ۳۲، د فرمانونو او حکمونو د څارنې او تعقیب لوی ریاست د دندو او واکونو فرمان، د ۲۰۲۳ د مارچ ۸، ۷ ماده.

او په پای کې، د یوه فرمان یا د رسمي لارښوونې په نه شتون کې چې د دوی دندې په ډاګه کړي، *برحاله* د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د شکایتونو د اوریدلو وزارت خپله کاري ساحه داسې معرفي کوي چې د طالبانو د مشر د ټولو حکمونو د تطبیق څارنه رانغاړي،[151] او د *برحاله* چارواکو د هر پرسونل په وړاندې شکایتونه ترلاسه کوي.

*برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر او د شکایتونو د اوریدلو وزارت په کابل کې تایید کړې چې زیاتره په هغو مختلطو کمېټو کې ګډون کوي چې پلټنې ترسره کوي. د ولایتونو په سطح د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاستونو یوناما ته تصدیق کړې چې د *برحاله* پولیسو، استخباراتو د لوي ریاست له زندانونو څخه لیدنه کوي، که څه هم دا په تول هیواد کې یو شان نه دي او د دوی د نظارت موخه روښانه نه ده. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په وینا، د دوی د څارنې تمرکز د هغه فرمانونو پلي کول دی چې شرعي اړخونو ولري، او په دې توګه راپورونه ښيي چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت څارنه په توقیف ځایونو کې، په هغو موضوعاتو تمرکز کوی لکه د دیني زده کړو کیفیت په داسې دید سره چې څنګه راتلونکې کې توقیفیان بیاځلې ټولنې سره یو ځای شي، او د نارینه وو د ږیرو اوږدوالی. په ځینو ولایتونو کې، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د شکایتونو د اوریدلو وزارت د خپل ځان له خوا د ټاکل شوي ماموریت له مخې چې "د خلکو شکایتونه واوري" د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست خبر ورکړی چې یوازې هغه مهال د توقیف ځایونو څخه لیدنې ترسره کوي چېرې چې د توقیفیانو یا بندیانو د چلند یا د توقیف د وضعیت په اړه شکایتونه ترلاسه کړي. تر دې مهاله یوناما معلومات نه لري چې د *برحاله* کورنیو چارو وزارت یا *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست تر واک لاندې توقیف ځای کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت نظارت تر کوم پایله څه ده، او تر هغې لړ په دې اړه چې آیا په څارنه کې د *برحاله* امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د شکایتونو د اوریدلو وزارت له خوا د خپلسرو توقیفونو هغه موارد شامل دي کوم چې یوناما مستند کړي.

## داخلي میکانیزمونه

*برحاله* د کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د بشري حقونو ریاستونه جوړ کړي کومو ته چې دنده سپارل شوې چې د توقیف ځایونو نظارت وکړي، له دغو مرکزونو نا اعلان شوې لیدنې ترسره کړي څو له توقیفیانو سره تعامل وکړي او د شکنجې یا ناوړه چلند تورونه تعقیب کړي.

په کابل کې، یوناما د بشري حقونو د هغو سرغړونو په تړاو په کومو کې چې خپلسرې نیونې او توقیفونه، په توقیف کې شکنجه او مړینې شامل دي، او دغه او د توقیف د څارنې د هغو موضوعاتو په اړه کومې چې دغه اداري د خپل کار پرمهال ملاحظه کړي، *برحاله* د کورنیو چارو له وزارت، د استخباراتو له لوي ریاست او د زندانونو د چارو د سمون له اداري یا د دوی له رابط شخص سره تعامل کوي. یوناما همدارنګه په ټولو ولایتونو کې د پولیسو او استخباراتو د نظارت خونو له *برحاله* رئیسانو او د زندانونو له *برحاله* رئیسانو سره د هغو موضوعاتو په اړه تعامل کوي چې په توقیف ځایونو کې راولاړیږي. *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست دغه راز په ولایتونو کې د بشري حقونو لپاره د زون په کچه استازي ټاکلي، چې هر استازی څلور ولایتونه تر پوښښ لاندې نیسي او په کابل کې *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست د بشري حقونو ریاست ته مستقیم راپور ورکوي. یوناما د زون په کچه له دغو *برحاله* استازو سره د نظارت اړوند موضوعاتو په اړه تعامل ترسره کوي.

له دې سره سره، دا واضح نده چې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت او *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست د بشري حقونو ریاستونه له خپلواکۍ څخه برخمن دي، سره د دی چې د *برحاله* استخباراتو لوی ریاست اړوند د بشر د

---

[151] د امر بالمعروف و نهی عن المنکر وزارت کورپاڼه، دغه ویبپاڼه د ۲۰۲۳ د اپریل پر ۲۳مه کتل شوې: ماموریت و دیدگاه AfGOV (mopvpe.gov.af) |

حقونو ریاستونه *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست عمومي رئیس ته د راپور ورکولو مستقیمه کرښه لري، د *برحاله* کورنیو چارو وزارت اړوند د بشر د حقونو ریاست د *برحاله* کورنیو چارو وزیر سره مستقیمه کرښه نلري.

پر دې سربېره، تر دې دمه په توقیف ځایونو کې له توقیفیانو سره د دوی د پرسونل د تعامل اغیز محدود بریښي. یوناما *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست د بشري حقونو افسران له خوا له خپلو اړوندو توقیف ځایونو څخه د لیدنو په اړه د مرکه ورکوونکو د یو شمېر بیانونو هر کلی کوي،[152] لومړني راپورونه په ډاګه کوي چې *برحاله* د بشري حقونو افسران د خپلو چارو د ترسره کولو په پار روزنې ته اړتیا لري څو په خپل کار کې محرمیت ډاډمن کړي او له توقیف شویو کسانو سره باور رامنځته کړي. د حیرانتیا ځای نه دی چې مرکه ورکوونکې زړه نا زړه وو او له دغو افسرانو سره یې په آزاد ډول خبرې نه دي ترسره کړې، چېرې چې په وروستي مورد کې د نظارت خونې د *برحاله* رئیس په حضور کې د چلند په اړه پوښتنې شوي. په بل مورد کې یو مرکه ورکوونکی، چا چې *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست د بشري حقونو افسر ته د ناوړه چلند په اړه خبر ورکړی و، د شکایت کولو له امله د دغه مرکز د چارواکو له خوا نور هم وهل شوي و. په دریېم مورد کې، یوه توقیفي ته چې مختلفو *برحاله* چارواکو ته یې د استخباراتو د لوي ریاست په تېر توقیف کې له ناوړه چلند سره د مخ کیدو تایید کړی و، ویل شوي چې دغه ډول شیانو په اړه بیا خبرې و نه کړي.

د ۲۰۲۲ کال په لومړیو کې، *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداري په کابل کې د نظارت یوه داخلي کمېټه تاسیس کړې، چې له څو پرسونلو تشکیل ده. دغه کمېټه زیاتره د زندانونو د چارو د سمون اداري د *برحاله* رئیس له خوا رهبري شوې، تر دې مهاله یې په ټول افغانستان کې د خپلو ۳۴ محبسونو څخه له زیاترو هغو لیدنه کړې، د راپورونو له مخې چې له دواړو د محبسونو له رئیسانو او مدیریت، او په جلا ډول له توقیفیانو سره په توقیف کې د چلند او وضعیت په اړه خبرې اترې ترسره کړې. *برحاله* د زندانونو چارو د تنظیم اداري تر ډېره په خپل هر ولایتي محبس/زندان کې د بشري حقونو یو آفسر ساتلی. یوناما له دې نه ده خبره چې توقیفیانو د نظارت له کمېټې یا *برحاله* د محبس د بشري حقونو له آفسرانو سره د ناوړه چلند شکایتونه مطرح کړي یا نه، سره له دې چې یو شمېر مرکه ورکوونکو د محبس له *برحاله* مدیریت سره د توقیف د وضعیت په تړاو د شکایتونو په اړه تعامل تایید کړي، چې بیا وروسته ورته رسیدګي شوې.

یوناما همدارنګه د مرکه ورکوونکو له خوا د دوه جلا جلا بیانونو یادونه کوي چا چې په ډاګه کړې چې د توقیف ځای *برحاله* مشر د هغوي د ساتنې لپاره تدابیر ترسره کړي، په یوه قضیه کې د ساتنې په پار یوه بل ځای ته د شخص د لیږلو له لارې د لا زیات ناوړه چلند په مخنیوي سره، او په یوه بل مورد کې مخکې له دې چې کوم ضرر واړوي بل ځای ته د *برحاله* ساتونکو د لیږدولو له لارې.[153] یوناما د توقیفي د شکایتونو په مدیریت کې د *برحاله* رئیسانو د پرانستې او تعامل د دغې کچې هرکلی کوي او په کلکه یې هڅوي.

## تحقیقات او حساب ورکونه

چېرې چې یو فرد د شکنجې په اړه شکایت کوي یا د شکنجې ادعاوې مطرح کوي، د شکنجې د منع کنوانسیون تصریح کوي چې غړې دولتونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې که چېرې د دوی په قضایي قلمرو کې د شکنجې کومه پېښه رامنځ ته شي او د اثبات لپاره یې مؤثق دلایل شتون ولري، د دوی مسؤول چارواکي ورته له ځنډ پرته په

[152] د ۲۰۲۲ د دسمبر د ۱ نېټې مرکه ("د استخباراتو لوي ریاست څخه ځینې څارونکي راغلل او د سلوک په اړه یې وپوښتل. ما له دوي سره د خبرو کولو فرصت ونه موند")؛ د ۲۰۲۲ د دسمبر د ۱۸ نېټې مرکه ("هو، د استخباراتو لوي ریاست د بشري حقونو افسر په اونۍ کې یو ځل له توقیفیانو سره لیدنه کوله ترڅو د استخباراتو لوي ریاست په توقیف ځای کې د بندیانو وضعیت وڅېړي.")؛ د ۲۰۲۳ کال د فبروري د ۶ نېټې مرکه ("د استخباراتو لوي ریاست د بشري حقونو استازي هره ورځ ما ته راتلل او پوښتنه یې کوله چې له ما سره څنګه چلند کیږي").

[153] د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۲۲ مرکه (د توقیف ځای *برحاله* رئیس دوه ساتونکي چې د کورنۍ د اړیکو له امله یې توقیفي ته خطر پیښاوه، بل ځای وګمارل)؛ د ۲۰۲۳ کال د جنوري د ۹ نېټې مرکه (د استخباراتو د عمومي رئیس په مشرۍ یوه مختلط هیئت ملاحظه کړه چې یو مرکه ورکوونکی وهل شوی؛ د استخباراتو عمومي رئیس مسؤول کسان تنبیه کړل او امر یې وکړ چې شخص دې د توقیف په پار یوه بل ځای یوړل شي). معلومه نه ده چې آیا د وروستۍ قضیې په اړه نور تادیبي اقدامات ترسره شوي او که څنګه.

بې پرېتوب سره رسیدنه کوي (۱۲ ماده). غړي دولتونه باید ډاډ ترلاسه کړي چې شکایت کوونکی او شاهدان د هر ډول ناوړه چلند او ویرې پر وړاندې خوندي دي (۱۳ ماده).

د شکنجې د جرمونو د څېړلو او تعقیبولو دنده له غړو دولتونو څخه د چټک اقدام غوښتنه کوي آن په سختو امنیتي حالاتو کې. غړي دولتونه باید پر تحقیقاتو د تطبیق وړ حد اقل معیارونه مراعت کړي، په مشخص ډول دا چې تحقیقات باید خپلواک، بې پرې او دولتي دقیقې کتنې تابع وي، دا چې صلاحیت لرونکي چارواکي په دقت او په مناسب ډول اقدام کوي او قربانیان په کې ښکیل دي.[154] د شکنجې د تورونو تحقیقات او مستند کول باید استانبول له پروتوکول سره سم، د هغو کسانو چې د شکنجې او ناوړه چلند ادعا کوي د ارزونې، د ادعا شوې شکنجې د قضیو د څېړلو لپاره او قضائیه قوې یا بلې تحقیقاتي ادارې ته د موندنو د راپور ورکولو په اړه له نړیوالو لارښوونو سره په تطابق کې وي.[155]

هر غړی دولت باید خپل حقوقي سیستم له لارې ډاډ تر لاسه کړي چې د شکنجې قرباني د عادلانه او مناسب د خسارې جبران اخیستلو حق لري. د جبران اخیستلو کې د امکان تر حده د قرباني د لومړي حالت اعاده کول هم شامل دي، که چېرې کوم شخص د شکنجې له کبله مړ شي، د زیان جبران د هغه په خپلوانو پورې اړه پیدا کوي (د شکنجې په وړاندې کنوانسیون ۱۴ ماده).

څرنګه چې *__شکنجې اړوند د تطبیق وړ چوکاټ__* برخه کې په ډاګه شوه، افغان قوانین د شکنجې اعمال جرم ګڼي. د عسکري محکمو د جزایي اجراآتو قانون داسې تصریح کوي، که چېرې (پخواني) د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پرسونل، د افغان ملي پولیسو او ملي امنیت ریاست په ګډون، د جرم په ترسره کولو تورن وي، د جزايي اجراآتو د قانون پر ځای د عسکري محکمو د جزایي اجراآتو قانون پلی کېږي (د عسکري محکمو د جزايي اجراآتو قانون ۳ ماده). د نوموړي قانون له مخې، هغه قوماندانان چې د خپل امر لاندې منسوبینو د عسکري جرمونو له ارتکاب څخه خبرېږي د ارتکاب شویو جرمونو د حقایقو او حالاتو په هکله د ابتدایي تحقیقاتو په ترسره کلو مکلف دي. که چېرې مؤجه دلیلونه د زیاتو تحقیقاتو د ترسره کولو لپاره پیدا شي، قوماندان د دې قانون د دریيم فصل د حکمونو مطابق قضیه د تحقیق لپاره اړوندې څارنوالۍ ته راجع کوي (۱۸ (۳) ماده). د جزايي اجراآتو قانون یوه څارنوال ته د دې اجازه ورکوي که چېرې هغه د تحقیق په بهیر کې تشخیص کړي چې پولیس او د ملي امنیت مؤظف په قضیې پورې په اړوند اجراآتو کې د قانوني سرغړونو مرتکب ګرځیدلي دي، موضوع له احوالو سره سم، د قانوني تصمیم د نیولو لپاره د اړوندې ادارې واکمن مقام ته محولوي (۹۱ ماده) *برحاله* محکمو ته د تحقیقاتي چارو په لیږد او د څارنوالانو د نقش په لړې کولو سره، نور دغه ډول ارجاع ګانې ممکن نه دي.

افغان قوانین همدارنګه د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران حق د اساسي قانون په ۵۱ ماده کې او د شکنجې د منع قانون د شکنجې د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران په اړه په یوه فصل کې چې صراحت کوي چې د خسارې د جبران لپاره د قربانۍ دعوه د جنایي اجراآتو په پایلې پورې نه ده تړلې، رانغاړي.

د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو په اړه د حساب ورکولو او سمدستي او بې طرفه تحقیقاتو په اړه، د بندیانو د نظام د اصلاح په اړه د طالبانو د مشر طرز العمل داسې صراحت کوي چې له بندیانو سره د ناوړه سلوک له امله مسؤل او کارمند د سزا او حتی له دندې څخه ګوښه کېدو وړ ګڼل کېږي(۳۴ ماده). په ورته ډول د کشف الحال لپاره د متهمینو د بندي کولو د صلاحیت او بند د مودې په اړه د ۲۰۲۳ کال د مارچ فرمان یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې " په بند کې شکنجه ممنوع او "ظالمانه" عمل دی او د ظلم مخنیوی مکلفیت دی. سربیره پر دې، د طالبانو د مشر د ۲۰۲۲ کال د نومبر میاشتې د امنیتي او تصفیوي کمیسیون د جوړیدو، دندو

[154] د شکنجې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، ډاکټر الیس ایډوردز، ۱۶ فیبروري ۲۰۲۳، A/HRC/52/30، ۶۱ پاراګراف.
[155] د استانبول پروتوکول، د شکنجې او نورو نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د مؤثرو تحقیقاتو او مستند کولو لاسي کتاب، ۲۹ جون ۲۰۲۲، په راتلونکي انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://www.ohchr.org/en/publications/Istanbul Protocol - Effective Investigation & Documentation of Torture & Ill-treatment.

او واکونو فرمان، حکم کوي چې د امارت هغه وسله وال چارواکي چې خلک ګواښي او شکنجه کوي او يا دې ته ورته نورې کړنې تر سره کوي، له ليکو ګوښه او پوځي محکمې ته ورپېژندل کيږي.[156] يوناما د *برحاله* چاروکو له خوا د هغو قربانيانو لپاره د خسارې د جبران حق د منلو په اړه خبر نه لري چې د امنيتي مسؤولينو له خوا شکنجه شوي.

د راپور د مخې، *برحاله* د کورنيو چارو د وزارت او د استخباراتو د لوي رياست د بشري حقونو د رياستونو د ماموريت پربنسټ، نومړي رياستونه بايد د *برحاله* امنيتي مسؤولينو پر وړاندې د شکنجې يا ناوړه چلند ادعاګانې اړوند مشرتابه ته راپور کړي. *برحاله* د استخباراتو لوی رياست د بشري حقونو رياست راپور د مخې هغوي بشپړ تحقيقاتي واک لري، او په هغه قضيو کې چې تورونه رامينځته شوي، د *برحاله* استخباراتو لوی رياست مشرتابه له لارښوونو سره سم له مرتکبينو سره قانوني چلند کيږي او مجازات کيږي. په مقابل کې، د *برحاله* کورنيو چارو وزارت د بشري حقونو رياست د راپور د مخې ادعا شوي تورونه د تعقيب لپاره د *برحاله* کورنيو چارو وزارت تحقيقاتي څانګو ته راجع کيږي. په داسې حال کې چې *برحاله* چارواکي کله نا کله د مشخصو قضيو د تحقيقاتو پيليدل اعلانوي،[157] يوناما له داسې کوم مورد څخه نه ده خبره چېرې چې د پوليسو يا استخباراتو لوی رياست د نظارت خونو *برحاله* رئيسانو، يا *برحاله* نورو صلاحيت لرونکو چارواکو د هغو سرغړونو د احتساب په موخه د تحقيقاتو امر کړی وي چې د *برحاله* هرې امنيتي ادارې د پرسونل له خوا ترسره شوي، او تر هغې لږ په دې اړه چې دغه ډول تحقيقات دې له دندې پر ګوښه کېدو يا د *برحاله* نظامي محکمې په مخ کې پر عدلي تعقيب، په قضاوت کوم چې د *برحاله* امنيتي مسؤولينو په ضد د شکايتونو په اړه قضاوت کوي، تمام شوي وي.[158]

په داسې حال کې چې د زندانونو د چارو د سمون اداره د راپورونو له مخې *برحاله* د کورنيو چارو وزارت او د طالبانو د مشرتابه دفتر ته د تحقيق او تعقيب په پار هغه قضيې راجع کوي چېرې چې افراد محبسونو ته د داخلولو پرمهال د پخوانيو مختلفو توقيف کوونکو ادارو له خوا د ناوړه چلند نښې نښانې ښکاره کوي، يوناما د هغو قضيو د شمېر په اړه معلومات نه لري چې نومړي *برحاله* وزارت ته سپارل شوي نه هم د مرتکبينو او قربانيانو لپاره د دغو راپورونو د پايلو په اړه.

د زندانونو د چارو د سمون *برحاله* اداره له يوناما سره په منظم ډول په ولايتي محبسونو کې د مړينو، شکنجې يا ناوړه چلند د رامنځ ته کېدونکو تورونو د تحقيقاتو په اړه عمومي معلومات تبادله کوي، لکه د محبسونو د ساتونکو په ګډون د محبسونو د *برحاله* مسؤولينو د تحقيقاتو، توقيف او ګوښه کېدو لپاره ترسره شوي اقدامات.

دا چې *برحاله* اداره د دې وړتيا ولري چې د مسؤليت په اړه قضاوت وکړي او مرتکبينو ته سزا ورکړي، د *برحاله* امنيتي چارواکو په وړاندې شکايتونه، د شکنجې يا بد چلند په ګډون، د *برحاله* پوځي محکمو په واک کې راځي، چې ۲۰۲۱ په نومبر کې تاسيس او په رسمي توګه ۲۰۲۲ د مې په مياشت کې د سترې محکمې په تشکيل کې مدغم شوې.[159] فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقيب *برحاله* لوي رياست ۲۰۲۳ کال د مارچ کې واک

[156] د طالبانو د مشر د امنيتي او تصفيوي کميسيون د جوړيدو، دندو او واکونو په هکله (۱۲) ګڼه فرمان، د ۲۰۲۲ کال د نومبر د مياشتې ۲۲ مه نيټه، ۹مه ماده. د امنيتي او تصفيوي کميسيون د جوړيدو، دندو او واکونو په اړه د ۲۰۲۲ کال د نومبر د مياشتې ۲۲ مه نيټه (۱۲) ګڼه فرمان په لومړی ماده کې د تعديل او ايزاد په هکله فرمان، د ۲۰۲۳ کال د می مياشتی د ۱۸می نيټي فرمان چې د کميسون ترکيب کې يې تعديل راوستی ته مراجعه وکړی.

[157] د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۱ کال په ډسمبر کې *برحاله* کورنيو چارو وزارت وياند رسنيو ته وويل چې د يوې ويډيو په اړه پلټنې پيل شوې چې *برحاله* امنيتي ځواکونو غړی په کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو يو پخوانی غړی شکنجه کوي او عاملين به يې ونيول شي. د شيعه خبرونو ټولنه، "په کابل کې د طالبانو لخوا د يوه پخواني سرتيري شکنجه" (دري)، ۲۷ دسمبر ۲۰۲۱. په راتلونکې انټرنيټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://af.shafaqna.com/FA/494521

[158] د تعزيري سزا د راپور په اړه د يوناما راپور ته د *برحاله* بهرنيو چارو د وزارت ځواب په ډاګه کوي چې د *برحاله* امنيتي ادارو په توقيف کې د شکنجې يا ناوړه چلند ۹۳ سرغړونې ثبت او څېړل شوې، چې د ځينو مرتکبين د خپلو جرمنو سره سم له خپلو دندو ګوښه شوي او مجازات شوي. د مسؤولې ادارې له خوا د دغو سرغړونو ويش نه دی وړاندې شوی. تعزيري سزا او د مرګ جزاء، مې ۲۰۲۳: ضميمه – د بهرنيو چارو د *برحاله* وزارت ځواب، د يوناما راپور وګورئ. په راتلونکې انټرنيټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/file/21157/df MFA Response

[159] د طالبانو د مشر، د نظامي محکمو د چارو د حدودو د ټاکلو په هکله (۱۹) ګڼه فرمان، د ۲۰۲۱ کال د نوامبر ۲۸ مه، فرمان صراحت لري چې په برحاله

ترلاسه کړ چې د *برحاله* امنيتي چارواکو په وړاندی د شکنجې يا بد چلند شکايتونه وڅېړي او همدارنګه د مرتکبينو د مسؤليت په اړه "ذيصلاح ادارو" ته حکمونه وسپاري. په عمومي توګه د طالبانو مشر [فرمان] په پام کې نيولو سره دا به وليدل شي چې *برحاله* نظامي محکمې او د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقيب لوي رياست به څنګه خپل اړونده واکونه مشخص کړي.

له دې سره سره يوناما په لوړه کچه له ټولو *برحاله* چارواکو غوښتنه کوي چې د شکنجې او ناوړه چلند د ټولو شکايتونو چټک تحقيق يقيني کړي او هغو ته چې شکايت وړاندې کوي، ځواب ورکړي، او د دوی د اړوندو پلټنو د پايلو او د مرتکبينو د حساب ورکونې د يقيني کولو او نورو اقداماتو په اړه د هر يو *برحاله* اړوند چارواکي سره د لا ښکيلتيا هرکلی کوي.

پوځي محکمه د *برحاله* کورنيو چارو وزارت، *برحاله* د دفاع وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوی رياست چارواکو په وړاندې د شکايتونو او دوسيو د اوريدلو او څېړلو واک لري. دا محکمه د ۲۰۲۲ په مې کې د *برحاله* سترې محکمې د قضايي جوړښت برخه شوه. د سترې محکمې په تشکيل کې د نظامي محکمو د شامل والي په هکله حکم وګورئ، ۲۸ مې ۲۰۲۲؛ د ملی دفاع وزارت د عسکری (نظامي) محکمو د انحلال په هکله حکم، د ۲۰۲۲ کال د دسمبر ۱۰.



# کلیدي موندنې او ملاحظات

د بشري حقونو د نړیوال قانون چوکاټ، د افغانستان قوانین، د طالبانو د مشر او یا د نورو *برحاله* وزارتونو له خوا د فرمانونو او لارښوونو د ټولګې په نظر کې نیولو سره، د زور د کارولو، له بندیانو سره د چلند، د شکنجې او ناوړه چلند منع او یا د مدافع وکیلانو ته د لاسرسي حق په اړه، **اوسني برحاله چارواکي د هغو مکلفیتونو په پلې کولو کې پاتې راغلي چې افغانستان د یوه دولت په توګه** د افغانانو د حقونو د تامین په برخه کې، هغوی چې له ازادۍ څخه بې برخې دي، **لري**.

دغه راپور د خپلو دندو په ترسره کولو کې **د برحاله امنیتي او محابسو مسؤولینو د مسلکیتوب بیړنۍ اړتیا په ډاګه کوي،** که هغه له عامو خلکو سره د هغوی په تعامل کې وي، که له هغو نورمونو سره په سمون کې چې د قوي کارونه تنظیموي، که د نیونو په ترسره کولو کې وي یا پرته له دې چې شکنجې یا ناوړه چلند ته مخ کړي د تحقیقاتو په ترسره کولو کې.

د شکنجې په اړه د رامنځ ته شویو نړیوالو نورمونو او ممنوعیتونو، چې افغانستان یې غړي هیواد دی، موجوده افغان قوانینو، او د طالبانو د مشر له لارښوونو سره په مغایرت کې **د برحاله مسؤولینو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند کارونه سیستماتیکه** او د دغه چلند د قطعي ممنوعیت د نافذولو لپاره د افغانستان له مکلفیت څخه سرغړونه ګڼل کیږي. د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړل او له آزادۍ څخه له محروم شویو کسانو سره د چلند ښه کول به پر جزائي عدلي سیستم او په ټوله کې په افغانستان کې د قانون پر واکمنۍ باور زیات کړي.

دا خورا مهمه ده چې *برحاله* د کورنیو چارو وزیر او د استخباراتو د لوي ریاست *برحاله* لوی رئیس **دا ډاډمن کړي چې د دوی په بند کې د بندي کسانو د ژوند ساتنې** او د دوی مسؤولینو له خوا په توقیف کې د شکنجې، ناوړه چلند او مړینو ادعاوو ته د ځواب ویلو خپل مکلفیتونه رعایتوي. دوی باید د مرکه کولو او تحقیقاتو اړوند **شکنجې او ناوړه چلند په ګډون په توقیف ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند معمول کارونې ته رسیدګي وکړي.** جنایي تحقیقات او مرکې باید په یوه داسې ډول ترسره شي چې له بشري حقونو سره په تطابق کې وي، د شکنجې د ممنوعیت بنسټیز اصل رعایتوي، او د هر شخص د کرامت او جسمي او رواني سلامتیا حق د تمرکز محور کې واقع کوي.

سربېره پر دې، دغه *برحاله* اداري باید زر تر زره **د توقیفیانو د مدافع وکیلانو، خپلو کورنیو، ډاکټرانو او قاضیانو ته د لاس رسي حق چې په خپلواک ډول صلاحیت ورکړل شوی** څو د تحقیقاتو پرمهال د توقیفونو قانونیت و ارزوي، له حقونو څخه سیستماتیکو سرغړونو ته د رسیدګۍ لپاره ګامونه پورته کړي، چې دغو ټولو مواردو په سیستماتیک ډول د حساب ورکولو پرته د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو شکلونو د دوامدار ارتکاب لپار زمینه برابره کړې. دا په ښه توګه ثابته شوې چې هغه توقیفیان چې د اوږدې مودې لپاره د قانون د سیورې څخه بهر ساتل کیږي او مدافغ وکیلانو، کورنیو یا محکمو ته لاسرسي نلري، د ادعا شوو شکنجو د راپور ورکولو یا ثابتولو لپاره لږ چانس لري او د شکنجې یا نورو ناوړه چلندونو او د اجباري اعترافونو د لاسلیک کولو خطر سره مخ دي.

له دې سره یوناما وموندله چې د *برحاله* کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو د لوی ریاست د بند پر مهال د محکمې په وړاندې د توقیف د قانونیت د ننګولو او مدافع وکیل ته د لاسرسی حق څخه سیستماتیکه سرغړونه **د خپلسري او اوږد مهاله توقیف** لامل شوې، چې ډېری وختونه د اتهاماتو له واردلو او قضايي اجراآتو پرته پای ته رسېدلې. هغه مهال کله چې افراد د لا زیاتو تحقیقاتو په تمه زندانونو ته داخل شوي، دا څرګنده نه ده چې تر کوم حده *برحاله* قاضیانو د هر شخص چې په احتمالي ډول په یوه قضیه کې دخیل و د **دوامداره توقیف قانونیت یا اړتیا په خپلواک ډول ارزولې.**

په نږدې ټولو قضیو کې د یوه قاضي په وړاندې د لومړي ځل لپاره راڅرګندیدنه او حضور څو د توقیف قانونیت وارزوي په غوره حالاتو کې تر نیونې څو میاشتې وروسته رامنځ ته کېږي، او یوازې هغه مهال کله چې افراد محبس ته ولېږدول شي.

د ۲۰۲۲ کال په اوږدو کې، په اوسط ډول په زندانونو کې د توقیفیانو شا و خوا یو پر درې برخه د هغوی له لومړۍ نیونې راهیسې په محکمه کې د لومړي ځل لپاره د حاضرولو لپاره په انتظار دي. د زندانونو د چارو د سمون د *برحاله* اداري په دوامدار ملاتړ او مدافعې، *برحاله* سترې محکمې داسې کمېټې جوړې کړې چې د خپلسري او اوږد مهاله توقیف په پای ته رسولو کې مرسته کوي، سره له دې یوناما یادونه کوي چې دغه نوښتونه په چټک ډول یا تر نیونې وروسته د څو ورځو په دننه کې د توقیف د قانونیت د ارزونې التزام نه نفي کوي.

د *برحاله* محاکماتي سیستم سره چې په خپلواک او چټک ډول نشی کولای د هغو نیونو د قانونیت ارزونه یقیني کړي څوک چې د *برحاله* پولیسو یا استخباراتو لوی ریاست په بند کې دي، په دې وروستیو کې د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د *برحاله* لوی ریاست ګمارل شوي ریاست باید ډاډمن کړي چې کولی شي د یوه خپلواک او مؤثر میکانیزم په څېر چارې پر مخ یوسي څو د توقیف شویو کسانو د توقیف قانونیت په سیستماتیک ډول و ارزوي او دغه راز په توقیف ځایونو کې د شکنجې یا ناوړه چلند شکایتونه سمبال کړي. دا خورا مهمه ده چې د تېریو د مرتکبینو تحقیقات د یوې خپلواکې اداري له خوا د وړ پرسونل په لرلو سره ترسره شي او دا چې شکمن مرتکبین او مشر آفسران چې د دغه ډول کړنو د امر کولو یا تحمیل کولو مسؤول دي، په سم ډول د *برحاله* محکمې له خوا محاکمه او محکوم کړل شي.

همدارنګه ملاحظه شوې چې زیات شمېر توقیفیان د *برحاله* کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو د لوي ریاست له بند څخه په زیاترو مواردو کې له اتهاماتو پرته او د اجباري اعترافونو او تضمینونو، یا دواړو په لاسلیک کولو سره خوشې شوي. یوناما په دې باور ده چې **د افرادو د خوشې کولو لپاره د برحاله کورنیو چارو وزارت او برحاله د استخباراتو د لوي ریاست له خوا د تضمینونو شبه-سیستماتیکه کارونه** نه کوم قانوني اساس او نه هم کوم قضايي هدف لري – د دې په پام کې نیولو پرته چې آیا دغه تضمینونه د *برحاله* محکمو له خوا تایید شوي یا نه. دغه عمل **په عمدي ډول اجباري دی** او د دې په پار دی په حقوقي ډول د کورنۍ غړي او په پراخه کچه د ټولنې مشران مکلف کړي چې د خپلو ځانونو د نیونې له ویرې د *برحاله* کورنیو چارو وزارت او د *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست په استازیتوب اړوند افراد وڅاري. له ځینو تضمینونو سره مله نور شرطونه افراد له تګ راتګ، لکه له خپل ښار، ولایت یا هیواد څخه د باندې سفر کولو څخه منع کوي، یوازې خپلسری نده بلکې د فرد د خوځښت آزادي نقضوي. یوناما پر *برحاله* چارواکو غږ کوي چې د *برحاله* پولیسو یا د *برحاله* استخباراتو د لوي ریاست په بند کې د توقیفیانو د خوشې کولو لپاره د تضمینونو خپله نا قانونه او سیستماتیکه کارونه پای ته ورسوي.

د ښځو او ماشومانو په ګډون پر هغو کسانو چې په خپلسري ډول د اوږدو مودو لپاره توقيف شوي د ويجاړونکي اغيز په يادولولو سره، او دا چې د زندانونو د چارو د سمون *برحاله* اداره د منابعو له کمښت سره مخ ده څو د اوږدو مودو لپاره د بندي شويو وګړو بنسټيزې اړتياوې يا شرايط تامين کړي، *برحاله* چارواکي بايد اشخاصو ته په ځانګړي ډول کوچنيو يا هغه چې خشونت آميزه جرمونه يې نه وي کړي، **په توقيف کې د تحقيق او محاکمې په تمه اشخاصو ته د بديلو لاربښوونو طرح کول په پام کې ونيسي.**[١٦٠] د نړيوالو حقوقو له مخې، تر محاکمې مخکې توقيف بايد يوه استثناء او د ممکن لنډ وخت لپاره وي،[١٦١] او يوازې هغه وخت وکارول شي چې سخت اړين وي.

[١٦٠] له توقيف څخه بهر تدابيرو لپاره د ملګرو ملتونو معياري حد اقل قواعد (توکيو قواعد)، ۱۴ ډسمبر ۱۹۹۰، A/RES/45/110، ۶.۱ قاعده: په جنايي اجراآتو کې له محاکمې مخکې توقيف يوازې د وروستۍ چارې په څير کارول کېږي، د ادعا شوي جرم تحقيق او د ټولنې او قرباني ساتنې ته له لازمې پاملرنې سره؛ ۶.۲ قاعده: له محاکمې مخکې توقيف بديلونه به د امکان تر حده په لومړيو مرحلو کې کارول کېږي.
[١٦١] د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، ۹ (۳) ماده تصريح کوي چې: "دا بايد عمومي قاعده نه وي چې هر څوک چې د محاکمې په تمه وي بايد توقيف کړل شي، کيداى شي چې آزاد پاتې شي مشروې په دې چې د محاکمې په وخت کې يا ممکن د محاکمې په کومه بله مرحله کې او يا هم د محکمې د فيصلې د تطبيق لپاره و محاکمې ته حاضر کيدو تضمين شوي وي." همدارنګه له آزادۍ څخه محروم شويو نو ځوانانو د ساتنې لپاره د ملګرو ملتونو قواعد، ۲ ماده وګورئ.



# د افغانستان *برحاله* چارواکو لپاره سپارښتنې

یوناما په توقیف ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند د له منځه وړلو، د مرتکبینو د تحقیقاتو او د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران په موخه په افغانستان کې *برحاله* چارواکي په کلکه د یو لړ جدي هڅو ترسره کولو او د راتلونکو سپارښتنو عملي کولو ته هڅوي. *برحاله* چارواکي باید په دې ډول د جنايي عدالت پروسه کې خنډونو ته د رسیدګۍ لپاره ګامونه پورته کړي هغه چې د اغېزمن قضايي نظارت پرته د خپل سرې توقیفونو د لوړې اندازې له امله رامینځته شوي، کوم چې د *برحاله* محکمو لخوا د تحقیقاتو بشپړېدو پورې د اشخاصو خپلسري او اوږده توقیف ته زمنیه برابروي او د تېرېو احتمالي خطر زیاتوي. په ډېرو قضیو کې هغه اشخاص چې عامه امنیت ته هیڅ خطر نلري او د *برحاله* محکمې تحقیق ته په تمه وي اوږدمهالي توقیف کې ساتل کیږي.

د دغه هدف په پار یوناما له *برحاله* چارواکو په کلکه غواړي چې په بیړني ډول لاندنۍ سپارښتنې په پام کې ونیسي او د هغوی د تطبیق لپاره ګام پورته کړي.

## *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو لوي ریاست او د تطبیق په صورت کې د زندانونو د چارو د سمون اداره

- د ټولو اړوندو ادارو لپاره راتلونکي مواد تایید او په پراخه کچه خپاره کړئ: الف) د طالبانو د مشر اړوند د بندیانو د نظام د سمون طرزالعمل، او ب) د *برحاله* عدلیې وزارت د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلاره چې د نیونې له نیټې څخه د مدافع وکیل ته د لاسرسي حق، او په ټوله کې د تحقیق، استماع او څېړنو پرمهال د مدافع وکیل د حضور حق توضیح کوي؛
- هغه لارښوونې خپرې کړي چې په صریح ډول د هغو لارو چارو کارول منع کوي چې موخه یې د نیونې او توقیف پرمهال حسي حرمان دی، په ځانګړې ډول سر ته د کڅوړې اچولو او سترګو تړلو عمل؛
- د نیونې د ترسره کولو او له نړیوالو نورمونو سره سم د قوې د کارونې، د شکمنو، قربانیانو او شاهدانو په اړه د تحقیقاتو د ترسره کولو، او په ځانګړې ډول د غیر اجباري تحقیقاتي مرکو ترسره کولو او په توقیف کې د بندي سره د چلند د معیارونو په اړه روزنې او د پوهاوي لوړولو غونډې تنظیم کړئ؛
- د *برحاله* کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو د لوي ریاست تر صلاحیت لاندې د توقیف ځایونو مسؤولو رئیسانو او د هغوی مرستیالانو ته لارښوونه وکړئ، چې:
  - > د توقیفي د نیونې په اړه د کورنۍ غړي سملاسي یا هر څومره زر چې په عملي ډول ممکن وي، خبر کړئ او د کورنۍ غړو ته له توقیفیانو سره د لیدنې اجازه وکړئ؛
  - > په بدیل ډول، عملي ترتیبات جوړ کړئ څو ډاډ تر لاسه شي چې له خپلې آزادۍ څخه محروم شوي اشخاص کولی شي د خپلې خوښې شخص سره اړیکه ټینګه کړي څو هغوی د خپل توقیف او ځای ځایګي په اړه خبر کړي؛

- له ارتباط پرته د توقیفیانو ساتل/بندي کول بند کړئ؛
- ډاډ تر لاسه کړئ چې بندي کولی شي د بند مودې په هر وخت کې د یوه قضایي یا بل صلاحیت لرونکي چارواکي په مخ کې، څوک چې کولی شي له کوم ځنډ پرته د توقیف د قانونیت په اړه پرېکړه وکړي او که چېرې توقیف قانوني نه وي د خوشې کیدو امر وکړي، د توقیف قانونیت یا اړتیا د ننګولو حق اعمالوي؛
- توقیفیان د توقیف پرمهال له خپلو بنسټیزو حقونو خبر کړئ لکه په محرمانه چاپېریال کې مدافع وکیلانو او طبي کارپوهانو ته د هغوي د لاس رسي له حق څخه خبرول، د کورنۍ د خبرولو او له هغې سره د دوامدارې اړیکې حق، او د شکایتونو وړاندې کول او په آزاد ډول له څارونکو میکانیزمونو سره د ګډون او تعامل حق؛
- ډاډ تر لاسه کړئ چې تحقیقات د مدافع وکیلانو په حضور کې ترسره کېږي؛
- ډاډمن کړئ چې مدافع وکیلان د توقیف په ټولو پړاونو کې توقیفیانو ته خصوصي او محرمانه لاس رسی لري، دغه راز د هغوي د مؤکلینو د تحقیقاتو او پوښتنو ګروېږنو په تړاو اسنادو ته مناسب لاس رسی لري؛
- پرته د قضایي نظارت او تورونو نه، د *برحاله* استخباراتو لوی ریاست یا *برحاله* پولیسو له توقیف نه د اشخاصو خوشې کولو لپاره د غیرقانوني ضمانت یا د دریم ګړي تضمین د غوښتلو ودرول؛

- ډاډ تر لاسه کړئ چې د یوناما په ګډون خپلواکې نړیوالې اداري د *برحاله* کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو د لوي ریاست او د زندانونو د چارو د سمون اداري تر صلاحیت لاندې مرکزونو کې له توقیفیانو سره د شکیلتیا محرمانه لاس رسی لري.

### د څارنې، تحقیقاتو او احتساب په اړه:

- د *برحاله* کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو د لوي ریاست او د زندانونو د چارو د سمون اداري تر صلاحیت لاندې په توقیف ځایونو کې د شکنجې، ناوړه چلند او مړینو د ادعاوو په اړه له تحقیقاتو ډاډ تر لاسه کړئ او د تحقیقاتو پرمهال له خپلو منصبونو څخه د اړوندو *برحاله* چارواکو د دندو تعلیق یا لرې کول او د توقیف ځایونو د قوماندې صلاحیت لرونکو مخکښو رئیسانو او مرستیالانو او د مستقیمو مرتکبینو په ګډون د ګرم پېژندل شویو هغو لپاره جزائي احتساب یقیني کړئ؛
- په توقیف کې د شکنجې یا ناوړه چلند د ادعاوو په مستندولو، راپور کول یا څېړلو کې پاتې راتلل جرم وګڼئ؛
- ډاډ تر لاسه کړئ چې د *برحاله* کورنیو چارو د وزارت او د استخباراتو د لوي ریاست د بشري حقونو ریاستونه او د زندانونو د چارو د سمون د *برحاله* اداري د څارنې کمېټه هغه صلاحیت، خپلواکي او منابع لري کوم چې په موثر ډول د محرمانه شکایتونو د ترلاسه کولو، د تېرېو د ادعاوو د څېړلو او په مستقیم ډول یې اړوندو *برحاله* وزیرانو یا رئیسانو ته د مناسبو تدابیرو لپاره د راپور ورکولو لپاره اړین ګڼل کېږي؛
- د نظارتي چارو د ترسره کولو او د توقیف د مودو د زماني قید محدودیتونو په پام کې نیولو سره د څارنې او راپور ورکونې د دفعاتو د زیاتولو په اړه د توقیفیانو د څارنې او اړوندو داخلي میکانیزمونو سره د کارکوونکو (د بشري حقونو د ریاستونو آمرانو، د توقیف مرکزونو د رئیسانو، او د فرامینو او احکامو د نظارت او تعقیب *برحاله* لوی ریاست څارندویانو) روزنه ډاډمنه کړئ؛

- ډاډ تر لاسه کړئ چې په ټولو توقیف ځایونو کې د طبي کارمندانو په ګډون ټول اړوند چارواکي روزل شوي چې د استانبول له پروتوکول سره سم شکنجه او ناوړه چلند قضیې معلومې کړي، مستندې کړي او په اړه یې راپور ورکړي؛
- د تحقیقاتو د پایلو او ترسره شویو اقداماتو په اړه له یوناما سره تعامل وکړئ؛

## برحاله د عدلیې وزارت

- د تېر حکومت پرمهال د تصویب شویو قوانینو کتنه نهایي کړئ، او قانون د تطبیق څرنګوالی روښانه کړئ کوم چې د ټولو افغانانو لپاره اړین اجرایي حمایتونه برابروي څرنګه چې د اساسي قانون، د جزاء د قانون، د جزائي اجراآتو د قانون او د ۲۰۱۸ کال د شکنجې د منع د قانون په ګډون یې د کلیدي متنونو له خوا وړاندوینه شوې؛
- د *برحاله* چارواکو د نوو لارښونو د خپرولو او ویش له لارې روڼتیا زیاته کړئ، که هدف یې د موجوده افغان قوانینو د تعدیل وي یا د نویو طرز العملونو معرفي، په ځانګړې چېرې چې لارښوونې د افرادو حقونه متاثره کوي؛
- *له محاکمې د مخکې اوږد مهاله توقیف ته د رسیدګۍ* لپاره داسې لارښووني طرح کړئ کومې چې دا مني چې د یوې قاعدې په څېر د محاکمې لپاره په تمه کسان نه باید توقیف شي، د فرد زیانمنتیا، د جرم ماهیت او انګیزه، او هغه خطر چې فرد لخوا خلکو ته متوجه دی په پام کې نیولو سره، چېرې چې شونې **وي** د توقیف بدیلونو ته اجازه ورکړل شي؛
- د ټولو اړوندو ادارو لپاره د *برحاله* کورنیو چارو وزارت، *برحاله* استخباراتو لوی ریاست او *برحاله* سترې محکمې په ګډون د نیونې له پیل څخه د مدافع وکیل د درلودلو حق،د تحقیق، استماع او نورو څېړنو پرمهال د مدافع وکیل د حضور حق تایید او په اړه یې د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلاره په پراخه کچه خپره کړئ؛
- د حقوقي مرستې یو چوکات رامنځ ته کړئ چې په وسیله یې د *برحاله* پولیسو او *برحاله* د استخباراتو د لوي ریاست په بند کې او له محاکمې څخه په مخکې توقیف کې کسانو لپاره حقوقي خدمتونه تضمین کړای شي؛ چېرې چې حقوقي خدمتونه د سازمانونو، خپلواکو مدافع وکیلانو او حقوقي کلینیکونو په ګډون د ګڼ شمیر خدمت برابرونکو له خوا برابر شوي؛
- په ولایتونو کې د *برحاله* امنیتي مسؤولینو او *برحاله* عدلیې ریاستونو ترمنځ یو معیاري ارجاعي سیستم رامنځ ته کړئ، څو ټول توقیفیان خصوصي مدافع وکیلانو یا د حقوقي مرستې برابرونکو ته چټک لاس رسی ولري؛
- د ښځینه وو په ګډون مدافع وکیلانو ته د جوازونو ورکول زیات کړئ او جاري وساتئ، څو با کیفیته حقوقي خدمتونو ته کافي لاس رسي رامنځ ته شي، ورزول شي او له توقیف څخه د لیدنې او له توقیفیانو سره د مرستې لپاره د لاس رسي وړ وګرځول شي؛
- یقیني کړئ چې مدافع وکیلانو ته د کاري جوازونو د ورکړې پروسه د ښځینه وکیلانو لپاره هم پرانیستې ده.

## برحاله ستره محکمه

- *برحاله* قاضیانو ته روښانه لارښووني خپرې کړئ څو یقیني کړي چې په محکمه کې د یوه متهم کارول شوی بیان او څرګندوني د شخص په بشپړ رضایت او خبرتیا سره ورکړل شوي، او داډ تر لاسه کړئ چې اجباري او نور ناقانونه ترلاسه شوي بیانونه په قضايي اجراآتو کې د شواهدو په څير په هيڅ صورت د منلو يا باور وړ نه دي؛
- *برحاله* قاضیانو ته روښانه لارښووني خپرې کړئ څو ډاډ تر لاسه شي چې په توقيف کې په اکراه او نا قانونه ډول ترلاسه شويو اقرارونو تورونه په بشپړ ډول څیړل شوي او له مسؤلينو سره يې احتساب ترسره شوی؛
- *برحاله* قاضیانو ته روښانه لارښووني خپرې کړئ څو د مدافع وکيلانو د انسجام کړنلارې درناوی وکړي او مدافع وکيلان وکولی شي د جزائي اجراآتو په ټولو پړاونو کې حضور ولري او د خپلو مؤکلينو استازيتوب وکړي، او له مدافع وکيلانو سره ناوړه چلند او زورونه منع کړي، او د دی تصديق کول چې د مسلکي قضايي معيارونو څخه دواړه سرغړونې د انضباطي عکس العمل تابع دي؛

## نړیواله ټولنه

- د *برحاله* کورنیو چارو له وزارت، د استخباراتو له لوي رياست او د زندانونو د چارو د سمون له ادارې سره د تعامل ملاتړ وکړئ، او مناسبې مشورې او د پوهاوي د لوړوني مشخص مجلسونه ورته مهيا شي، تر څو د قانون د پلې کوونکو اعمال، د ظرفيت د لوړوالي سره د نړيوالو معيارونو سره تطابق پيدا کړي، په شمول د څواک کارولو، د توقيفيانو سره د چلند او د تحقيقاتو او پوښتنو ترسره کولو او دموکراتيک نظم برقرارولو برخو کې.
- د مدني ټولنې له نهادونو او غیر دولتي مؤسساتو سره د بهتر شوي ظرفيت ښه والي ملاتړ وکړئ هغه چې په ټولو توقيف ځايونو کې له توقيفيانو سره د مرستې په پار د حقوقي سلا مشورو/حقوقي مرستې يا طبي پاملرنې د برابرونې په برخو کې کار کوي.



# لومړی ضمیمه- حوالې

## I. لومړي نړیوال اسناد

- ### کلیدي نړیوال اسناد

د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۱۹۴۸، د عمومي اسامبلې پرېکړه لیک ۲۱۷ A (III)، دلته شتون لري:
https://www.un.org/en/Universal Declaration of Human Rights

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق ۱۹۴۸ (د افغانستان لخوا الحاق په ۲۴ جنوري ۱۹۸۳)، د ملګرو ملتونو د تړون لړۍ، ټوک ۹۹۹، شمیره ۱۴۶۶۸، دلته شتون لري: https://treaties.un.org/Pages/ICCPR

د جنیوا کنوانسیون، د جګړې په وخت کې د ملکي وګړو د ساتنې په تړاو (څلورم جنیوا کنوانسیون)، ۱۲ اګست ۱۹۴۹، ۷۵ UNTS ۲۸۷، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/geneva-convention-relative-protection-civilian-persons-time-war

د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني یا سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون، ۱۹۸۴ کال د دسمبر ۱۰مه (د افغانستان لخوا په ۱ اپریل ۱۹۸۷ تصویب شوی)، د ملګرو ملتونو د تړون لړۍ، ټوک ۱۴۶۵، شمیره ۲۴۸۴۱، دلته شتون لري:
https://treaties.un.org/Pages/Convention against Torture and Other Cruel, Inhuman or Degrading Treatment

د ماشوم د حقونو کنوانسیون ۱۹۸۹ کال د نومبر ۲۰مه (د افغانستان لخوا په ۲۸ مارچ ۱۹۹۴ تصویب شوی)، د ملګرو ملتونو د تړون لړۍ، ټوک ۱۵۷۷، (دریمه صفحه)، شمیره ۲۷۵۳۱، دلته شتون لري: https://treaties.un.org/Pages/Convention on the Rights of the Child

د نړیوالې جنايي محکمې د روم اساسنامه ۲۰۰۱، (د افغانستان لخوا الحاق په ۱ می ۲۰۰۳)، د ملګرو ملتونو د تړون لړۍ، ټوک ۲۱۸۷ (دریمه صفحه)، شمېره ۳۸۵۴۴، دلته شتون لري: https://treaties.un.org/doc/Treaties/1998/Rome Statue of the ICC

د شکنجې او نا انساني یا سپکاوي ډک چلند یا سزا د عمومي آسامبلې پرېکړه لیک، ۱۵ دسمبر ۲۰۲۲، A/Res/77/209، دلته شتون لري:https://www.undocs.org/Home/A/RES/77/209 - Language

- ### نور اړوند نړیوال اسناد

د قانون نافذوونکو چارواکو لپاره د چلند قواعد، په ۱۷ دسمبر ۱۹۷۹ تصویب شوی، A/Res/34/169، دلته شتون لري:
http://www.ohchr.org/EN/ProfessionalInterest/Pages/LawEnforcementOfficials.aspx

د هر ډول توقیف یا حبس لاندې د ټولو اشخاصو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه، په ۹ ډسمبر ۱۹۸۸ تصویب شوی، A/Res/43/173، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/instruments/body-principles-protection-all-persons-under-any-form-detention

د قانون نافذوونکو چارواکو له خوا د قوې او وسلو کارولو اصول، په ۷ سپتمبر ۱۹۹۰ تصویب شوي، د جرمونو مخنیوي او د مجرمینو سره د چلند په اړه د ملګرو ملتونو اتم کانګرس، هاوانا، کیوبا، د اګست له ۲۷ څخه تر ۷ سپتمبر ۱۹۹۰ پورې، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/instruments/basic-principles-use-force-and-firearms-law-enforcement

د ملګرو ملتونو مقررات د هغو محجوزینو د ساتنې لپاره چې له ازادۍ څخه محروم شوي دي، په ۱۴ ډسمبر ۱۹۹۰ تصویب شوي، A/Res/45/113، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/UN-Rules-protection-juveniles-deprived-their-liberty

له توقیف څخه بهر تدابیرو لپاره د ملګرو ملتونو معیاري حد اقل قواعد (توکیو قواعد)، ۱۴ ډسمبر ۱۹۹۰، A/RES/45/110، دلته شتون لري: https://undocs.org/Tokyo Rules A/RES/45/110 - Language

له جبري ورک کیدو څخه د ټولو اشخاصو د ساتنې په اړه اعلامیه، په ۱۸ ډسمبر ۱۹۹۲ تصویب شوې، A/Res/47/133، دلته شتون لري: http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/CED/Protection from Enforced Disappearance

د بندیانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو حد اقل معیاري مقررات (چې د منډیلا قواعدو په نوم هم پیژندل کیږي)، په ډسمبر ۲۰۱۵ کې تصویب شوي، A/Res/70/175، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/sites/NelsonMandelaRules.pdf

## II. ځانګړي طرزالعملونه

- ### ځانګړي راپور ورکوونکي

د ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي پي کوایجمانز، لخوا راپور چې د بشري حقونو د کمیسیون د ۱۹۸۵/۳۳ (۱۹۸۶)، E/CN.41/1986/15 پریکړه لیک په تعقیب ټاکل شوی

د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، نایجل ایس روډلي، راپور چې په ۳ جولای ۲۰۰۲ د عمومي اسامبلې د ۸۹/۵۵، A/56/156 پریکړه لیک په تعقیب وړاندې شوی، دلته شتون لري: https://undocs.org/Home/A/56/156 - Language

د شکنجې د پوښتنې په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، منفرید نواک، ۲۳ ډسمبر ۲۰۰۵، E/CN.4/2006/6 ، دلته شتون لري: http://daccess-ods.un.org/access/E/CN.4/2006/6&Lang=E :

د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، منفرید نواک، راپور، ۹ فبروري ۲۰۱۰، A/HRC/13/39/Add.5، دلته شتون لري: https://undocs.org/Home/A/HRC/13/39/Add.5 - Language

د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي، جوان مینډیز – انفرادي حبس، لنډمهاله راپور، چې د عمومي اسامبلې د ۲۰۵/۶۵، ۲۰۱۱، A/66/268 پریکړه لیک په تعقیب وړاندې شوی، دلته شتون لري: https://undocs.org/, A/66/268 - Language

د شکنجې، ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړی راپور ورکوونکي، خوان مینډیز - د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په ۶۶مه غونډه کې د متقابل ډیالوګ په جریان کې د غړو هیوادونو لخوا مطرح شوي پوښتنو ته ځواب، ۱۸ اکتوبر ۲۰۱۱، دلته شتون لري:
https://www.ohchr.org/Issues/Torture/Reply_to_Questions_Raised_by_MStates_Dialogue GA66.pdf

د شکنجې، ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي جوان مینديز ځانګړی راپور- د منډېلا قواعدو کتنه، عمومي اسامبلې د ۲۰۱۳ کال د اګست ۹ نېټې پریکړه لیک سره په تطابق کې وړاندې شوي.
دلته شتون لري:https://undocs.org/A/68/295

د شکنجې، ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي جوان مینديز ځانګړی راپور- د مرکو لپاره نړیوال پروتوکول، ۵ اګست ۲۰۱۶، A/71/298، دلته شتون لري:
https://undocs.org/Home/A/71/298 - Language

د شکنجې، ظالمانه، نا انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي نیلس میلز راپور- له حبس څخه بهر د قوې کارونه او د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني، یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ممنوعیت، د بشري حقونو د شورا د ۲۰۱۷ کال د جولای د ۱۹ نېټې له ۳۴/۱۹ شمېره پریکړه لیک، A/72/178، سره په تطابق کې وړاندې شوی. دلته شتون لريA/HRC/52/30 : https://www.undocs.org/Home/Extra-custodial use of force and the prohibition of torture, A/72/178

د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوي ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، ۲۰ مارچ ۲۰۲۰، A/HRS/43/49، دلته شتون لري: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/A/HRS/43/49

د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني، یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي راپور، ډاکتر الیس ایډوړډز راپور – د شکنجې جرمونو د جرم ګڼلو، تحقیقاتو، عدلي تعقیب او مجازاتو کې ښه مشقونه، ۱۶ فبروري ۲۰۲۳، A/HRC/52/30، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/2022/Good Practices-National criminalization, investigation, prosecution & sentencing

- **کاري ګروپونه**

د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کمیسیون، د خپل سري توقیف په اړه کاري ګروپ - د شکنجې او توقیف په اړه د پوښتنې په شمول د مدني او سیاسي حقونو په اړه تصویب شوي نظرونه، نظر شمیره ۲۰۰۴/۳ (اسرائیل)، ۱۹ نومبر ۲۰۰۴، E/CN.4/2005 /6/Add.1، دلته شتون لري: https://digitallibrary.un.org/record/540230?ln=fr

د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کمیسیون، د خپل سري توقیف په اړه کاري ګروپ، د بحث شمیره ۷، ۱ دسمبر ۲۰۰۴، E/CN.4/2005/6، دلته شتون لري: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/G04/167/19/PDF/G0416719.pdf?OpenElement

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، د جبري ېې درکه کیدو په اړه د کاري ګروپ راپور، ۱۰ جنوري ۲۰۰۸، A/HRC/7/2، دلته شتون لري: https://undocs.org/Home/A/HRC/7/2 - Languages

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، د جبري ېې درکه کیدو په اړه د کاري ګروپ راپور، ۳۱ جولای ۲۰۱۸، A/HRC/39/46، دلته شتون لري: https://undocs.org/Home/A/HRC/39/46 - Language

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا، د جبري بې درکه کیدو په اړه کاري ګروپ، د زین العابدین محمد حسین (ابو زبیده) په اړه د نظر شمیره ۲۰۲۲/۲۶ (متحده ایالات، پاکستان، تایلینډ، پولنډ، مراکش، لیتوانیا، افغانستان او انګلستان)، ۶ اپریل ۲۰۲۳، A/HRC/WGAD/2022/66، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/Detention-wg/opinions/session95/A-HRC-WGAD-2022-66-Advance-Edited-Version.pdf

## III. د بشري حقونو د خپلواکو کارپوهانو راپورونه او پریکړې

- **د بشري حقونو کمیته**

د بشري حقونو شورا پریکړه لیک ۱۸/۱۵, A/HRC/RES/15/18، دلته شتون لري: https://undocs.org/Home/A/HRC/RES/15/18 - Languages

### عمومي نظرې

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق عمومي نظریه شمېره ۸: ۹مه ماده (د افرادو د آزادۍ او امنیت حق)، ۳۰ جون ۱۹۸۲، دلته شتون لري: https://ohchr.org/treatybody/General Comment No. 8 - Article 9 (Right to Liberty)

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق عمومي نظریه شمېره ۲۰: ۷مه ماده (د شکنجې یا نور ظالمانه، غیر انساني یا سپکاوی ډک چلند یا سزا منع کول)، ۱۰ مارچ ۱۹۹۲، دلته شتون لري: https://ohchr.org/treatybody/General Comment No. 20 - Article 7 (Prohibition of torture)

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق عمومي نظریه شمېره ۲۹، ۴مه ماده، (د بیړني حالت په جریان کې د قانون د پلي کولو څخه معافیت)، ۳۱ اګست ۲۰۰۱، CCPR/C/21/Rev.1/Add.11، دلته شتون لري: https://ohchr.org/treatybody/General Comment No. 29 - Article 4 (State of Emergency)

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق عمومي نظریه شمېره ۳۲: ۱۴مه ماده (د محاکمو او دیوانونو په وړاندې د برابرۍ حق او عادلانه محاکمه)، ۲۳ اګست ۲۰۰۷، CCPR/C/G C/32، دلته شتون لري: https://ohchr.org/treatybody/General Comment No. 32 - Article 14 (Equality before courts)

د بشري حقونو کمېټه، ۳۶ شمېره عمومي تبصره: (۶ ماده: د ژند حق)، ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق/ C/GC/36، دلته شتون لري: https://documents-dds-ny.un.org/UNDOC/General Comment No. 36

### د دولتي راپورونو په اړه د بشري حقونو د کمیټې نظرونه

د بشري حقونو کمېټه، د جورجیا د لومړني راپور په اړه د نظرونو پایله، اپریل ۱۹۹۷، CCPR/C/79Add.74، دلته شتون لري: https://ohchr.org/TreatyBody/Concluding observations: Georgia

### د بشري حقونو د کمیټې قضیې

د یوروګوای په مقابل کې د ایسترېلا قضیې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۸۰/۷۴، ۲۹ مارچ ۱۹۸۳، CCPR/C/OP/2 په ۹۳ (۱۹۹۰) کې، دلته شتون لري: http://hrlibrary.umn.edu/undocs/newscans/74-1980.html

د زايري په مقابل کې د مطيې قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۸۲/۱۲۴، ۲۴ جولای ۱۹۸۴، د ضميمې شمېره ۴۰ (A/39/40) په ۱۸۲ (۱۹۸۴) کې، دلته شتون لري: http://hrlibrary.umn.edu/undocs/session39/124-1982.htm

د يوروگوای په مقابل کې د ارزودا گيلبوا قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۸۳/۱۴۷، ۱۹۸۵، A/41/40 په ۱۲۸ (۱۹۸۶) کې، دلته شتون لري:http://hrlibrary.umn.edu/undocs/session41/147-1983.htm

د توباگو په مقابل کې د پينتو او ترينيداد قضييو په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۸۷/۲۳۲، ۲۰ جولای ۱۹۹۰، CCPR/C/39/D/232/1987 (۱۹۹۰)، http://hrlibrary.umn.edu/undocs/session39/232-1987.html

د کامرون په مقابل کې د موکونگ قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۹۱/۴۵۸، ۱۹۹۴، CCPR/C/51/D/458/1991، دلته شتون لري: https://juris.ohchr.org/casedetails/321/en-US

د ليبيا عرب جماهيريه په مقابل کې د المغريسي قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۹۰/۴۴۰، ۲۴ مارچ ۱۹۹۴، CCPR/C/50/D/440/1990، دلته شتون لري: http://hrlibrary.umn.edu/undocs/html/vws440.htm

د جميکا په مقابل کې د ستيفنز قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۸۹/۳۷۳، ۱۸ اکتوبر ۱۹۹۵، CCPR/C/55/D/373/1989 (۱۹۹۵)، دلته شتون لري:
http://hrlibrary.umn.edu/undocs/session55/vws37355.htm

د جميکا په مقابل کې د گرانټ قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۹۴/۵۹۷، ۲۲ مارچ ۱۹۹۶، CCPR/C/56/D/597/1994 (۱۹۹۶)، دلته شتون لري:
http://hrlibrary.umn.edu/undocs/html/VWS59756 .htm

د جميکا په مقابل کې د بينيټ قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۱۹۹۴/۵۹۰، ۱۰ می ۱۹۹۹، CCPR/C/65/D/590/1994، دلته شتون لري:
http://hrlibrary.umn.edu/undocs/session65/view590.htm

د الجزاير په مقابل کې د بوچرف قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۲۰۰۳/۱۱۹۶، ۲۷ اپريل ۲۰۰۶، CCPR/C/86/D/1196/2003، دلته شتون لري: http://ohchr.org/Communication No. 1196/2003

د ازبکستان په مقابل کې د بازاروف قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۲۰۰۰/۹۵۹، ۱۴ جولای ۲۰۰۶، CCPR/C/87/D/959/2000 (۲۰۰۶)، دلته شتون لري: http://hrlibrary.umn.edu/undocs/959-2000 .html

د نيپال په مقابل کې د شرما قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۲۰۰۶/۱۴۶۹، ۶ نومبر ۲۰۰۸، CCPR/C/94/D/1469/2006، دلته شتون لري: http://hrlibrary.umn.edu/undocs/1469-2006.pdf

د ازبکستان په مقابل کې د توليپخوزايف قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۲۰۰۴/۱۲۸۰، ۲۲ جولای ۲۰۰۹، CCPR/C/96/D/1280/2004، دلته شتون لري: https://juris.ohchr.org/casedetails/1526/en-US

د جنوبي افريقا په مقابل کې د مککلم قضيې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۲۰۰۸/۱۸۱۸، ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۰، CCPR/C/100/D/1818/2008 (۲۰۱۰)، دلته شتون لري: http://hrlibrary.umn.edu/undocs/1818- 2008.html

د یوروګوای په مقابل کې د پیرانو باسو قضیې په اړه نظرونه، د مکالماتو شمېره ۲۰۰۹/۱۸۸۷، ۱۹ اکتوبر ۲۰۱۰، CCPR/C/100/D/1887/2009 (۲۰۱۰)، دلته شتون لري:
https://digitallibrary.un.org/record/693222?ln=en

- **د شکنجې ضد کمیټه**

## عمومي نظرې

د شکنجې ضد کمیټه، عمومي نظریه شمېره ۲ (۲۰۰۷) د غړو دولتونو لخوا د دویمې مادې پلي کولو په اړه، ۲۴ جنوري ۲۰۰۸، CAT/C/GC/2، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/documents/general-comments-and-recommendations/catcgc2-general-comment-no-2-2007-implementation

د شکنجې ضد کمیټه، عمومي نظریه شمیره ۳ (۲۰۱۲) د غړو دولتونو لخوا د ۱۴مې مادې پلي کولو په اړه، ۱۳ دسمبر ۲۰۱۲، CAT/C/GC/3، دلته شتون لري: https://www.ohchr.org/en/documents/general-comments-and-recommendations/catcgc3-general-comment-no-3-2012-implementation

## د دولتي راپورونو په اړه ملاحظات

د سویس د دریم دوراني راپور په اړه د نظرونو پایله، ۲۷ نومبر ۱۹۹۷، (۸۰-۱۰۰ پاراګرافونه) A/53/44، دلته شتون لري : https://TreatyBody.ohchr.org/Concluding Observations: Switzerland

د کنوانسیون د ۱۹مې مادې لاندې د غړو هیوادونو لخوا وړاندې شوي راپورونو ته کتنه - د اسراییل ځانګړی راپور، ۱۹۹۷، CAT/C/SR.297/Add.1، دلته شتون لري: https://www.un.org/Consideration – Special report of Israel, 1997

د لوګزامبورګ د دریم او څلورم دوراني راپورونو په اړه د نظرونو پایله، ۱۲ جون ۲۰۰۲، CAT/C/CR/28/2، دلته شتون لري: https://TreatyBody.ohchr.org/Concluding Observations: Luxembourg

د بوسنیا او هرزیګوینا د دویم څخه تر پنځم دوراني راپورونو په اړه د نظرونو پایله، ۲۰ جنوري ۲۰۱۱، CAT/C/BIH/CO/2-5، دلته شتون لري: https://TreatyBody.ohchr.org/Concluding observations: BiH

د روانډا د لومړي دوراني راپور په اړه د نظرونو پایله، ۳۱ می ۲۰۱۲، CAT/C/RWA/CO/1، دلته شتون لري : https://TreatyBody.ohchr.org/Concluding observations: Rwanda

د جاپان د دویم دوراني راپور په اړه د نظرونو پایله، ۲۸ جون ۲۰۱۳، CAT/C/JPN/CO/2، دلته شتون لري : https://TreatyBody.ohchr.org/Concluding observations: Japan

د پولنډ د ګډ پنځم او شپږم دوراني راپورونو په اړه د نظرونو پایله، ۸ نومبر ۲۰۱۳، CAT/C/POL/CO/5-6، دلته شتون لري : https://TreatyBody.ohchr.org/Concluding observations: Poland

د متحده ایالاتو د دریمې څخه تر پنځمې دوري ګډ دوراني راپور په اړه د کتنو پایله، ۱۹ دسمبر ۲۰۱۴، CAT/C/USA/CO/3-5، دلته شتون لري: https://TreatyBody.ohchr.org/Concluding observations: USA

## د شکنجې ضد د کمیټې قضیې

د سربیا او مونټینیګرو په مقابل کې د دیمیتریجیویک قضیې په اړه پریکړه، د مکالماتو شمیره ۲۰۰۰/۱۷۲، ۱۶ نومبر ۲۰۰۵، CAT/C/35/D/172/2000، دلته شتون لري: https://juris.ohchr.org/casedetails/127/en-US

د تونس په مقابل کې د علي قضيې په اړه پریکړه، د مکالماتو شمېره ۲۰۰۶/۲۹۱، ۲۱ نومبر ۲۰۰۸، CAT/C/41/D/291/2006، دلته شتون لري: https://juris.ohchr.org/casedetails/71/en-US

## IV. د یوناما راپورونه

یوناما، په افغانستان کې د شکنجې منع کول او د توقیفیانو د حقونو مراعتول: د سولې یو فکتور، فبروري ۲۰۲۱، ۲۲-۲۴ پاڼې، پر راتلونکې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/sites/Report on Treatment of conflict-related detainees_Feb.2021.

– دري: https://unama.unmissions.org/Treatment of Conflict-related Detainees, Feb.2021 - Dari

– پښتو: https://unama.unmissions.org/Treatment of Conflict-related Detainees, Feb.2021 - Pashto

یوناما، په افغانستان کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: د شکنجې د منع قانون له مخې د شکنجې او ناوړه چلند منع کول، اپریل ۲۰۱۹، دلته شتون لري: https://unama.unmissions.org/Treatment of Conflict-related Detainees, 17 April 2019 - Eng

– دري: https://unama.unmissions.org/Treatment of Conflict-related Detainees, 17 April 2019 - Dari

– پښتو: https://unama.unmissions.org/Treatment of Conflict-related Detainees, 17 April 2019 - Pashto

## V. افغان قوانین

- د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون (۲۰۰۴)
- د جزايي اجراآتو قانون (۲۰۱۴)
- د مدافع وکیلانو قانون (۲۰۰۷)
- د زندانونو د چارو د تنظیم قانون (۲۰۱۸)
- نظامي جزايي اجراآتو کود (۲۰۱۰)
- د جزا قانون (۲۰۱۸)
- د پولیسو قانون (۲۰۰۹)



# دویمه ضمیمه : په افغانستان کې له بندیانو سره د چلند په اړه د یوناما دفتر د بشري حقونو څانګې د راپور مسودې ته د ا.ا.ا د برحاله بهرنیو چارو وزارت ځواب

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت د بشر د حقوقو او د ښځو د نړیوالو چارو ریاست، له بندیانو سره د چلند په اړه په کابل کې د یوناما دفتر د راپور مسوده، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د همغږۍ او تخنیکي کمېټې له څلورو غړو بنسټونو سره د حقایقو د معلوملو او ځواب وړاندی کولو دپاره شریکه کړه، د دوی د نظرونو د ترلاسه کولو وروسته او د عینی حقایقو په نظر کې نیولو سره او د دې ریاست له ارزونې او توحید وروسته، په کابل کې د یوناما دفتر د بشري حقونو برخې پورتنۍ مسودې ته په لاندې ډول ځواب وړاندې کیږي:

**د محابسو د چارو د تنظیم د خپلواکې اداري کړنې او کاري طرزالعمل:**

د محابسو د چارو د تنظیم خپلواکه اداره د بندیانو د اسلامي او بشري حقونو څخه د هر ډول سرغړونې د مخنیاوي په موخه لاندې تدبیرونه نیولي او د بندیانو د حقوقو درناوي او رعایت ته ژمنتیا لري:

- له نېکه مرغه د اسلام د سپېڅلي دین په شریعت کې د بندیانو حقوق (دیني، ټولنیز او کلتوري ارزښتونه) چې د اساسي او اسلامي حقونو د ساتنې او درناوي په موخه تصویب شوي، حتی د حقایقو د موندلو په موخه د خلکو شکنجه کول هم منع کړي، سربیره پر دې د هیواد د نافذه احکامو او قوانینو پر بنسټ، د آزادۍ څخه د خلکو بې برخې کول د دوی نور حقونه او مکلفیتونه له منځه نه وړي. د محابسو چارو ریاست ژمن دی چې دغو ارزښتونو ته درناوی وکړی. په دی اړه د امیرالمؤمنین حفظه الله د بندیانو د چارو د تنظیم طرزالعمل (۱۷۵، ګڼه۱)[۱۶۲] تدوین او ټولو ولایتونو ته د هغې د تطبیقي پلان استول، د دې حقیقت ثبوت دی.
- د محابسو چارو ریاست د یوې خپلواکې ملکي اداري په توګه، د دی ریاست په محابسو کې د خلکو د ساتنې او پالنې دپاره تاسیس شوي. دا اداره، د بندیانو د اسلامي او بشري حقوقو د ارزښت په پوره درک کولو سره، د بندیانو د حقوقو درناوی او د هغوی له اساسي حقوقو څخه د سرغړونې مخنیوی خپل اساسي هدف ټاکلی دی. نو د محابسو اداري د جبري اقرار اخیستلو لپاره، د خلکو په ځورولو او شکنجه کولو کې هیڅ رول نه دی لوبولی. لکه څنګه چې څرګنده ده، په ډېرو هیوادونو کې د محابسو اداره کول د ننګونو ډک کار او نارضایتی، اغتشاش او ګډوډۍ سره مل وي. په دې اساس تأدیبی تدبیرونه کله نا کله نه انکاریدونکي موارد وي. خو دغې اداري هېڅکله د محبس مسوولینو ته له بندیانو سره د فزیکي برخورد یا شکنجې اجازه نه ده ورکړې.

---

[۱۶۲] د یوناما یادښت: د بندیانو د نظام د سمون د طرزالعمل د تصویب په اړه فرمان، شمیره ۱۷۵، ۱۷ جنوري ۲۰۲۲.

- د محابسو د چارو ریاست تر چتر لاندې، د آزادۍ د سلب ځایونو د څارنې ریاست رامنځته شو. دغه ریاست ژمن دی چې د اړوندو ولایتي واحدونو سره په ګډه د محبسونو د منظمې او دوامداره څارنې سره، د بندیانو د ستونزو- شکایتونو د پېژندنې، راټولولو او د اداري رهبرۍ سره د څارنې مستند شوو راپورونو شریک کولو له لارې ورته رسیدګي وکړي. له نېکه مرغه د محابسو د چارو د تنظیم ادارې په ریکارډونو کې د شکنجې کومه پېښه نه ده ثبت شوې. د یادولو وړ ده چې بندیان هر کله چې وغواړي کولای شي خپل شکایتونه او ستونزې له بېلابېلو لارو د آزادۍ د سلب ځایونو څخه د څارنې د ریاست یا له رهبرۍ سره شریکې کړي. د یادونې وړ ده چې د بندیانو د حقونو د څارنې او خوندیتوب په برخه کې ډېر تقنیني اسناد موجود دي.
- دا مهال د محابسو د چارو د تنظیم په ریاست کې یو لوړ رتبه کمیسون او د ادارې د رئیسانو څخه جوړه شوې کمېټه کار کوي چې د بندیانو ستونزې او ننګونې حل کړي.
- د بشري حقونو د وضعیت د ښه والي او اساسي چوپړتیاوو ته د بندیانو د لاسرسي په موخه د محبس ادارې له اصولو سره سم له ملي او نړیوالو بنسټونو سره د دوه اړخیزو همکاریو ګڼ تړونونه لاسلیک کړي دي.
- د محابسو چارو د تنظیم ریاست د دې ادارې د مرکزي او ولایتي کارکوونکو لپاره د بندیانو د بشري او اسلامي حقونو د تامین او درناوي په اړه روزنیز ورکشاپونه په لاره اچولي دي او همدارنګه یې بندیانو ته د خپلو حقونو په اړه د پوهاوي پروګرامونه تسهیل او جوړ کړي دي.
- د زندانونو اداره د بندیانو د دوسیو د آسانتیا او چټکتیا او د هغوی د برخلیک د حل په برخه کې له عدلي او قضایي ارګانونو سره د همغږۍ غونډې جوړې کړي، چې له نېکه مرغه په دې برخه کې ښې لاسته راوړنې لري او د بندیانو دوسیو په اړه ژر پرېکړه ترسره او نهایي کېږي.
- د زندانونو اداره یې وزلو بندیانو ته د حقوقي مساعدینو د ګمارنې او مدافع وکیل ته د لاسرسي په اړه د عدلیې وزارت سره د همغږۍ څو غونډې جوړې کړې او په دې برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی.
- د دې ادارې د شخصیتي دوسیو او ملاقات کوونکو د تنظیم آمریت، د بندیانو د طبقه بندی کولو طرزالعمل تدوین او ترتیب کړی چې اوس مهال د تطبیق په پړاو کې دی، چې د ځینو مشخصو شاخصونو پر بنسټ د بندیانو طبقه بندي او ساتنې چارې تنظیموي. دا هم د بشري حقونو د تامین او د بندیانو د اصلاح او بیا ښوونې په برخه کې خورا مهمه چاره ده.
- د محابسو ادارې تل محابسو ته د یوناما د دفتر د استازو په ګډون د ملي او نړیوالو بنسټونو د لاسرسي زمینه برابره کړې او د هغوی موندنې یې د بندیانو لپاره د چوپړتیاوو د وړاندې کولو او ښه کولو په برخه کې ګټورې بللې دي. همدارنګه د یوناما محترم دفتر راپور هم په دې برخه کې د دې ادارې د همکارۍ ستاینه کړې.
- سره له دې چې د ځینو ولایتونو په محابسو کې روغتیایي خدمتونه په لومړنۍ بڼه شتون لري، بندیان روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی لري، که چېرې د محبس په روغتیایي مرکز کې د بندیانو درملنه ممکنه نه وي، د محبس اړوند روغتیایي مسوولین یاد بندي د محبس نه بهر دولتي او یا خصوصي مراکزو ته راجع کوي.
- د امیرالمؤمنین حفظه الله د بندیانو د نظام د سمون اړوند طرزالعمل د ۱۴۴۳/۶/۱۴ نیټې، فرمان (۱۷۵،ګڼه ۱) له مخې چې دې ادارې ته استول شوی وو، تطبیقي پلان یې ترتیب او ټولو مرکزي او ولایتي واحدونو ته خپور شوی دی، او همدارنګه د امیرالمؤمنین حفظه الله د عالیقدر مقام د (۲۹) د ۱۴۴۳/۸/۱۲ نیټې فرمان له مخې، د کشف صلاحیت او شکنجې مخنیوی په اړه تسجیل شوی.

د محبس اداره ځان مکلف ګڼي چې د بندیانو حقونه په ښه توګه تامین کړي. دغه راز دا اداره د یوناما له دفتر سره د نږدې او لازیاتې همکارۍ غوښتونکې ده او د دغې ادارې مهم رول او موقف په پام کې نیولو سره، د دغه دفتر او نورو مرستندویه بنسټونو څخه، دی ادارې سره د بندیانو اړوند مرستو غوښتونکې ده.

### د ۱.۱.۱. د کورنیو چارو وزارت فعالیتونو او نظر څرګندونه:

د بندیانو د فزیکي ځورونې د منع په اړه د امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۵۲۱ حکم او ۲۹ ګڼه فرمان او د کورنیو چارو وزارت له خوا د بندیانو سره د امنیه قوماندانۍ او امنیتي حوزو مسوولینو د چلند او فعالیتونو چمتو شوی طرزالعمل، د مرکز په ګډون د ټولو ولایتونو امنیه قوماندانۍ ته استول شوي دي.

د پولیسو ټول چارواکي د یاد شوي فرمان او طرزالعمل پلي کولو ته ژمن دي. د کورنیو چارو وزارت په جوړښت کې قومندانیو، د ولایتونو امنیتي حوزو او د ولسوالیو د امنیه قوماندانیو لپاره یو طرزالعمل جوړ او خپور شوی ده، چې د یادو واحدونو فعالیتونه، ورتیاوې، طریقې او مسوولیتونه چارواکو ته روښانه کوي، او د هغې په رڼا کې هیڅ شخص اجازه نه لري چې له محکمې پرته یو چا ته سزا ورکړي. له لومړنیو څېړنو وروسته به د تورنو کسانو دوسیې ترتیب او محکمې ته لېږل کیږي. د پولیسو د حقوقو د عمومي ریاست اړوند د بشري حقونو ریاست د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې فعال او خپلو دندو ته ژمن دی او په دوامداره توګه نظارت خونو او توقیف خونو تعقیب، څارنه او څېړنه ترسره کوي. همدارنګه اړوندو چارواکو د ناوړه استفادې څخه مخنیوی دپاره له مرکز څخه یو څارونکی پلاوی استول کیږی.

د افغانستان د اسلامي امارت له فتحې او بري وروسته د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د حقوقو عمومي ریاست اړوند د بشري حقونو ریاست د مرکز او ولایتونو په کچه ۱۶ څارونکې ټیمونه استولي چې له ۶۰ بیلابیلو قطعاتو او جزو او تامونو څخه یې لیدنه کړې. د دی په څنګ کی د بشر حقونو آمرین ورسپارل شوې چارې په پرله پسې ډول په ولایتونو او قطعاتو کې ترسره کوي. د امیرالمؤمنین حفظه الله د ۲۹ ګڼې فرمان د ښه تطبیق په موخه د کورنیو چارو وزارت په مرکز او ولایتونو کې پر یو طرزالعمل کار کوي تر څو وکولای شی د جسمی ځورونې او شکنجې مخنیوي وکړي.

د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د حقوقو عمومي ریاست اړوند د بشري حقونو ریاست له بشري حقونو څخه د سرغړونو ۲۱ قضیې کشف او د څېړلو په موخه یې کشفي ادارو ته سپارلې.

همدارنګه د پولیسو د عمومي ریاست د بشري حقونو ریاست د شکنجې د مخنیوي په موخه «د پولیسو د چلند اصول» تر سرلیک لاندې یو ورځني سیمینارونه جوړ کړي.

### تقنیني اقدامات:

د تقنیني اسنادو په اړه د امیرالمؤمنین حفظه الله ۹ فرمان چې د ۱۴۴۴ کال د ذوالقعده په ۲ نیټه په ۱۴۳۲ شمیره رسمي جریده کې خپور شو، د تقنیني اسنادو د پراوونو د څرنګوالي په اړه وزارتونه او امارتی اداري مکلفوي چې خپل تقنینی اسنادو لومړنۍ مسوده د علماوو، متخصصینو او مسلکي کارکوونکو باندی تسوید او هغه مواد چې دیني اړخ لري، فقهي ماخذونه یې د حنفي فقهې له کتابونو څخه وپلټي او تخریج شي او وروسته یې د شرعي څېړنې، تدقیق او کره کتنې لپاره عدلیې وزارت ته ولیږي. د عدلیې وزارت د یاد سند مسوده له تدقیق او ارزونې وروسته، کره کتنې او ټولو لازمو تصحیحاتو دپاره د تقنیني سندونو بیاکتنې خپلواک کمیسیون ته لیږي. یاد کمیسیون د تقنیني سندونو مسوده د توشیح لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حضور ته وړاندې کوي. لکه څنګه چې تاسو ښه پوهیږئ، د قوانینو د پراوونو پروسې وخت نیسي او ډیرو څېړنو ته اړتیا لري، ترڅو د قانوني سند په توګه پلی شي.

د توقیف لاندې اشخاصو سره د سلوک او د بشر د حقونو د رعایت په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله یو شمېر فرمانونه د ۱۴٤٤ کال په ۱٤۳۲ ګڼه رسمي جریده کښې خپاره شوي دي چې په لاندی ډول ذکر کیږي:

- د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله، ۱۴۳۸/۸/۱۰ نېټې، ۴۹/ج ۲ ګڼه فرمان، له درې ګونو محکمو وروسته د حدودو او قصاص په تطبیق کې د مشرتابه د اجازې اخیستل.
- د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله، ۱۴۴۱/۳/۷ نېټې، ۸/ج ۵ ګڼه فرمان، د کشف الحال لپاره د متهمینو د بندي کولو د صلاحیت او بند موده.
- د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله، ۱۴۴۱/۳/۷ نېټې، ۹/ج ۵ ګڼه فرمان، د بندیانو سره ښه سلوک کول.
- د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله، ۱۴۴۲/۳/۱۶ نېټې، ۶۵/ج ۶ ګڼه فرمان، د محاکمو د فیصلې پرته د سزا ورکولو او بیا یې عکاسي کولو مخنیوئ.
- د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله، ۱۴۴۴/۶/۹ نېټې، ۱۸۲۰ ګڼه فرمان، په محکمو کې د دوسیو څېړل.
- د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله، ۱۴۴۳/۸/۱۲ نېټې، ۲۹ ګڼه فرمان، د کشف الحال لپاره د متهمینو د بندي کولو د صلاحیت او بند موده.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت د مدافع وکیلانو طرزالعمل تصویب او نافذ کړ چې له مخې یې توقیفیان یا د هغوی قانوني استازي کولای شي د خپلو دوسیو پرمخ بیولو لپاره مدافع وکیل ته لاسرسی ولري. سربېره پر دی د حقوقي مساعدینو ریاست د عدلیې وزارت په چوکاټ کې دکاري طرزالعمل سره سم، اړمنو او بې وسو اشخاصو ته د کشف، څېړنې او محاکمې په پړاوونو کې وړیا خدمات وړاندي کوي.

د عدلیې وزارت د توقیف لاندې کسانو ته د حقوقي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د اسلامي شریعت د احکامو، د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله له فرمانونو او د افغانستان د اسلامي امارت د پالیسی په رڼا کې عمل کوي او خپل حقوق خدمات د مدافع وکیلانو، حقوق مساعدینو او نورو ذیربطو ادارو په مرسته وړاندي کوي.

### د I.I.I. د استخباراتو د عمومي ریاست د نظر څرګندونه او کاري طریقه:

- د راپور د مسودې له مخې، په اکثرو مواردو کې د یوناما د دفتر له خوا یاد شوي ارقام له واقعیت سره په تضاد کې دي (د بېلګې په توګه د مسودې په متن کې ۴۰ سلنه بندیان چې د څېړنې بهیر یې بشپړ شوی پرته د اړیکې، او ۲۵ سلنه خبریالان او د مدني ټولنې فعالان ښودل شوي، دا په بشپړ ډول نیمګړی او ریښتیا نه دي). د حقیقي احصائیو او ارقامو د تثبیت دپاره، وړاندیز کیږي چې د یوناما دفتر خپل مسایل او اړتیاوې د دې ادارې د بشري حقونو له ریاست سره له نږدې شریکې کړي، ترڅو لازمه همکاري وشي او د ناسم پوهاوي مخه ونیول شي.
- په پورتني راپور کې داسې انګیرل شوی چې په استخباراتي ادارې کې د شکنجې عمل په قصدي توګه او له بندیانو څخه د اعتراف د ترلاسه کولو په توګه کارول شوی، په داسې حال کې چې د استخباراتو ادارې د کاري اصولو له مخې، پورته ذکر شوی عمل منع دی او بندیانو د شکنجې په ټولو مواردو کې سرغړونکو سره جدي او اصولي چلند شوی دی.
- د راپور په متن کې درج شوو وړاندیزونو په اړه، د بندیانو د حقونو د اجرا په برخه کې لکه کورنی غړو سره ملاقات او هغوی سره تیلیفونی اړیکه نیول. لکه څنګه چې مخکې هم یادونه شوې د استخباراتو د ادارې د پالیسي له مخې، هر بندی ته د هغوی د کورنۍ غړو سره د ملاقات او ټیلیفون کولو اجازه ورکول کیږی او هیڅ ډول خنډ شتون نلري. البته، که د یوناما محترم دفتر د سرغړونې کومه قضیه ترلاسه کړې وي، د استخباراتو د ادارې سره دی شریکه کړي تر څو رسیدګی ورته وکړي.
- د هغو بندیانو د ساتلو په اړه چې د جرم تور وربانډی ثابت نه وي او پرته له کوم معقول دلیل څخه نیول شوي او توقیف شوي وي، په پخوانیو راپورونو کې هم تذکر ورکړل شوی چې یو باصلاحیته کمیسیون په دوامداره توګه د بندیانو د دوسیو د څېړنې په برخه کې کار کوي او د ډېرو بندیانو دوسیې څېړل شوی دي.

- د راپور په متن کې درج شوو ورانديزونو کې د توقيف قانونيت او تداوم په اړه د بنديانو د اعتراض حق څخه يادونه شوی، په دې برخه کې هيڅ ډول خنډ نشته او اکثرو بنديانو شکايتونه د استخباراتو ارګان د بشري حقونو اداري د ناظرينو له خوا ثبت او څېړل کيږي.
- د بنديانو د اساسي حقونو په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو په برخه کې د بشري حقونو د ادارې ناظرين دنده لري چې د توقيف خونو مسوولينو او بنديانو ته د هغوی د اساسي حقونو په اړه لازم معلومات ورکړي.
- د ۱.۱.۱. د استخباراتو عمومي رياست اړوند د بشري حقونو رياست د يوې کنترول کوونکې ادارې په توګه د استخباراتو د ادارې په توقيف ځايونو کې د بنديانو د وضعيت د کنټرول دپاره توظيف ده، او د بنديانو وضعيت څخه د څارنې، د شکنجې د قضيو او له حقوق مواردو څخه د سرغړونو د څېړلو بشپړ صلاحيت لري. د تخلف په صورت کې د قضيو د څېړلو وروسته متخلفينو سره د استخباراتو د عمومي رياست د مشرتابه د احکامو سره سم به قانوني چلند وشي او مجازات به شي.

پای

## په افغانستان کې له بنديانو سره د چلند په اړه د يوناما د بشري حقونو د څانګې د راپور مسودې ته د افغانستان د اسلامي امارت د *برحاله* ستري محکمې ځواب

د هر څه څخه مخکې په چارو کې درته بريا غواړو او هيله لرو دا ليک په ښه وخت کې ترلاسه کړئ.

د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو (UNAMA) ځينې هڅې ستائې لکه څنګه چې په جريان کې ياست تيره اونۍ مو غونډه ترسره کړه، چې د غونډې له اجنډا څخه د افغان بنديانو وضعيت او له هغوی سره په زندان کې د چلند په اړه وو، تاسو د افغان بنديانو په اړه يو راپور چمتو کړی چې ياد راپور له موږ سره هم شريک کړی شو، څنګه چې راپور بشپړ ولوستل شو ځينې موارد يې له واقعيته ليرې دي، لکه په زندانونو کې د بنديانو شکنجه او د شکنجې له امله د هغوی وژل او يا هم د تير جمهو ريت د پوليسو او نورو کارمندانو وژل، ځکه د اسلامي اصولو په اساس دا يو خلاف کار دی او هيڅ کوم بندي د محکمې له حکم پرته زندان ته نه اچول کيږي او نه هغه تعذيب او وژل کيږي، د اسلامي امارت ټولې ادارې شرعي اصولو ته پابند دي او د بنديانو حقوقو ته پوره ژمن دي، د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې لخوا بيلابيل پلاوي د بنديانو د وضعيت څارنې لپاره ټاکل شوي چې د ياد پلاوي سريېره په اونۍ کې يو ځل بنديان سره د دوسيو خپلې اړوندې محکمې ته غوښتل کيږي او همدارنګه د سترې محکمې مقام په هدايت د تفتيش هيئت ولاياتو ته وخت په وخت سفرونه کوي او د سفر په مهال د بنديانو وضعيت له نږدې څارې. د بنديانو شکنجې او د محکمې له پريکړې پرته څوک نيول او داسې نور موارد چې ورته په راپور کې اشاره شوې د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه يې ردوي.

هيله ده په راتلونکې کې مخکې له راپور چمتوکولو حتما له موږ سره د راپور د صحيح بشپړيدو په اړه معلومات شريک کړئ، ترڅو راپور په واقعيت سمبال او د افغانستان د خلکو د قناعت وړ وګرځي.

پای